د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# اسلامي آداب او اخلاق

## اتم ټولګی

## (د دیني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

اسلامي آداب او اخلاق - اتم ټولګی - د دیني مدارسو لپاره

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوريت
د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست

# اسلامي آداب او اخلاق

## اتم ټولګی

(د ديني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ ش.

**مؤلفان:**

- دکتور عبدالصبور فخري
- محمد ابراهیم رباني

**علمي ایډیټ**

- دکتور فضل الهادي وزین
- رقیب الله ابراهیمي

**د ژبې ایډیټ**

- محمد قاسم هیله من

**دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه**

- دکتور شیر علي ظریفي
- سعیدالرحمن حامد

**إشراف**

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی | دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې | هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی | د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو | د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، گوجر دي | پاميريان، نورستانيان

براهوي دي، قزلباش دي | هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي | لکه لمر پر شنه اسمان

په سینه کې د اسیا به | لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر | وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هېواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د وړاندې کولو د لارو چارو له مخې بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارفو او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هېواد افغانستان د علمي ځلاند تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لاښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده‌کوونکو!

علماوو د اسلام د مبارک دين لارښوونې، په دريو برخو وېشلې دي: عقايد، احکام او اخلاق، د عقايدو علم د خالق – جل جلاله – او مخلوق په هکله باوروونه سموي، د احکامو علم د وګړو کړنې او ويناوې تنظيموي او د اخلاقو علم د انسانانو خويونه د کمال په لور لوروي.

څرنګه چې د اخلاقو علم د بشري ټولنې د وګړو له معنوي اوصافو سره تړاو لري، د مطلوبو معنوي ورتياوو له رامنځ ته کولو او د ناوړه خويونو له محوه کولو څخه بحث کوي، له همدې کبله د ټولنې هراړخيز پرمختګ او نېکمرغي تر ډېره بريده د ټولنې په وګړو کې د اخلاقي ارزښتونو په څرنګوالي پورې اړه لري.

د انسان اغېزمنتوب او وړتيا د ده د معنوي خويونو په ګرو کې ده، نو ځکه ښه اخلاق د اسلام له نظره د انسان د غوره والي او ارزښت معيار ګڼل شوي دي, رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي: (إن من خياركم أحاسنكم أخلاقاً)[1] بې شکه په تاسو کې غوره خلک، د ښو اخلاقو خاوندان دي.

دا زموږ ښکاره اړتيا ده تر څو په ټولنه کې اخلاقي فضايل او ارزښتونه دود او پراخه شي او د قرآن کريم، نبوي سنتو، د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) د سيرت په لارښوونه او د اسلامي علماوو له ويناوو او کړنو څخه په ځان خبرولو، د ديني مدارسو زده‌کوونکي د اخلاقو په علم سمبال شي، پخپله هم عمل پرې وکړي او دا روښانه څراغ د هېواد هر ګوټ او هر کور ته ورسوي، تر څو زموږ د ټولنې، کورنۍ او وګړو رنځونه او ټپونه پرې درمل شي.

نو د اخلاقو د علم د دومره لوړ مقام او ستر ارزښت له کبله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د ښوونيز نصاب اداري، د مدارسو په نصاب کې د اخلاقو مضمون په دوو ټولګيو (٧- ٨) کې مقرر کړ او د دې کتابونو مفردات يې داسې وضع کړل، چې د اسلامي اخلاقو عمده موضوعات د لومړيتوب او منطقي تسلسل د اصولو پر بنسټ د زده‌کوونکو استعدادونو ته په پاملرنې سره پکې ځای پر ځای شوي دي.

د تأليف په وخت د مطالبو بيان په آسانه او اغېزمنه توګه په نظر کې نيول شوي دي، چې د الله تعالی په توفيق به د دې کتاب لوستل نه يوازې د مدارسو د زده‌کوونکو لپاره، بلکې د ټولو لوستونکو لپاره ګټور او د عمل وړ وي او د هغوی په شخصيت او ظرفيت کې به مثبت او اغېزمن بدلون راولي.

و ما ذلك على الله بعزيز.

---

[1]- صحيح بخاری، د حديث شمېره: ٥٦٨٨.

# لړلیک


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ١ | اخلاص | ١ |
| ٢ | احسان (ښېګڼه) | ٥ |
| ٣ | عدالت | ٩ |
| ٤ | نرمي کول | ١٣ |
| ٥ | صبر | ١٧ |
| ٦ | په طاعت صبر کول | ٢١ |
| ٧ | له ګناهونو څخه صبر | ٢٥ |
| ٨ | په مصیبتونو صبر | ٢٧ |
| ٩ | حیا | ٣١ |
| ١٠ | د حیا ډولونه | ٣٥ |
| ١١ | تواضع | ٣٩ |
| ١٢ | د تواضع نښې | ٤٣ |
| ١٣ | استقامت | ٤٧ |
| ١٤ | غښتلتیا (قوت) | ٥١ |
| ١٥ | د توانمندۍ ډولونه | ٥٥ |
| ١٦ | غیرت | ٥٩ |
| ١٧ | عفوه | ٦٣ |
| ١٨ | په ژمنه وفا | ٦٧ |
| ١٩ | ایثار (ځان تېرېدنه) | ٧١ |
| ٢٠ | ورع یا پرهیزګاري | ٧٥ |
| ٢١ | له وخت څخه ګټه اخیستل | ٧٩ |
| ٢٢ | د ژبې ساتنه | ٨٣ |
| ٢٣ | کتمان (راز ساتل) | ٨٧ |
| ٢٤ | تأني (بیړه نه کول) | ٩٣ |
| ٢٥ | مرسته کول | ٩٧ |
| ٢٦ | حکمت | ١٠١ |
| ٢٧ | شکر | ١٠٥ |
| ٢٨ | قناعت | ١٠٩ |
| ٢٩ | عفت | ١١٣ |
| ٣٠ | په نېکیو امر او له بدیو منع کول | ١١٧ |
| ٣١ | هیله او امید | ١٢٢ |

# اخلاص

ګرانو زده‌کوونکو! په اووم ټولګي کې مو د اخلاقو له مضمون څخه ډېر څه زده کړل، د اخلاقو تعریف، ارکان او ډولونه مو يې وپیژندل، په ټولنيز ژوند کې د نیکو او بدو اخلاقو په اغېز وپوهېدو، همدارنګه ډېر هغه عادتونه او صفتونه چې د غوره اخلاقو او مکارمو څخه شمېرل کيږي لکه: حلم، بردباري، صله رحمي، رښتیا ویل، امانتداري، ترحم او سخاوت مو وپیژندل، اوس په دې ټولګي کې هماغه لاړ تعقیبوو او نور غوره اخلاق زده‌کوو. الله دې موږ ته د دې درسونو د زده کولو او د عمل کولو توفيق را په برخه کړي.

اخلاص د هر عمل سا او د بریالیتوب کلی ده. نیک نیت او د زړه سپېڅلتیا پکې شامله ده، د ریښتیني ایمان او له نفاق څخه د پاک عمل بېلګه ده.

اخلاص د سترو اخلاقو له جملې څخه دی چې له مسلمان سره د ژوند په اوږدو کې باید ملګری اوسي تر څو په دنیا او آخرت کې نېکمرغه شي.

نو باید وپوهیږو چې اخلاص څه ته وايي؟ څه بهتري لري؟ نښې او بیلګې يې کومې دي؟

## د اخلاص تعریف:

اخلاص چې د اَخْلص يُخْلص د باب مصدر او د خلص له مادي څخه جوړ دی، په لغت کې پاکی او سپېڅلتیا ته ویل کيږي.

په اصطلاح کې: د یوه الله لپاره د عبادت ځانګړي کولو ته اخلاص وايي.

نو د اخلاص معنی دا ده چې انسان په خپله کړنه کې د الله تعالی خوښي په پام کې ونیسي او یواځې له هغه څخه د خپلې کړنې ثواب وغواړي.

د اخلاص عکس ریاء ده، چې انسان په خپل عبادت کولو سره په خلکو کې شهرت او دنیوي (له مینځه تلونکې) ګټې په پام کې ولري. د اسلام مبارک دین ریا منعه کړې او د اخلاص لرلو امر يې کړی دی.

## په قرآن کريم کې د اخلاص یادونه:

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ

﴿وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾ [سورت البينة: ۵]

ژباړه: هغوی ته حکم نه و شوی، مگر دا چې د الله عبادت وکړي، خپل دین د هغه لپاره خالص او د حق پر لاره روان شي. لمونځ اداکړي او زکات ورکړي او دغه مضبوط دین دی.

په بل ځای کې فرمايي: ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا (١٤٥) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ [سورت النساء، ١٤٥- ١٤٦]

ژباړه: پرته له شکه به منافقان د دوزخ په ټيټه طبقه کې وي او هېڅکله به و نه مومې دوی لره ملاتړ، مگر هغو کسانو لره چې د نفاق له ستړې گناه څخه يې توبه کړې وي. خپلې بد اخلاقۍ يې اصلاح کړې وي، د الله تعالی د هدايت لمن يې نيولې وي او خپل عبادت يې يوازې الله تعالی ته ځانگړی کړی وي، نو دغه خلک به د مؤمنانو په ډله کې وي او ژر دی چې الله تعالی مؤمنانو ته لوی اجر ورکړي.

## په نيت کې اخلاص:

پيغمبر ﷺ فرمايي: (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وإنما لكل امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ و رَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يتزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ)[١]

ژباړه: د انسان هر عمل له نيت سره تړاو لري، هر څوک د خپل نيت پايلې ته رسيږي. که د چا هجرت د الله او د الله د رسول لپاره وي، نو د الله او د الله د رسول لور ته د هجرت کولو ثواب به ترلاسه کړي. که هجرت يې د دنيوي گټو لپاره وي، نو ترلاسه به يې کړي او يا يې هجرت له کومې ښځې سره د نکاح کولو په مقصد وي، نو په نکاح به يې کړي، نو هجرت به يې د هماغه شي لپاره وي چې هجرت يې ور له کړی وي.

همدارنگه پيغمبر ﷺ فرمايي: (إِنَّ اللَّهَ لاَ ينظُرُ إِلَى أَجْسَامِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ ينظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأعمَالِكُمْ).[٢]

ژباړه: الله تعالی ستاسو بدنونو او شکلونو ته نه گوري، بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته گوري.

## اخلاص په هر عمل کې ضروري دی:

پر مسلمان واجب دي چې په خپل هر عمل کې اخلاص ولري، تر څو الله تعالی ته د منلو وړ

---

١- متفق عليه
٢- مسلم

وګرځي، څکه چې الله تعالی د خپل بنده هغه عمل قبلوي چې یوازې د هغه د رضا لاسته راوړلو لپاره یې سرته رسولی وي، لکه څنګه چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: (إِنَّ اللهَ لَايَقبَلُ مَنَ العَمَلِ إلّاَ مَا كَانَ لَهُ خَالِصاً وَ ابتَغَى بِهِ وَجهَهُ).[1]

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی ته هغه عمل د منلو وړ دی چې یواځې دده لپاره سرته رسېدلی وي او د دده رضایت په کې مطلوب وي.

## په کار کې ریا او شرک:

ریا څه شی دی؟: ریا دې ته ویل کېږي چې سړی د خپلو نېکو اعمالو په بدله کې اخروي اجر نه غواړي. بلکې مطلب یې د دنیوي ګټې تر لاسه کول وي، په دې ډول چې ریاکار انسان د خلکو په مخ کې د ښه کار په کولو کې نشیط او لېوال وي، ولې په یوازیتوب کې بې مینې او تنبل، که خلک یې وستایي نو لا ډېر زیار باسي، خو که څوک وربانديې نیوکه وکړي او یا یې ونه ستایي، بیا یې کار خورا سوړ او پر تپه درېدلو سره مخ شي.

حضرت ابو هریرهرضي الله عنه وایي: له پیغمبرﷺ څخه مې واورېدل چې ویې فرمایل: تر ټولو لومړی ځوک چې د قیامت په ورځ وربانديې حکم کېږي شهید دی! شهید به راوستل شي، الله تعالی به ورته د خپلو ټولو نعمتونو یادونه وکړي او دی به یې تصدیق کړي. ورته به ووایي ددغو نعمتونو په مقابل کې دې څه وکړل؟ دی به ووایي: ستا په لارکې مې جهاد کولو تر څو چې شهید شوم، ورته به وویل شي: دروغ وایې: جهاد دې ددې لپاره کولو چې خلك درته زړور، اتل، بهادر ووایې، دا درته وویل شو. امر به وشي او پړمخې به په دوزخ کې واچول شي.

دویم عالم دی! هغه ځوک چې علم یې کړی وي او خلکو ته یې ښوولی هم وي، را به وستل شي او الله تعالی به ورته د خپلو نعمتونو یادونه وکړي او دی به یې تصدیق کړي. ورته و به وایي چې ددغو نعمتونو په بدل کې دې څه وکړل؟ دی به ووایې: علم مې زده کړ او خلکو ته مې هم ښود، ورته به وویل شي: دروغ دې وویل: علم دې زده کړ ترڅو درته وویل شي چې ډېر لوی عالم دی او درته وویل شو، امر به وشي او پړمخې به په دوزخ کې واچول شي.

دریم شتمن دی: دا هغه ځوک دی چې الله تعالی ورته پراخه روزي او ډېره شتمني ورکړې وي. را به وستل شي. الله تعالی به ورته د خپلو ټولو نعمتونو یادونه وکړي او دی به یې تصدیق کړي.

---

۱- فتح الباری

ورته به ووايي چې ددې نعمتونو په بدل کې دې څه وکړل؟ دی به ووايي چې داسې لاره مې پرې نه ښوده چې تا ته خوښه وي خو دا چې په هغې لارې کې مې مصرف وکړ. ورته به وویل شي: دروغ دې وويل، دا دې وکړل چې جواد او سخي درته وويل شي او درته وويل شو، امر به وشي او پړمخې به دوزخ ته واچول شي.»[1]

## د اخلاص گټې:

۱- اخلاص، الله تعالی ته د انسان د اعمالو او ويناوو د قبلېدو معيار دی.

۲- د الله تعالی خوښي په اخلاص موندل کېدای شي.

۳- په اخلاص سره د انسان مرتبه لوړېږي.

٤- اخلاص په زړه کې ډاډ پيدا کوي او انسان د نېکمرغی احساس کوي.

٥- اخلاصمن د صدق او احسان مقام ته رسېږي.

٦- که څوک د اخلاص پر ځای ريا او ځان ښودنې ته مخه کړي، راتلونکې به يې ډېره ناوړه وي.

## ارزونه:

۱- اخلاص د لغت او اصطلاح له مخې تعريف کړئ؟

۲- الله تعالی په دې آيت کې ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾[البينة: ٥] له مسلمانانو څخه څه غوښتلي دي؟

۳- ولې شهيد، عالم، او د قرآن حافظ او سخي د قيامت په ورځ جهنم ته راښکل کېږي؟

٤- په نيت کې د اخلاص لپاره يوه بېلگه له قرآن او احاديثو څخه راوړئ

٥- ريا څه شی دی او له اخلاص سره څه توپير لري؟

٦- الله تعالی ځينې اعمال چې ظاهراً خير ښکي هم وي ولې نه قبلوي؟.

### کورنۍ دنده

د اخلاص په اړه يوه مقاله وليکئ چې پر قرآني دلايلو سربېره ځينې ريښتينې کيسې هم په کې وي.

---

۱- مسلم، نسائي و ترمذي

# احسان (ښېګڼه)

یو ځل حضرت عبدالله بن عمر ﷛ د یو مریي ترڅنګ چې د خپل بادار څاروي یې څرول، تېرېده. غوښتل یې چې مریي وازمایي. ورته ویې ویل: غواړم یو پسه واخلم، مریي ورته وویل: دا زما د بادار دي، عبدالله بن عمر ﷛ وایي: زه او ته په داسې ځای کې یو چې بادار دې موږ نهویني، یو پسه را باندې وپلوره او بادار ته دې وو‌ایه چې لېوه وخوړ. غلام د الله تعالی په یاد کې شو، په لوړ آواز یې وویل: که بادار مې نشته، نو الله تعالی خو شته، حضرت عبدالله بن عمر ﷛ ډېر خوشحاله شو، او بیایې دغه غلام واخیست او آزاد یې کړ.

احسان څه دی؟ د اثبات دلایل یې څه دي؟ د انسان په ژوند کې څه اغیز لري او په کوم ځای کې باید احسان وشي؟

## د احسان تعریف او دلیل:

احسان په لغت کې: په پوره ایمانداری سره د ښو کارونو کولو ته وایي.

## په اصطلاح کې:

احسان د الله تعالی په داسې ډول عبادت کولو ته ویل کېږي چې ګویا الله تعالی وینې که څه هم ته یې نه وینې، ولې باید یقین ولرې چې هغه تا ویني.

په یو روایت کې راغلي چې جبریل علیه السلام له پیغمبر ﷺ څخه د احسان په اړه پوښتنه وکړ. پیغمبر ﷺ یې په ځواب کې وفرمایل: (الإِحْسَانُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ)[١].

ژباړه: احسان دا دی چې د الله عبادت وکړې، په داسې ډول چې ګویا ته الله تعالی وینې. که څه هم ته الله تعالی نه وینې، خو الله تعالی تا ویني.

د احسان کلمه له خپلو ټولو مشتقاتو سره (١٩٥) ځایه په قرآن کې کارول شوې، چې دا یې په اسلام کې د اهمیت لرلو ستر دلیل دی. الله تعالی فرمایلي دي:﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ﴾[النحل:٩٠]

ژباړه: الله تعالی پر عدالت او احسان امر کوي.

همدا راز نبوي احادیث پر دې ګواه دي چې احسان باید د روح په شان د مسلمان په ټولو کارونو کې شتون ولري، له همدې کبله پیغمبر ﷺ فرمایي: الله تعالی د هر شي په حق کې احسان واجب ګرځولی دي، کله مو چې څوک قصاص کولو، نو په ښې طریقې یې قصاص کړئ او چې حیوان مو حلالولو، په نیکې (ښې) طریقې سره یې حلال کړئ. باید چې چاړه تیره کړئ او خپله ذبیحه پرېږدئ چې په کراره یې ساه ووځي.

احسان چې د رضا او محبت له مخې هر ښه او غوره کار ته شامل دی، نو له امله یې باید زموږ ټول کارونه له احسان څخه سرچینه واخلي.

---

١- بخاري

## د احسان ډولونه:

۱- په عبادت کې احسان: په عبادتونو کې احسان دا دی چې هر عبادت د هغه د شرطونو، ارکانو، سنتونو او آدابو په پوره کولو تر سره شي او مؤمن قوي عقیده ولري چې الله تعالی یې څارونکی دی او داسې وانګیري چې الله تعالی ویني.

۲- په معاملو کې احسان: په معاملو کې دا دی چې انسان د ژوند په اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او نورو ټولو چارو کې چې د اسلام او انساني ټولنې لپاره ګټورې وي، له ښیګڼې کار واخلي.

## د احسان د پلي کولو ځایونه:

احسان د مسلمان په هر کار کې مطلوب دی، لکه چې پیغمبر ﷺ فرمایي: الله تعالی احسان پر هر شي باندې فرض کړی دی.

که څه هم الله تعالی د احسان په پام کې نیول په هر شي کې ضرور ګرځولی، خو په ځینو ځایونو کې خورا مهم ګڼل کیږي، لکه:

### ۱ـ له الله تعالی سره احسان:

له الله تعالی سره احسان دا دی چې بنده د الله تعالی شتون په هره شیبه او هر حالت کې احساس کړي. په ځانګړې ډول د عبادت پر مهال په داسې ډول چې ګواکي الله تعالی ویني.

### ۲ـ له خپل نفس سره احسان:

له خپل نفس سره د مسلمان احسان کول دا دي چې له حرامو یې وژغوري او داسې کار ونه کړي چې د الله تعالی رضا پکې نه وي. په خپل دغه کار ځان تزکیه کوي او په دنیا کې له ستونزو او په آخرت کې له عذاب او بدبختۍ څخه پرې خلاصون مومي.

### ۳ـ په خبرو کې احسان:

څرنګه چې په خبرو کولو کې احسان یو مطلوب کار دی، یو مسلمان هم بې له نیکۍ څخه په بل شي ژبه ونه څرخوي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً﴾[بقرة: ۸۳] ژباړه: خلکو ته ښې خبرې کوئ.

### ۴ـ په کار کې احسان:

مسلمان خپل هر کار له احسان سره سرته رسوي، تر څو الله تعالی ته د منلو وړ وګرځي او ثواب ورباندې ورکړي. پیغمبر ﷺ فرمایي: (إِنَّ اللهَ يُحِبُّ إِذَا عَمِلَ أَحَدُكُم عَمَلاً أَن يتقِنَهُ)[۱].

ژباړه: الله تعالی دوست ګڼي چې که له تاسې څخه څوک کار کوي، نو چې په ښه غور سره یې وکړي.

---

۱- البیهقي

## ۵ـ له مور او پلار سره احسان:

انسان بايد تل له مور او پلار سره ښېګڼه وکړي. امر يې پرځای کړي، د حقوقو خيال يې وساتي او هېڅکله ورسره ناوړه چلن و نه کړي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ [الإسراء: ٢٣]

ژباړه: (ای انسان) پروردګار حکم کړی چې پرته له هغه د بل چا عبادت مه کوئ، له خپل مور او پلار سره ښيګڼه وکړئ.

## ۶ـ له مېرمنې سره ښېګڼه:

اسلام له ښځې سره پر ښيګڼه، د هغې د ټولو حقوقو پر اداء او له هغې سره پر ښه ژوند کولو امر کړی دی. الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾. ژباړه: له خپلو مېرمنو سره ښه ژوند وکړئ. همدارنګه پيغمبر ﷺ فرمايي: (اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ عِنْدَكُمْ عَوَانٍ)[١].

ژباړه: تاسو ته له ښځو سره په ښيګڼې کولو سپارښت کوم، ځکه چې دوی له تاسو سره امانت دي؟.

## ۷ـ له دوستانو سره احسان:

انسان ته په کار دي چې په خپلو ټولو دوستانو شفقت ولري، په ځانګړي ډول خپلو ورونو، د کورنۍ پر نورو غړو او د مور او پلار له دوستانو سره ښه چلند وکړي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً﴾[النساء: ١]

ژباړه: له هغه الله تعالی څخه ووېرېږئ چې يو له بل نه غواړئ د هغه په نوم ووېرېږئ چې د خپلوۍ اړيکې غوڅې کړئ، ځکه چې الله تعالی پر تاسو څارونکی دي (ستاسو هيڅ کړه او وړه له هغه څخه پټ نه دي).

## ۸ـ پر مزدورانو احسان:

پر مزدور احسان کول دا دی چې د خولو له وچيدلو مخکې يې مزدوري ورکړئ او هم يې له وس نه پر پورته کار باندې مه مجبوروئ.

## ۹ـ له ګاونډيانو سره احسان:

مسلمانان له خپلو ګاونډيانو سره ښيګڼه کوي، اکرام يې کوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: (مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ)[٢].

ژباړه: هميشه جبريل عليه السلام راته له ګاونډي سره په ښيګڼې سپارښتنه کوله، تر دې چې ګمان مې وکړ چې ګاونډی به له ګاونډي څخه ميراث وړي.

ګاونډي ته په تکليف نه رسولو د سړي ايمان پوره کيږي، پيغمبر ﷺ فرمايي: چې څوک په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لري، نو ګاونډی دی نه آزاروي.

---

١- متفق عليه

٢-متفق عليه

**۱۰. له فقیر او مسکین سره احسان:**

مسلمان باید له فقیرانو او یتیمانانو سره احسان وکړي. خیرات ورکړي، بخیلي پرې ونه کړي، ځکه چې شتمني د الله تعالی نعمت دی، باید چې په خلکو ولګول شي. بلخوا پیغمبرﷺ پر یتیمانو د احسان پخلی کړی دی، آن چې د یتیم د پالونکي ځای یې په جنت کې له ځان سره یو ځای ښودلی دی، لکه چې فرمایي: (أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ)

ژباړه: زه او د یتیم پالونکی به په جنت کې د دغو دوو ګوتو په شان نږدې یو.

**۱۱- له عامو وګړو سره احسان:**

مسلمان باید د نورو د اړتیاوو پوره کولو ته پوره پام وکړي، ستونزې یې حل کړي، ورسره په خورا نرمه ژبه خبرې وکړي، د تواضع چلن ورسره وکړي، په نیکیو ورته امر وکړي، له بدیو څخه یې منعه کړي او که پر دوی یې حق وي، نو په نرمی یې تري وغواړي او که پر ده یې حق وي، نو باید چې په خوښۍ یې ور ادا کړي.

**۱۲. له حیواناتو سره احسان:**

پر مسلمان لازم دی چې آن له حیواناتو سره هم احسان وکړي. د لوږې پر مهال خواړه ورکړي، که ناروغ شول، درملنه دې یې وکړي، درووند یې دې نه باروي، وښو او اوبو ته دې یې پاملرنه وکړي، د ګرمۍ او یخنۍ په موسم کې دې یې خیال وساتي، چېرته چې د تللو توان نه لري، نه دې یې مجبوروي، سپاره که غواړي یو له بل سره خبرې وکړی، نو باید چې له خپلو سورلیو څخه کوز شي.

**ارزونه:**

۱. احسان په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲. د احسان ډولونه کوم دي؟

۳. له خپل ځان سره احسان څه ډول وي؟

٤. له الله تعالی سره احسان بیان کړئ.

۵. له خپلوانو سره احسان روښانه کړئ.

٦. له ګاونډي سره د احسان کولو یو دلیل ذکر کړئ.

۷. څرنګه باید له یتیمانانو او تش لاسو سره احسان وشي.

**کورنۍ دنده**

ګرانو زده‌کوونکو! په مختلفو ځایونو کې د احسان د ټولنیزو آثارو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه لږ نه وي.

# عدالت

يوه ورځ د روم د پاچا استازی مدينې منورې ته راغی، تر څو د خپل پاچا پيغام امير المؤمنين حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ته ورسوي! ګوري چې د يوې ونې لاندې په داسې حالت کې استراحت دی چې نه کوم ساتونکی لري چې خلک له ورتللو څخه منعه کړي او نه هم کوم ځانګړی د تشريفاتو ګارد، ددې صحنې له ليدلو خورا په تعجب کې شو او دا مشهوره وينا يې په خوله راغله (عدلت، فأمنت، فنمت) عدالت دې وکړ، په امان کې يې چې ډاډه ويده يې.

بايد ووايو چې عدالت څه شی دی، د وجوب دلايل يې کوم دي او په ژوند کې څه اغيزه لري؟

## د عدل تعريف:

عدل د عدَلَ ـ يعدِلُ د باب مصدر دی، په لغت کې پر سيده والي دلالت کوي او عدل د ظلم خلاف ته ويل کيږي.

په اصطلاح کې: له کمبود او زيادت پرته د بل چا د حق ورکول دي، څکه چې زياتوالی يې احسان دی او کمبود يې ظلم، يا په بل عبارت، عدل د افراط او تفريط په منځ کې عمل کول دي.

او په شرعه کې عدالت د حق پر لارې استقامت او له ديني ممنوعاتو څخه ځان ژغورلو ته ويل کيږي.

## د عدالت د ثبوت دلايل:

د حاکم او محکوم، افرادو او ډلو ترمنځ په معاملو کې عدالت کول د هر مسلمان مسؤوليت دی، الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾. [النساء، ۵۸]

ژباړه: بې له شکه الله تعالی درته امر کوي چې امانتونه مستحقو خلکو ته وسپارئ او چې کله د خلکو ترمنځ قضاوت کوئ، نو په عدالت سره به يې کوئ.(سورت نساء آيت ۵۸).

عدل هر انسان ته د هغه حق ورکول او ورڅخه د هماغه شي اخيستل دي چې ورباندې وی.

د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې پر عدالت امر شوی دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ

اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى﴾ [النحل: ۹۰]

ژباړه: الله تعالی تاسو ته پر عدالت، احسان او له دوستانو سره د مرستې پر کولو امر کوي.

## د عدالت اهمیت:

د سعادت او نېکمرغۍ لاس ته راوړنه چې بشریت ور پسې لالهاند دي له عدالت څخه عبارت دي، له همدې کبله عدالت په اسلام کې ځانګړې ځای لري. په اسلام کې داسې نظام نه تر سترګو کېږي چې عدالت پکې شتون و نه لري.

## په اسلام کې د عدالت دوې بېلګې:

۱- د مکې له فتحې وروسته یوه ښځه چې د اشرافو له کورنۍ څخه وه، په غلا ونیول شوه، د کورنۍ غړو یې د زید له زوی اسامه رضي الله عنه څخه وغوښتل، تر څو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته لاړ شي او د نومورې په اړه سپارښتنه وکړي، چې لاس یې پرې نه کړي، نو چې کله یې اسامه رضي الله عنه په اړه سپارښتنه وکړه، له ډېر قهره د رسول الله صلی الله علیه و سلم غونه بدله شوه، ورته یې وفرمایل: ایا د الله تعالی د حد په اړه سپارښتنه کوې چې قایم نه شي. په دې وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ځای ودرېدلو او خلکو ته یې وویل: هغه څه چې تېرشوې قومونه یې له بربادۍ سره مخامخ کړل دا وو چې د اشرافو له ډلې څخه به چا غلا وکړه، نو هغه به یې خوشې کولو او که به کوم بې وزلي او ناداره غلا وکړه، نو پر هغه به یې حد جاري کاوه. په الله قسم که زما لور فاطمه هم غلا وکړي، لاس به یې غوڅ کړم.

۲- یو تن چې د مصر اوسېدونکی و، حضرت عمر رضي الله عنه ته راغی او عرض یې وکړ: امیرالمؤمنین! ما د مصر د والي عمرو بن عاص له زوی څخه د آس ځغلولو سیالي وګټله، هغه زه په قمچینه ووهلم او راته یې وویل: ولې له ما څخه وړاندې شوې، زه یو اشراف زاده او د عزت خاوند یم، سم له لاسه حضرت عمر رضي الله عنه حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه ته لیک واستاوه، هغه او زوی یې دواړه راوغوښتل، کله چې دواړه حاضر شول، حضرت عمر رضي الله عنه مصری ځوان ته قمچینه ورکړه او ورته یې وویل: له دغه شریف زاده څخه دې غچ واخله.

## د عدالت د پلي کولو ځایونه:

د عدالت پلي کولو ځایونه خورا ډېر دي چې له جملې څخه یې لاندې ځایونو ته اشاره کوو.

### ۱- له ښځو سره عدالت:

مسلمانان له خپلو میرمنو سره عدالت کوي، حق یې اداء کوي، که زیاتې میرمنې ولري، په نفقې او نوبت کې به یې ترمنځ عدالت کوي.

### ۲- له اولادونو سره عدالت:

باید مسلمانان د خپلو اولادونو ترمنځ عدالت او مساوات پلی کړي، آن چې په ښکلولو کې او په تحفې ورکولو کې، یو ته پر بل ترجیح ور نه کړي، تر څو یې ترمنځ د حسد او کینې لامل ونه ګرځي، حضرت نعمان بن بشیر وایي: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: (فَاتَّقُوا الله واَعدِلُوا بَين أَولَادِكُم)

ژباړه: پیغمبر ﷺ وفرمایل: له الله وویرېږئ او د خپلو اولادونو ترمنځ عدالت کوئ.

### ۳- د رعیت ترمنځ عدالت:

الله تعالی پر مسلمان حاکم د رعیت ترمنځ عدالت کول فرض کړي دي همدارنګه حاکم باید د یوې ډلې پر لور مایل نشي او کوښښ وکړي چې حقوق یې عادلانه ورکړای شي او د هېچا ظلم ته یې پرې نږدي

### ۴- د دوو دښمني کوونکو ترمنځ عدالت:

پیغمبر ﷺ د عدالت په پلي کولو کې تر هر چا غوره مثال دی.

دوه تنه انصار پیغمبر ﷺ ته راغلل چې ترمنځ یې حکم وکړي. پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: که څوك د خپل ورور حق واخلي په حقیقت کې یې د دوزخ اور اخیستی دی، هغو دواړو وژړل او یو بل ته له خپل حق څخه تېر شول.

### ۵- په ترازو او پیمانو کې عدالت:

مسلمانان په ترازو کې عدالت کوي او د خلکو حق بشپړ ورکوي.

د هغو خلکو په څېر نه کوي چې له خلکو څخه زیات اخلي او لږ ورکوي، څکه الله تعالی د دغسې خلکو په هکله فرمایي: ﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ ۞ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ۞ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ۞ أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ ۞ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ۞ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [المطففين:۱-۶]

ژباړه: بدبختی ده، کم پلورونکو ته، هغو خلکو ته چې له خلکو څخه یې په پوره وزن او پیمانې اخلي او چې هغوی ته یې وزن او پیمانه کوي نو لږ ورکوي، آیا یقین نه لري چې هرو مرو خو به را

ژوندي شي، د عظیمې ورځې لپاره، هغه ورځ چې خلك د رب العالمین په مخ کې ودرېږي.

**فعالیت**

زده‌کوونکي دې د رعیت ترمنځ او د مېرمنو ترمنځ عدالت کولو په اړه په خپلو کې سره خبرې وکړي.

## د عدالت ګټې:

عدالت د خلکو په ژوند کې ډېرې عظیمې، ټولنیزې او فردي ګټې او آثار رامنځ ته کوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱. عدالت تر ټولو مهم اخلاقي فضیلت دی، له کبله یې د خلکو حقوق ساتلي او ترمنځ یې مساوات پلی کېږي.

۲. عدالت د حکومت کولو بنسټ د دولتونو د پایښت او د قدرت د دوام رمز دی. هر کله چې ظلم په ټولنه کې پیل شي، حقوق تر پښو لاندې کېږي، امنیت ګډوډېږي، د حاکم او محکوم ترمنځ باور له منځه ځي، په ټولو ځایو کې فتنه او فساد خورېږي.

۳. عدالت په ټولنه کې مینه، رحمت، او پیوستون منځ ته راوړي، ځکه چې د ټولنې هر غړی د خپلو حقوقو د مصؤنیت احساس کوي.

## ارزونه:

۱. د عدالت معنا څه ده؟

۲. یو آیت ولیکئ چې د عدالت د ټینګولو پر وجوب باندې دلالت کوي.

۳. د اسلام په تاریخ کې د عدالت دوې بېلګې د مثال په ډول بیان کړئ.

٤. د خلکو په ژوند کې د عدالت له ګټو څخه دوې ګټې ذکر کړئ.

٥. د عدالت د پلي کولو ځایونه کوم دي؟ د مثال په ورکولو سره یې روښانه کړئ.

**کورنۍ دنده**

د عدالت د پلي کولو د ځایونو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې په کتاب کې پر یادو شوو ځایونو سربېره په ژوند کې د عدالت د پلي کولو نورو ځایونو ته اشاره شوې وي او له یو مخ څخه لږه نه وي.

# نرمي کول

نرمي له هغو اسلامي اخلاقو څخه ده چې مسلمان يې بايد په خپلو کارونو کې مراعات کړي، له سختوالي، غاړه غړولو، فحش او چتې ويناوو څخه ځان ساتي.

د مسلمان له ځانګړتياوو څخه يوه دا ده چې: له خلکو سره په چلن کې په نرمی کولو ملتزم وي.

په دغه ځای کې پيغمبر ﷺ ښه بېلګه دی، هغه شخصيت چې پر مسلمانانو مهربان و، لکه، څنګه چې حضرت عائشې رضی الله عنها روايت کړی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله تعالی نرمي کوونکی دی او نرمي کول خوښوي، د نرمی په بدل کې دومره ثواب ورکوي چې په سخت چلن او نورو کارو يې نه ورکوي.

دغه لوست د رفق او نرمی د معنا او مفهوم د پېژندلو لپاره ځانګړي شوی دی.

### د رفق تعريف:

رفق په لغت کې د مهربانی، نرمی، لطف او ښېګڼې په معنا دی. د رفق ضد سخت چلن دی.

په اصطلاح کې: په وينا، عمل او کړنه کې له نرمی او آسانی څخه عبارت دی.

### د رفق د اثبات دلايل:

د رفق په اړه قرآني آيتونه:

١- الله تعالی په نرمی باندې د ټولو کارونو د ښايسته کولو لارښوونه کړې او له شدت او سخت چلن کولو څخه يې وېرولي يو.

الله تعالی فرمايي: ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ [الاعراف: ١٩٩]

ژباړه: تېرېدنه او آساني کوه، په نيکيو امر کوه، له ناپوهانو څخه سترګې پټوه.

۲- الله تعالی خپلو پیغمبرانو موسی او هارون علیهما السلام ته په نرمی سره د دعوت کولو سپارښتنه کړي: ﴿اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى، فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لينا لَعَلَّهُ يتذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى﴾ [طه: ٤٤،٤٣]

ژباړه: فرعون ته ولاړشئ چې سر غړاوی یې کړی دی (په کفر او سرغړاوي کې له حد څخه تېر شوی دی) په نرمۍ ورسره (د ایمان په هکله) خبرې وکړئ، کېدای شي پند واخلي(خپل غفلت او د الله تعالی عظمت ته ځیر شي)، او (د خپل کفر او سرغړاوي له پایلې او د دوزخ له عذاب څخه ووېرېږي.

## د پیغمبر ﷺ نرمي:

پیغمبر ﷺ ډېر مهربان او نرم خویه و، له اصحابو کرامو سره یې په چلن کې زموږ لپاره د نرمۍ او مهربانۍ ډېرې ښې بېلګې پرېښې دي:

د مثال په ډول:

یوه ورځ یو اعرابي، رسول الله ﷺ ته راغی، څه هدیې او تحفې یې ورڅخه وغوښتې، که څه هم ډېر سخت الفاظ یې استعمال کړل، خو رسول الله ﷺ موسکی شو او د دوو اوښانو د بار په اندازه یې ورته یو څه وبخښل. په احادیثو کې راغلي دي چې پیغمبر ﷺ له حضرت حسن او حسین رضی الله تعالی عنهما سره لوبې کړې دي، هغوی یې ښکلول او پر خپلو مبارکو اوږو به یې پورته کول.

پیغمبر ﷺ به تل خپلو اصحابو ته نصیحت کاوه او فرمایل به یې: (يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا).[۱]

ژباړه: آساني کوئ او سختي مه کوئ، خلکو ته زیری ورکوئ او کرکه یې مه پیدا کوئ.

## د رفق ډولونه:

نرمي کول د اسلامي نیکو خویونو له جملې څخه دي چې په هر څه کې ښکاره شي، ښکلا وربخښي.

پیغمبر ﷺ فرمایي: هر کار له نرمۍ سره ښکلی کېږي، هر کار چې نرمي پکې نه وي، بد رنګه بریښي.

---

۱- متفق علیه

رفق یعنې نرمي باید زموږ د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کې شتون ولري. له خلکو سره نرمي، له نوکرانو سره نرمي، له حیواناتو سره نرمي، له جماداتو او ټولو شیانو سره نرمي، د دغه مطلب د اثبات لپاره زیات دیني نصوص راغلي دي، لکه چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (سِبَابُ الْمُسْلِمَ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ)[1]

ژباړه: مسلمان ته ښکنځلې کول فسق دی او ورسره جنګ کول کفر دی.

پیغمبر ﷺ په بل حدیث شریف کې فرمایلي دي: (مَنْ لَطَمَ مَمْلُوكَهُ أَوْ ضَرَبَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ فَكَفَّارَتُهُ أَنْ يُعْتِقَهُ)[2]

ژباړه: چا چې خپل مریې وواهه او یا یې پر داسې ګناه په حد کړ چې ده نه وي کړې، نو د دغه سړي د اشتباه کفاره دا ده چې نوموړی آزاد کړي.

## د نرمښت ارزښت او فضیلت:

هره ټولنه چې افراد یې نرمښت خپله دنده بولي، مینه، دوستي او متقابل درناوی پکې عامېږي او د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د رضایت د لاسته راوړلو سبب ګرځي.

موږ نن تر بل هر وخت ډېر په خپله ټولنه کې نرمښت ته اړتیا لرو، ځکه چې دښمنانو له هر لوري پر موږ ډول ډول سختي او شدت پیل کړی دی، نو آیا همدغه ددوئ سختي زموږ بس نه ده؟

پیغمبر ﷺ نرمی ته زموږ د هڅولو لپاره مختلف اسلوب کارولي دي او فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ)[3].

ژباړه: الله تعالی نرمي کوونکی دی، په هر څه کې نرمي کول خوښوي.

مسلمان په نرمي کولو له دوزخ څخه ژغورل کېږي او جنت ته ځي.

پیغمبر ﷺ فرمایي: آیا تاسو ته خبر درنه کړم چې څوک پر دوزخ حرام دي او یا دوزخ وربانډې حرام دی؟ دوزخ پر هر نرمي کوونکي، ملایمت او آساني کوونکي بانډې حرام دی، څوک چې له خلکو سره نرمښت او مهرباني کوي، الله تعالی به ورسره د قیامت په ورځ نرمي او مهرباني وکړي.

یوه ورځ یوه اعرابي په مسجد کې بولې وکړې، خلک ورپاڅیدل چې ویې وهي، پیغمبر ﷺ ورته وویل:

---

۱- متفق علیه
۲- مسلم
۳- البخاری

پرې يې ږدئ او پر ګندګۍ يې اوبه توېې کړئ، ستاسو مسؤوليت له خلکو سره نرمي ده، نه سختي کول.

## ارزونه:

الف: لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. رفق او نرمي تعريف کړئ.

۲. د رفق او نرمۍ يوه بېلګه بيان کړئ.

۳. يو حديث بيان کړئ چې پکې د نرمښت لورې ته هڅول وي.

٤. د نرمۍ د اثبات لپاره له قرآن کريم څخه يو دليل راوړئ

٥. له مور سره بايد څنګه چلن وشي؟

٦. له پلار سره دې معامله څنګه ده؟

۷. له دوستانو او ګاونډيانو سره دې چلن څنګه دی؟

۸. ځانونه وارزوئ چې آيا نرمښت په تاسو کې شتون لري؟

۹. د ننني ټولنې په اړه څه نظر لرئ چې آيا غړي يې يو له بل سره په نرمښت تعامل کوي يا نه؟

ب: د لاندې موارد و په هکله خپل نظر څرګند کړئ او ووايئ چې صحيح تصرف په هغو کې څه ډول دی.

۱. يو شمېر زده‌کوونکي د خپل يو دوست پر وهلو صلاح شول.

۲. يو مامور له خپلو مراجعينو سره ناوړه چلن کوي.

۳. يو ماشوم سپي په رسۍ کلک تړلې او پر ځان پسې يې راکاږي.

٤. يو هلك يو الوتونکی مرغه را نيولی دی، ورزونه يې وربانديې کاږي.

٥. يو سړی له خپلې ميرمنې سره بد سلوك کوي.

### کورنۍ دنده

ګرانو زده‌کوونکو! له خپلې کورنۍ سره مو د چلن څرنګوالی په خپلو کتابچو کې وليکئ.

کولی شئ چې لاندې کلمې پکې استعمال کړئ: نرمي ـ عفوه ـ احسان ـ شدت ـ سختي ـ بدبيني غضب ـ قهر ـ کبر او غرور.

# صبر

د اسلام ډېر اخلاقي او ايماني ارزښتونه له صبر سره تړاو لري. له دې امله رسول اکرمﷺ په يوه مبارک حديث کې صبر ته ايمان ويلي دي.

صبر څه شی دی؟ صبر څه ارزښت لري؟ فضايل او ګټې يې کومې دي؟ د صبر ډولونه کوم دي؟ په اسلام کې د صابرانو اجر او مقام کوم دی؟

## د صبر تعريف:

صبر په لغت کې بندولو ته وايي او په اصطلاح کې پر يو شي او يا له يو شي څخه د ځان بندولو ته صبر وايي. د رمضان مياشتې ته د صبر مياشتې وايي، ځکه په دې مياشت کې انسان خپل نفس بندوي او نه يې پرېږدي چې خپلې ټولې غوښتنې ترلاسه کړي.

صبر يو اخلاقي قوت دی چې انسان د سختيو، دردونو او کړاوونو زغملو ته تياروي او د ناکرارۍ، نارې سورې، شور، ويرې او له نورو څخه يې د طمعې کولو او نورو نفساني تمايلاتو او غرايزو څخه ژغوري.

صبر په دوو اساسي برخو وېشل شوی دی:

## بدني صبر:

کوم چې د سختو کارونو پر وړاندې صورت مومي.

## نفسي صبر:

په کوم کې چې نفسي غوښتنې، فطري هوسونه او غريزې شاملېږي. نفسي صبر ډېر پراخ او وسيع ډګر او مختلف نومونه لري. د مثال په توګه: که د مصيبت پر وړاندې وي، "صبر" بلل کېږي، که د جګړې پر وړاندې وي، د "شجاعت" په نامه يادېږي، که د نفسي غوښتنو پر وړاندې وي "عفت"

بلل کېږي، که د غضب پر وړاندې وي، د "حلم" په نامه يادېږي.

قرآنکريم دې ټولو ته د (صبر) نوم اخيستی، لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿وَالصَّابِرِينَ فِى الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ﴾ [سورت البقرة، أيت: ١٧٧]

ژباړه: د تنګی او غمونو پر مهال، د حق او باطل په جګړه کې صبر وکړئ، همدا کسان رښتيني او پرهيزګار خلک دي.

**فعاليت**

د ښوونځي زده‌کوونکي څرنګه صبر ته اړتيا لري؟ د صبر پايله او نتيجه څه شی وي؟ ښاغلی ښوونکی دې په دې هکله له زده‌کوونکو سره بحث وکړي.

## د صبر ارزښت:

الله ﷻ ژوند او مرګ د ازمايښت لپاره پيدا کړي. هر انسان په خپل ژوند کې هرو مرو د مختلفو ستونزو، مصيبتونو، او ناوړه حالاتو او سختيو سره مخ کېږي. کله چې د حوادثو او ستونزو سيلاب په انسان حمله وکړي، د انسان مخې ته د صبر رڼا را ښکاره کېږي، واقعي مؤمن مسلمان د صبر په وسله د ژوند له تودو او سړو سره مقابله کوي.

د صبر په حقيقي معنا پوهېدل، په دنيا کې د مرستې او په آخرت کې د ثواب هيله، مسلمان د ستونزو او کړاوونو پر وړاندې له وارخطايي او بې صبرۍ څخه ژغوري. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ﴾ [سورت محمد، آيت: ٣١]

ژباړه: موږ به هرو مرو تاسې په آزموينت کې واچوو، تر څو چې ستاسې حالات وڅېړو، وګورو چې په تاسې کې مجاهدين او صابر کسان څوک دي.

## د صبر فضيلتونه:

صبر ډېر فضايل لري، چې د بېلګې په توګه يې لاندينيو فضيلتونو ته اشاره کوو:

١. صبر د پيغمبرانو صفت دی، لکه څرنګه چې الله ﷻ د ايوب عليه السلام د صبر ستاينه کړې او فرمايي: ﴿إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ﴾ [سورت ص، آيت: ٤٤]

ژباړه: یقیناً موږ هغه د زغم خاوند وموند، ډېر ښه بنده، د خپل رب خواته ډېر رجوع کوونکی وو.
۲. صبر د باثباته او قوي عزم د خاوندانو له اخلاقو څخه دی. ﴿وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ [سورت شورى: آیت: ٤٣]
ژباړه: البته څوک چې له صبر څخه کار واخلي او ببښنه وکړي، نو دا ډېر د لوړې ارادې له چارو څخه دی.
۳. صبر د ایمان د ریښتین والي نښه ده. د "العصر" سورت پر دې خبره دلالت کوي.
٤. صبر د انسان د ستونزو د حل کلي ده. رسول اکرم ﷺ فرمايي: (وَاعْلَمْ أَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ)[1]
ژباړه: پوه شه چې بریالیتوب له صبر سره یو ځای دی.
۵. صبر په دنیا کې قیادت او مشرۍ ته د رسېدو او په دین کې د امامت وسیله ده.
٦. د صبر فضیلت او مقام دومره لوړ دی چې الله ﷻ له صبر کوونکو سره د بې حسابه اجر او ثواب وعده کړې، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې فرمايي: ﴿إِنَّمَا يوفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ [سورت الزمر، آیت: ۱۰]
۷. ژباړه: صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړل شي.

## لنډیز:

- ډېر اخلاقي او ایماني ارزښتونه له صبر سره تړاو لري.
- د نفس منع کول او ټولو کړاوونو ته تیاری د صبر په معنا دی.
- د صبر په صحیح معنا ځان پوهول انسان د مادي او معنوي ستونزو زغملو ته چمتو او تیاروي.
- د صبر فضیلتونه ډېر زیات او بې شماره دي: صبر د پیغمبرانو صفت دی، د سترو خلکو اخلاق دي، د ایمان د صدق دلیل دی، د ستونزو د هوارۍ لاره ده، او په دنیا کې د زعامت او په دین کې د امامت د تر لاسه کولو وسیله ده.

---

۱- مسند احمد/ ج۱/۳۰۷

**ارزونه**:

۱. د (صبر) کلمه څه معنا لري؟

۲. زده‌کوونکي دې د ښاغلي ښوونکي په مرسته له نورو احکامو او اسلامي اخلاقي ارزښتونو سره د صبر تړاو تر خپل بحث او مناقشې لاندې ونیسي.

۳. د لاندینیو کلمو مخالفې معناوې پیدا کړئ:

صبر – شجاعت – حلم – عفت - تواضع

٤. بدني صبر له نفسي صبر سره څه توپیر لري او کوم یو یې ارزښتناك دی؟ مثال ورکړئ.

٥. د صبر څلور فضیلتونه یاد کړئ؟

٦. له نورو طاعتونو او مکارمو سره د صبر اجر او ثواب څه توپیر لري؟

# په طاعتونو صبر کول

د صبر مفهوم، ارزښت او فضایل مو په تېر لوست کې یاد کړل. په دې لوست کې په طاعاتو او عباداتو د صبر مقام تر کتنې لاندې نیسو.

## په طاعاتو صبر:

په اسلام کې ډېر طاعات او اوامر شته چې ادا کول یې صبر ته اړتیا لري. طاعتونه عموماً په دوو برخو وېشل شوي، فرایض او نوافل، کوم چې الله ﷻ په دې مبارك آیت کې را ټول کړي او فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ [سورت النحل، آیت: ۹۰]

ژباړه: الله د عدل، ښېګڼې او خپلوی پالنې حکم کوي. د یادونې وړ ده چې دا ټول طاعتونه صبر ته اړتیا لري.

## په عبادت صبر:

عبادات په اسلام کې طاعتونو ته ویل کېږي چې لمونځ یې په سر کې ځای لري، کوم چې ادا کول یې صبر او استقامت ته اړتیا لري. ځکه لمونځ هغه فریضه ده چې په یوه شپه او ورځ کې پنځه ځله تکرارېږي. الله ﷻ مؤمنانو ته د هغه په اداکولو کې د صبر او قربانی امر کوي، لکه چې فرمایي: ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾ [سورت طه، ایت: ۱۳۲]

ژباړه: خپلې کورنی ته د لمانځه توصیه وکړه او په خپله هم د هغه پابند او سه.

نو د لمانځه اداکول کوم ساده او آسان کار نه دی، ځکه چې د دې فریضې صحیح اداکول صبر، اخلاص او فداکاری ته اړتیا لري، د ورځنیو کارونو په ورځ کې پنځه ځلې دروند یو سخت کار دی، خو ریښتینی مؤمن په صبر، اخلاص، خشوع او پوره پاملرنې سره په ورځ کې پنځه ځله خپل کار او روزګار دروي او د الله ﷻ مناجات ته وردانګي.

همدارنګه که ټولو عبادتونو ته پام وکړو، ګورو چې هر يو يې صبر او فداکارئ ته اړتيا لري. د مثال په توګه د حج، روژې، زکات فريضې او د اسلام نور شعاير ټول معنوي او مادي صبر او استقامت ته اړتيا لري.

### په جهاد کې صبر:

په اسلام کې جهاد د طاعت يو بل ځای دی، کوم چې د الله ﷻ په لار کې يې قوي صبر له ځاني او مالي قرباني سره تړلی دی. له دې امله قرآن کريم په جهاد کې د صبر تر ټولو سخت مراتب بيان کړي او فرمايي: ﴿يا أَيها الَّذين آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

[سوره آل عمران آيت ۲۰۰]

ژباړه: اې مؤمنانو صبر وکړئ او يو بل ته په صبر سره امر وکړئ، د خپلو حدودو ساتنه وکړئ، له الله تعالی څخه ووېرېږئ، نو بريالي به شئ.

په دغه مبارک آيت کې د صبر پړاوونه د (صبر، مصابرې، مرابطې) په کلمو سره بيان شوي او د بريالیتوب لپاره د شرط په توګه وربانديې ټينګار شوی چې دا د قرآنکرم اعجاز بيانوي.

### فعاليت

د (صبر، مصابره، مرابطه) کلماتو تر منځ د توپير او ارتباط له پلوه کوم توپير او تړاو وينئ؟ ښاغلی ښوونکی دې پر موضوع له زده‌کوونکوسره خبرې وکړي.

### د علم په زده کړه کې صبر:

۱. همدارنګه د زده کړې، تحقيق او د الله ﷻ په کايناتو او مخلوقاتو کې فکر کول پر طاعاتو د صبر يو بل مورد دی، چې اوږده صبر، قوي ارادې او پوره زغم ته اړتيا لري. له همدې امله د علم زده کړه او د شرعي احکامو استنباط په اسلام کې د (اجتهاد) چې د کوښښ معنا لري، په نامه نومول شوی او ياده شوې درجه د هغه چا په برخه ده چې له صبر او قوي استقامت څخه برخمن وي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِنِعْمَةِ اللَّهِ لِيرِيكُمْ مِنْ آيَاتِهِ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾ [سورت لقمان، آيت: ۳۱]

ژباړه: آیا ته نه وینې چې په سمندر کې بېړۍ د الله په فضل سره چلېږي، تر څو چې هغه تاسې ته خپلې ځینې نښانې دروښیي. په حقیقت کې په دې کې ډېرې نښانې دي، د هر هغه چا لپاره چې صبر او شکر کوونکی وي.

دغه مبارک آیت په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو پر اړه فکر کول، انسان د الله تعالی وحدانیت ته رابولي، همدارنګه په دې دلالت کوي چې علمي تفکر او د هغو له پایلو څخه ګټه اخیستل یوازې په قوي صبر او راسخ ایمان سره تر لاسه کېدای شي.

**فعالیت**

آیا د علم زده کړه، صبر ته اړتیا لري؟ زده‌کوونکي دې نظر ورکړي.

په همدې ترتیب سره مو ولیدل چې طاعتونه او عبادتونه هم له صبر او استقامت پرته نه شي ادا کېدای، صابر مسلمان د یادو شویو طاعتونو او عبادتونو له امله د دنیا بریالیتوب او د آخرت سعادت، اجر او ثواب ته رسېږي.

**لنډیز:**

- په اسلام کې ډېر طاعتونه او عبادتونه له صبر او استقامت سره تړاو لري.
- ټول اسلامي عبادتونه له صبر او استقامت سره تړلي دي.
- د جهاد فریضه د عالي صبر، زغم او استقامت غوښتنه کوي.
- زده کړه یوه اسلامي فریضه ده چې صبر، زغم او استقامت ته اړتیا لري.

**ارزونه:**

۱. د پنځه وخته لمونځ اداکول څرنګه صبر ته اړتیا لري؟ واضح یې کړئ.

۲. که لمونځ په صحیح طریقې سره ادا شي، لمونځ کوونکي ته څه ګټې او پایلې په لاس ورځي.

۳. صبر د روژې په نيولو کې څه رول لري او هم ووايئ چې روژه، ټولنې ته څه ګټې لري؟
٤. په جهاد کې د صبر مراتب واضح کړئ؟
٥. د علم په زده کولو او علمي څېړنه کې صبر څه اغېز لري؟ د يو زده کوونکي صبر او د زحمت ګالل به څه وي؟

## کورنۍ دنده

د حج د فريضې په اداکولو کې صبر ته د اړتيا په هکله يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو لږه نه وي.

# له ګناهونو څخه صبر

د اسلام پیغمبر ﷺ فرمایي: (د جنت لاره په سختیو او کړاوونو او د دوذخ لاره په نفسي غوښتنو او شهوتونو پوښل شوې ده)[1]

## له ګناهونو څخه صبر:

انسان له ګڼ شمېر نفسي غوښتنو او شهواني غریزو سره پیدا شوی. دغه غوښتني او شهوتونه به یا روا وي او یا هم حرام او منعه شوي چې دواړه صبر ته اړتیا لري. جایزې او مشروع غوښتنې، د مال مینه، او د حلالې دنیا درلودل، مسلمان ته نه دي منع شوي، خو مسلمان باید له هغو څخه په ګټه اخیستلو کې اسراف ونه کړي او په لاس ته راوړلو کې یې باید له صبر، قناعت او تقوا څخه کار واخلي.
له ګناهونو څخه ځان ساتنه او د نفس د نا مشروعو غوښتنو په مقابل کې صبر کول هغه جهاد دی چې یو مسلمان یې تل له خپل نفس سره ترسره کوي، په دغې دوامدارې مبارزې کې انسان پیاوړې ارادې ته اړتیا لري، ترڅو وتوانېږي چې دده مخې ته له پرتو نفسي او مادي غوښتنو سره چې رنګا رنګ یې مخی ته وړاندې کېږي، صبر او بیا ورسره مبارزه وکړي.
الله تعالی په لاندې مبارک آیت کې ګڼ شمېر ګناهونه را ټول کړي او د هغوی له ترسره کولو یې منعه کړې ده: ﴿وَينهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْى﴾ [سورت النحل، آیت: ۹۰]
ژباړه: له ناسموکارونو، بدیو او سرغړونې نه منعه کوئ.له دغو ناوړو ګناهونو څخه منع کېدل بیا هم صبر ته اړتیا لري. ترټولو سخت صبر هغه دی چې یو انسان یې له ګناهونو او له ناسمو عادتونو څخه کوي، کوم چې په ټولنه کې د عمومي عادت په بڼه تبدیل شوي وي. په ځانګړې ډول ژبني ګناهونه چې نن سبا د هر مجلس بحث او مېوې ګرځېدلې، لکه:غیبت، دروغ، ریا، ځان ستایل، او داسې نور چې په ډېرې آسانۍ سره زموږ د خلکو ترمنځ روان او د ورځې د عادت په توګه بدل شوي، خو په حقیقت کې دغه ټول زموږ د ټولنې وژونکي ناروغي ده چې مقابله یې پیاوړې صبر او مقاومت ته اړتیا لري.

**فعالیت**

د هغه شمېر ژبنیو ګناهونو نمونه واخلئ چې زموږ د خلکو ترمنځ شتون لري.

---

۱– «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ». صحیح مسلم.

## د صبر نمونه او له بې لارې کوونکو شیانو سره مقابله:

د پیغمبرانو علیهم السلام، صحابه کرامو، د الله ﷻ ددوستانو او نیکو بندګانو ژوند د نفسي غوښتنو او شیطاني وسوسو پر وړاندې صبر او استقامت هغه ګڼ شمېر تجربې لوستونه او بېلګې دي چې دوی موږ ته د صبر په میدان کې را وړاندې کړې دي.

د بېلګې په توګه د یوسف علیه السلام داستان ته ځیر شئ: هغه څنګه وکولی شول چې د فرعون په قصر او ماڼۍ کې د مصر د عزیز د میرمنې د ټولو مکرونو، فشارونو اوتهدیدونو پر وړاندې صبر او په مقابل کې یې مقاومت وښایي، له ازمایښته بریالی او سرلوړی ووزي؟ او آن تردې چې د تل لپاره د تاریخ په صفحه کې د انسانیت لپاره ثبت شي.

ابن قیم جوزي رحمه الله د یوسف علیه السلام له صبر څخه داسې پایله را باسي: (د یوسف سورت چې مې ولوست، په دې فکر کې شوم چې د نفس د نامشروعو غوښتنو په مقابل کې د یوسف صبر د هغه نفس سرلوړی او تل پاتې وګرځاوه، له ځان سره مې وویل: تعجب دی! که چېرې یوسف علیه السلام د نفس غوښتنې منلې وای، نو پایله به یې څه وه؟ خو هغه د نفس له غوښتنو سره مقاومت او مقابله وکړه، په دې ډول د یوسف صبر تل د انسانیت لپاره د لارې مشال وګرځېد، هو! دا د ښو شیبو صبر وو)[۱]

## لنډیز:

- صبر د ګناهونو او پارونکو غوښتنو په مقابل کې ډېر ثواب لري.
- صبر د ګناهونو او نفساني غوښتنو پر وړاندې یو تلپاتې جهاد دی.
- د ګناهونو او پارونکو غوښتنو پر وړاندې د یوسف علیه السلام صبر او مقاومت د اسلامي اخلاقو یوه بېلګه ده.

## ارزونه:

۱. د دغه حدیث شریف: (د جنت لار په سختیو او کړاوونو او د دوزخ لار په نفسي غوښتنو او شهوتونو پوښل شوې) عربي متن یاد او تکرار کړئ.

۲. ولې په دغه حدیث کې د جنت لار سخته او د دوزخ لار آسانه ښودل شوې؟ زده‌کوونکي دې روښانه کړي.

۳. ولې صبر د هغو ګناهونو پر وړاندې سخت دی چې د عادت او رواج بڼه یې نیولې؟ روښانه یې کړئ.

۴. امام ابن قیم جوزي رحمه الله د یوسف سورت له لوستلو څخه څه پایله واخیسته؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

---

۱- الأخلاق فی الإسلام، ص ۱۴۳

# د مصیبتونو پر وړاندې صبر

حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي دي:"هر مصیبت چې ما ته رسېږي، په درېیو څیزونو الله تعالی ته شکر اداکوم: لومړی دا چې مصیبت ماته د دنیا په اړه رسیدلی، نه د دین په اړه، دویم دا چې کوم مصیبت ماته له څه شي رسېدلی هغه دومره لوی نه وي چې زغملی یې نشم، درېیم دا چې د مصیبت په مقابل کې اجر لاس ته راوړم".

## په مصیبت صبر کول د ایمان نښه ده:

پر مصیبتونو صبر کول، د ایمان د ریښتینوالي او د الله تعالی په قضا او قدر باندې د خوښۍ معنا لري. انسانانو ته د الله تعالی لخوا د مصیبتونو رسېدل، دوی ته د سزا، جزا او آزمویلو په موخه وړاندې کېږي چې په دواړو حالتونو کې یې باید انسان وزغمي. د اسلام مقدس دین انسانانو ته د درد او سختیو په حالت کې د صبر او زغم سپارښتنه کوي، د دې پر وړاندې ورته د لوی اجر او ثواب زیری ورکوي، الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِين، الَّذِين إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيهِ رَاجِعُونَ، أُولَئِكَ عَلَيهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِك هُمُ الْمُهْتَدُونَ﴾

[سورت البقرة، آیات: ۱۵۵-۱۵۷]

ژباړه: او ضرور به تاسو پر ویره، لوږه، د مال، ځان او میوو په زیان سره و ازمایو، صبر کوونکو ته زیری ورکړئ. هغو کسانو ته چې کله ورته مصیبت ورسیږي، نو دوی وایي: موږ د الله یو او ده ته بېرته ورګرځو. پر دوې د الله تعالی درود، دعا او سلامتیا ده او دوی لاره میندونکي دي.

له دغو قرآني آیتونو داسې پوهېږو چې الله تعالی مؤمنان په څه اندازه مصیبت، ویرې، لوږې، د مال او ځان په زیان ازمويي. دغه آیتونه همدا راز پر دې هم دلالت کوي چې مسلمان پر صبر، د الله لخوا په وړیینې شوي مصیبت د خوښۍ په وړاندې د هغه د لوی اجر او مقام څښتن ګرځي.

## فعالیت

پورتني آیت کې د مصیبت پر وړاندې صبر او زغم کوونکو ته د درېو جزاګانو او انعامونو ژمنه شوې، دغه انعامونه کوم دي؟ زده‌کوونکي دې په نوبت هر یو بیان کړي.

## آزموینښت د الله تعالی سنت دي

پر مصیبتونو د انسانانو آزمویل د الله تعالی هغه سنت اوقانون دی چې ډېر ځله خپل مخلص بندګان پرې آزموېي. د اسلام پیغمبر ﷺ په دې اړه فرمایي: (مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ)[۱]

ژباړه: چاته چې د الله د خیر اراده وشي، نو هغه په مصیبت او آزموینښت کې اچوي. همدارنګه په یو بل حدیث شریف کې راځي: (لاَ يَزَالُ الْبَلاَءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِى نَفْسِهِ وَمَالِهِ وَفِى وَلَدِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيئَةٍ)[۲].

ژباړه: هر مؤمن سړی او مؤمنه ښځه تر هغې د اولاد او ما ل د زیان په آزموینښت کې اچول کېږي، ترڅو چې له الله تعالی سره په داسې حال مخ شي چې ګناهونه یې ببښل شوي وي.

صبر، قناعت، د درد او مصیبت پر وړاندې خوښي مسلمانانو ته دوې پایلې رامخې ته کوي چې دواړه یې ددوی په خیر اوګټه دي:

۱- عاجله او مخکې پایله چې هغه دګناهونو کفاره او د انساني سهوو ببښنه ده.

۲- اخروي پایله چې هغه د ثواب، فضیلت او د الله تعالی د رحمت په توګه مؤمنانو ته ورکول کیږي.

## د مصیبت پر مهال د مؤمن ادب:

کله چې مؤمن ته د مصیبت پر وړاندې کوم دنیوي او اخروي اجر او ثواب ور په برخه کېږي، نو باید پردې هم پوه شي چې کوم اسلامي ادب په دې وخت کې مراعات کړي. د اسلام له نظره د مصیبت پر مهال هر ډول فریاد کول، دګریوان شلول، د افسوس کول، په عادت او جامو کې بدلون او داسې نور منع شوي، یوازې د مصیبت استقبال یې د ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ﴾ په

۱- روایت بخاري
۲- ترمذي

کلمې سره ښودلی او بس.

همدارنګه د اسلام ستر پیغمبر ﷺ د مصیبت په وخت کې دا لارښوونه هم کړې چې فرمايي:

(اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَعْقِبْنِي خَيْرًا مِنْهَا)[1].

ژباړه: اې الله! ماته پر دې مصیبت اجر او ثواب په برخه او له دې (اخیستل شوي نعمت څخه غوره ماته را په برخه کړې.

په دې ډول که یو مؤمن د وړپېښ شوي مصیبت پر مهال دغه ادب په پام کې ونیسي، نو د جمیل صبر په دایره کې راغی، چې هغه علماوو داسې تعریف کړی: جمیل صبر هغه صبر ته ویل کېږي چې په هغې کې فریاد او چاته له دغه مصیبته شکایت نه وي، یا هم دا چې مؤمن خپل عادي او طبیعي حالت کې کوم بدلون رانه ولي، څېره او جامې یې بدلې نه کړي او خپل پخوانی حالت وساتي.

## لنډیز:

• الله ﷻ مؤمنان په مال، اولاد او نفس باندې ازمايي.

• د اسلامی اخلاقو له پلوه، ازمايښت او مصيبتونه د یوه مؤمن لپاره د اللهﷻ له پلوه د خیر رسول دي.

• د مصیبت پرمهال صبر او زغم صابر مؤمن له نورو جلا کوي.

## ارزونه:

۱- په دنیا کې انسانانو ته مصیبت د څه مقصد په موخه پېښېږي؟ مؤمن انسان باید د مصیبت پر مهال د څه مرسته وغواړي؟

۲- د بقرې سورت د پورتنیو آیاتونو له مخې الله تعالی مؤمنان پر کومو مصیبتونو آزمویلي دي؟

۳- الله تعالی خپل غوره بنده په مصیبت او کړاو ځکه اخته کوي، چې:

الف) هغه بد ویني. ب) نوموړی عذابوي. ج) هغه ته یې د خیر ارداه کړې وي.

۱- مسلم

٤- مؤمن د مصيبت پر مهال بايد څه ووايي؟

٥- د مصيبت پر مهال کې صبر او د الله تعالی په قضا او پرېکړې خوښي، مسلمان ته دوې گټې لري:

١-..................................................................

٢-..................................................................

٦- جميل صبر هغه دی چې انسان د مصيبت پر مهال:

الف) تورې جامې واغوندي او فرياد وکړي.

ب) خفگان ښکاره او له خلکو سره خبرې ونه کړي.

ج) د الله تعالی په پرېکړې خوښ او چاته شکايت ونه کړي.

## کورنۍ دنده

د مصيبت پر مهال د صبر خپلولو په رڼا کې د هغو غير شرعي عادتونو په اړه دوه مخه مقاله وليکئ چې ډېر خلك يې د خپلو خپلوانو د مړينې پر مهال ترسره کوي.

# حیا او د هغې فضیلتونه

رسول اکرم ﷺ فرمایلي: څلور څیزونه د پیغمبرانو سنت او کړنې دي: حیا، خوشبویي، مسواک او نکاح[1].

**فعالیت**

د حیا په اړه څه معلومات لرئ؟ زده‌کوونکي دې په دې اړه خپل نظرونه په منظمه توګه څرګند کړي.

## د حیا تعریف:

حیا ښه خوی، خصلت او د انسان د عزت او شرافت نښه ده.

حیا هغه نفسي بدلون ته ویل کېږي چې انسان ته د عیب د احساس پر مهال پیدا کېږي.

په اصطلاح کې هغه خوی ته ویل کېږي  چې انسان د بدو کارونو پرېښودلو ته اړ باسي، خاوند یې له کمي څخه منعه کوي، له دې کبله انسان د همت او کمال په لوري هڅوي او د ناوړه او رذایلو څخه یې ژغوري او د حیا ضد سپین سترګي ده چې له امله یې انسان په ناوړه او شرموونکو اعمالو او ویناوو لاس پورې کوي.

## د خجالت او حیا تر مینځ توپیر:

شرعي حیاء هماغه وه چې ذکر شوه، خو خجالت او بې زړه توب چې پرې اخته خلک د ښو کارونو څخه منعه کوي او د اړتیا پر مهال نشي کولای په نیکو اعمالو امر او له بدو څخه منعه وکړي، د زده کړې په خپلولو کې خجالت باسي. دې حالت ته شرعي حیا نشي ویل کېدای، یوازې

---

۱- رواه الترمذی

په عرف کې حیا بلل کېږي. دا یو ناوړه صفت دی، انسان باید ترې ځان وژغوري.

## د حیا فضیلتونه:

د اسلام ستر لارښوود او پیغمبر ﷺ د حیا په اړه یو لړ لارښوونې کړې چې له هغې جملې څخه لاندیني موارد یادوو:

## حیا د ایمان یوه څانګه ده:

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً، أَعْلاهَا شَهَادَةُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ).[۱]

ژباړه: ایمان څه د پاسه اویا څانګې لري، تر ټولو لوړه یې د لا اله الا الله کلمې ویل دي او تر ټولو ټیټه یې له لارې څخه د ناپاکو څیزونو لیرې کول دي او حیاء د ایمان څانګه ده.

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: (مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا شَانَهُ وَلَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا زَانَهُ).[۲]

ژباړه: فحش هیڅکله هیڅ شي ته نه داخلیږي، خو هغه ناکاره او بد رنګ کوي او هېڅکله حیا له هېڅ شي سره نه یوځای کېږي، خو هغه ښایسته کوي.

د عمران بن حصین رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول ﷺ فرمایلي: (إِنَّ الْحَيَاءَ لا يَأْتِي إِلا بِخَيْرٍ)[۳].

ژباړه: په ریښتیا حیا پرته له خیر څخه بل څه نه راوړي.

## د حیا ځینې ګټې:

حیا ډېرې زیاتې ګټې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- حیا د اسلام اخلاق دي، د زید بن اسلم رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا، وَخُلُقُ الإِسْلامِ الْحَيَاءُ).[٤]

---

۱- متفق علیه
۲- الترمذی
۳- متفق علیه.
٤- الترمذی

ژباړه: یقیناً هر دین یو خوی او اخلاق لري او د اسلام خوی او اخلاق حیا ده.

د حیا په واسطه انسان د الله ﷻ د حقوقو په اداکولو کې کمی نه کوي، ځکه د الله ﷻ د لوی والي او عظمت څخه حیا کوي، د هغه ﷻ نعمتونه یادوي، نو ځکه خپلې دندې او مسؤولیتونه پرځای کوي او د محرماتو څخه ځان ژغوري.

۲- حیا ښایست دی، په پورتني حدیث شریف کې مو ولوستل چې حیا له هېڅ څیز سره نه یوځای کیږي، خو دا چې هغه ته ښایست وربښي. حیا ناک سړی د وقار خاوند وي، هر څوک ورسره په درناوی چلن کوي، بې حیا انسان یو سپک شخص وي، نه یې په کور کې څوک درناوی کوي، نه په کلي او نه ټولنه کې له کوم درناوی څخه برخمن وي.

حیاء د الله ﷻ د نعمتونو د زیاتوالي لامل ګرځي، همدارنګه د آفتونو مخنیوی کوي. بې حیایي او فسق له ځانه سره عذاب راولي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيهْلِكَ الْقُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴾[سورت هود، آیت: ۱۱۷]

ژباړه: ستا رب داسې نه دی چې په نا حقه کلي تباه کړي، په داسې حال کې چې د هغو اوسېدونکي سمون راوستونکي وي.

په بل ځای کې فرمايي:﴿وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا﴾ [سورت اسراء، آیت: ۱۶]

ژباړه: کله چې موږ د کومې سیمې د هلاکولو اراده کوو، نو د هغې بډایانو ته حکم کوو او هغوی په کې په نافرمانیو لاس پورې کوي، هله نو پر هغې سیمې د عذاب پرېکړه پلې کیږي او موږ هغه بیخي تباه کوو.

معلومه خبره ده چې نیکي د حیا او فسق له بې حیایی څخه سر چینه اخلي.

**لنډیز:**

- حیا د ایمان یوه څانګه او د الهي پیغمبرانو سنت دی.
- حیا انسان د کمال او همت په لوري هڅوي او له رذایلو او بې همتۍ څخه یې ژغوري.

- حیا انسان د الله ﷻ پېژندلو او د خلکو د حقوقو د رعایت په لوري هڅوي، له ګناهونو او معصیت څخه یې ژغوري.
- حیا ښایست دی چې له هر څه سره یو ځای شي، ښایست وربښي.
- حیا د الله ﷻ د نعمتونو د زیادت لامل او بې حیایي د امتونو او مدنیتونو د هلاکت او تباهی سبب ګرځي.

## ارزونه:

۱. حیا لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ؟

۲. د حیا ضد څه شی دی او څه زیان لري؟

۳. د حیا په اړه د پیغمبر ﷺ درې مبارك حدیثونه له ژباړې سره ووایاست؟

٤. شرعي حیا له بې زړه توب سره څه توپیر لري، له مثال سره یې واضح کړئ؟

٥. د حیا ځینې ګټې بیان کړئ؟

## کورنۍ دنده

لاندیني حدیثونه له معنا سره حفظ کړئ:

۱- رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا شَانَهُ وَلَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا زَانَهُ).

۲- رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (إِنَّ الْحَيَاءَ لا يَأْتِي إِلا بِخَيْرٍ).

# د حیا ډولونه

حیا د مختلفو اعتباراتو له مخې او په دې لحاظ چې له کوم ځا صادرېږي، زیات ډولونه لري چې په دې لوست کې به یې مطالعه کړو.

### فطري حیا:

فطري حیا هغې حیا ته ویل کېږي چې الله ﷻ له انسان سره پیدا کړې وي، دا ډول حیا یو لوړ خوی، صفت او د الله ﷻ توفیق دی. د پیغمبر ﷺ دا وینا چې خپل صحابي اشج بن عبدالقیس ته یې فرمایلې له دې ډول حیا څخه ده (إنَّ فِيك لَخَصْلَتَين يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ، قُلْتُ: مَا هُمَا؟ قَالَ الحِلمُ والحَياءُ، قُلْتُ: أَقَدِيمًا أَمْ حَدِيْثًا؟ قَالَ: بَلْ قَدِيْمًا، قُلْتُ: اَلحَمْدُ لِلّٰهِ الَذِىْ جَعَلَنِىْ عَلَى خَصلَّتَين يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ)[۱].

ژباړه: په تا کې دوه خویونه دي چې الله ﷻ ته خوښ دي. (اشج وایي) ما وویل: هغه دوه خویونه کوم دي؟ ویې فرمایل: نرمي او حیا، ما وویل: آیا دا خویونه ما ته مخکې راکړل شوي او که په ما کې نوي دي؟ ویې فرمایل: بلکې دا خویونه تاته د مخه درکړ شوي، ومې ویل: حمد او ثنا یوازې هغه الله لره ده چې زه یې له دغو دوو خویونو سره پیدا کړی یم چې الله ته خوښ دي.

### کسبي حیا:

کسبي حیا هغې حیا ته ویل کېږي چې انسان په خپله اراده لاس ته راوړې وي، ځکه چې د الله ﷻ د علم په وسعت ایمان لري. د الله ﷻ نعمتونه او خپلې نیمګړتیاوې وریادېږي، د الله ﷻ په دین ایمان لري او له ټولو هغو کارونو څخه ځان ساتي، کوم چې الله ﷻ حرام کړي دي. په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې فرمایي: (اُعْبُدْ اللَّهَ كَأَنَّك تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاك)[۲].

۱- امام مسلم
۲- البیهقي

ژباړه: د الله جل جلاله بنده ګي داسې ترسره کړه، لکه چې هغه وينې، که ته هغه نه وينې، نو هغه خو تاويني.

هر هغه څوك چې دغه حيا و نه لري، هغه د بدو کارونو په ترسره کولو کې کوم ممانعت نه ويني. (إِذَا لَمْ تَسْتَحِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ)[1].

ژباړه: کله دې چې حيا و نکړه، نو هر څه چې غواړې هغه کوه.

## شرعي حيا:

شرعي حيا هغې حيا ته ويل کيږي چې انسان نيکو کارونو ته هڅوي او له ناروا کارونو څخه يې منعه کوي.

## غير شرعي حيا:

بعضي صفتونو ته په ټولنه کې حيا ويل کيږي لکه بې زړه توب، خجالت، چې دغه يو ډول کمزورتيا ده او په حقيقت کې حيا نه بلل کيږي. ددې حالت له امله انسان خپلې دندې نشي ترسره کولاى، د بيلګې په توګه د الله جل جلاله دين ته څوك نشي رابللى او يا دا چې د بې زړه توب په دې حالت کې د اړينو مسايلو په اړه پوښتنه هم نشي کولاى.

حضرت عائشة رضى الله عنها فرمايي: الله جل جلاله دې د انصارو په ښځو ورحمېږي، حيا د ديني مسايلو په پوهه کې د دوى خنډ نه شوه. په دې ځاى کې له حيا څخه مراد عرفي حياء ده چې دا ډول حيا بده او خاوند يې په ځينو ځايونو کې پاتې وي.

حيا په دې اعتبار سره چې له چا څخه کيږي، په درې ډوله وېشل شوې ده: له الله جل جلاله څخه حيا، له خلکو څخه حيا او له خپل ځانه حيا.

## له الله جل جلاله څخه حيا:

په دې توګه چې کله بنده په کوم کار کې تقصير وکړي، نو د الله جل جلاله عظمت او رحمت په ياد کړي. له الله جل جلاله څخه حيا او د هغه د رضا غوښتنه د دې لامل شي چې په اوامرو يې عمل او له نواهيو څخه يې لېرې والى اختيار کړي. په يوه مبارك حديث کې راځي: (اسْتَحْيُوا مِنَ اللهِ حَقَّ الْحَيَاءِ)[2].

---

۱- البخارى
۲- الترمذى

ژباړه: له الله ﷻ څخه څرنګه چې مناسبه وي حيا وکړئ.

## له خلکو څخه حيا:

لکه په ښکاره توګه له ګناه کولو څخه حيا، رسول اکرم ﷺ فرمايي: زما هر امتي ته ببښنه کېږي، مګر هغه څوک چې مجاهرين دي هغوی ته نه کېږي، مراد له مجاهرينو څخه هغه کسان دي چې د شپې کوم عمل وکړي او الله ﷻ پرې پرده واچوي او دی په خپله سهار وايي: ای فلانيه! ما د شپې داسې کار کړی، د شپې الله ﷻ پرده پرې غوړولې، خو دی په ورځ کې د الله ﷻ دا پرده له ځانه لېرې کوي.[1]

## له خپل ځان څخه حيا:

د خلوت (يوازې والي) په صورت کې حيا او دا په هغه صورت کې چې د خلکو له لوري کوم عيب نه متوجه کېږي او يو سړی د خپل ځان څخه حيا وکړي او ناوړه کار ونه کړي، دې ته ظاهري حيا ويل کيږي. په دې اساس ويل شوي دي: له خپل ځانه حيا بايد له خلکو څخه د حيا په پرتله ډېره وي.

## فعاليت

هر زده‌کوونکی دې د شرعي، عرفي، فطري او کسبي حيا په اړه يو يو حالت وليکي. بيا دې په وار سره خپلې ليکنې د ټولګي پر وړاندې توضيح کړي.

د لوست د مطالبو په پام کې نيولو سره کولای شو چې د حيا ډولونه په لاندې توګه لنډ کړو:

۱: فطري حيا.

۲: د انتخاب او اختيار له پلوه حيا: کسبي او شرعي ده.

۳: د شريعت او عرف له پلوه حيا: عرفي او د الله ﷻ څخه حيا ده.

٤: د شخص له پلوه حيا: له خپل ځان او خلکو څخه حيا ده.

---

۱- متفق عليه

**لنډيز**:

- حيا د کسب له پلوه او دا چې له چا څخه کېږي، په مختلفو برخو وېشل شوې ده.
- حيا د انسان د خلقت يوه فطري برخه او يو عالي صفت دی چې الله ﷻ انسان ته ورکړې دی.
- کسبي حيا چې انسان يې په خپله اراده تر لاسه کوي، انسان د ګناهونو او بديو له سرته رسولو څخه ژغوري.
- شرعي حيا انسان ښو کارونو ته راغواړي او له ناوړو يې منعه کوي.
- له الله ﷻ، له خلکو او له ځانه حيا د حيا له ډولونو څخه ده.

**ارزونه**:

١: حيا په څو اعتبارونو وېشل شوې؟ واضح يې کړئ.

٢: فطري او کسبي حيا تعريف او د شتون په اړه يې يو يو دليل ذکر کړئ.

٣: د شرعي او فطري حيا تر منځ څه توپير دی؟ د دواړو حکم بيان کړئ؟

٤: حيا له چا څخه کېږي؟ ځواب په دليل سره واضح کړئ.

**کورنۍ دنده**

د يادې شوې حيا د ډولونو په اړه يو يو مثال په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# تواضع

تواضع د ښو اخلاقو یو ارزښتناک خوی دی چې اسلام پرې امر کوي. الله ﷻ د جنت وعده له هغو کسانو سره کړې ده چې د ځمکې پر مخ د لویۍ دعوې او فساد نه کوي. تواضع څه ته وایي؟ په اسلام کې څه مقام لري؟ پدې لوست کې به یاده شوې موضوع زده کړو.

**د تواضع مفهوم:**

تواضع خشوع او عاجزۍ ته ویل کېږي او په اصطلاح کې:

فضیل بن عیاض فرمایي: حق ته تسلیمي او د هغه منلو ته تواضع وایي، که څه هم هغه له یو ماشوم څخه واوري.

ابن مبارك فرمایي: تواضع دې ته ویل کېږي چې خپل ځان له هغه چا سره چې ستا په پرتله یې دنیایي نعمت لږ وي، برابر وشمېرې. په دې پوه شې چې ته د هغه په پرتله د مال له امله غوره والی نه لرې. همدارنګه خپل ځان له هغه چا سره برابر وګڼې چې په مالي توان کې ترتا لوړ وي او هغه د مال او شتمنۍ له امله پر خپل ځان غوره و نه ګڼې.

تواضع د کبر ضد ده، متواضع سړی د دنیا د مالونو او شتمنیو پر اساس خپل ځان له بل چا غوره نه ګڼي، هر چا ته نږدې وي، په نورو مهربانه وي، د بې وزلو سره ښې اړیکې ساتي، د نورو خدمت کوي او د خلکو خدمت کول ورته بد نه ښکاري، الله ﷻ فرمایي: ﴿تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [سورت القصص، آیت: ۸۳]

ژباړه: دغه د آخرت کور به د هغو خلکو لپاره ځانګړی کړو چې په ځمکه کې خپله لویي نه غواړي او نه د فسادکولو اراده لري او نیک عاقبت یوازې د پرهیزګارانو لپاره دی.

شیطان چې الله ﷻ له خپل دربار و شاړه او هغه یې بد بخته کړ، لامل یې همدا لویي او کبر و،

هغه وخت چې ده ته امر وشو چې آدم علیه السلام ته سجده وکړي، ده تواضع و نه کړه د لويی دعوا يې وکړه نو په پايله کې يې په تلپاتې بد بختۍ اخته شو.[۱]

الله جل جلاله خپل پيغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته پر مسلمانانو د زړه سوي امر کوي چې دا هم تواضع ته دلالت کوي.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [سورت الشعراء، آيت: ٢١٥]

ژباړه: او له مؤمنانو څخه چې كوم كسان ستا پيروي غوره كړې هغوى سره د تواضع چلند كوه.

رسول اكرم صلی الله علیه وسلم د هغو خلكو په اړه فرمايي چې تواضع كوي: (طُوبَى لِمَنْ تَوَاضَعَ فِي غَيْرِمَسْكَنَةٍ)[۲]

ژباړه: خوشحالي ده د هغه چا لپاره چې پرته له فقر او مسكنت څخه تواضع او عاجزي اختياروي.

## فعاليت

۱- ښاغلی ښوونكی دې لاندينی مبارك حديث له ژباړې سره دوه ځله ولولي، بيا دې هر زده‌كوونكی هغه په نوبت سره تكرار كړي.

وعن أبی هريرة، رضي الله عنه، أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: (ما نقصت صدقةٌ من مالٍ، وما زاد الله عبداً بعفوٍ إلا عزاً، وما تواضع أحدٌ لله إلا رفعه الله)[۳].

---

۱- په دې اړه الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلآئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ۞ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلاَّ تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ۞ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ﴾ [الاعراف: ۱۱_۱۳]. ژباړه: موږ ستاسې (د پلار) هستونه پيل كړه، بيا مو ستاسی(د پلار) صورت جوړ كړ، بيا مو پرښتو ته وويل چې ادم عليه السلام ته سجده وكړئ، په دې امر سره ټولو سجده وكړه، خو ابليس په سجده كوونكو كې شامل نه شو.

الله جل جلاله ورته وويل:، ته څه شي له سجدې كولو څخه منعه كړې كله چې ما در ته امر كړی وو، ويې ويل، زه له هغه نه غوره يم تا زه له اوره پيدا كړی يم او هغه له خټې څخه.

الله جل جلاله ورته وفرمايل: نو، ته له دې ځايه كوز شه، ته حق نلرې چې دلته لويي او غرور وكړې، ووزه چې ته په حقيقت كې له هغو كسانو څخه يې چې رسوا وی.

۲- الطبراني

۳- امام مسلم

ژباړه: صدقې کله هم مال نه دی کم کړی او د عفوې له امله الله ﷻ یو بنده ته نه زیاته وي، مګر عزت او هیچا د الله د رضا په خاطر عاجزي او تواضع نه ده کړې، خو هغه الله تعالی لوړ کړی دی.

۲- زده‌کوونکي دې د تواضع د تعریف په پام کې نیولو سره، دوه دوه تنه د تواضع د ښکلې صفت د تر لاسه کولو په اړه خپل نظرونه سره تبادله کړي. په کومو ټکو چې سره یوه خوله شي هغه دې ولیکي، بیا دې هر یو په خپل نوبت سره نورو ته واوروي، اتفاقي ټکي دې په تخته ولیکي.

## تواضع څرنګه تر لاسه کړو؟

تواضع د الله ﷻ یو لوی نعمت دی چې هر مسلمان یې باید د تر لاسه کولو لپاره کوښښ وکړي.
د تواضع د تر لاسه کولو لپاره دوې کړنلارې مهمې دي: علم او تربیت، یا زده کړه او روزنه؛ په دې مطلب له پوهېدلو سره چې تواضع د الله ﷻ یو لوی نعمت دی، نه ښایي څوک خپل ځان لوړ وګڼي او خلک سپک وګڼي؛ تر څو د زیاتو نعمتونو مستحق وګرځي. همدارنګه باید دا ټکی په پام کې ونیسي چې په خبرو او کړنو کې نورو ته درناوی وکړي او د تواضع لار خپله کړي.

**لنډیز:**

- تواضع له خلکو سره د تعامل پر مهال حق ته تسلیمېدلو او خشوع ته ویل کیږي.
- تواضع د کبر، غرور او لویی ضد ده.
- رسول اکرم ﷺ هغو کسانو ته زېری ورکوي چې له فقر او مسکنت پرته د تواضع او عاجزۍ لار خپلوي.
- انسان کولی شي چې د تعلیم او زده کړې په تر لاسه کولو سره د تواضع صفت په ځان کې غښتلې کړي.

**ارزونه**:

۱- تواضع لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ؟

۲- د تواضع ضد څه شی دی؟ له تواضع سره یې توپیر واضح کړئ؟

۳- د فساد او تکبر په حرام والي، له قرآنکریم څخه څرنګه استدلال کوئ؟

٤- شیطان ولې د الله تعالی له رحمت څخه شړل شوی دی؟

٥- الله ﷻ رسول اکرم ﷺ ته له خلکو سره د مهربانۍ په اړه څه فرمایلي دي؟

٦- تواضع له کومو لارو څخه لاس ته راځي؟ واضح یې کړئ.

**کورنۍ دنده**

لاندیني مبارک آیتونه له معنا سره حفظ کړئ:

۱. ﴿تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾

۲. ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾

# د تواضع نښې

د دې لپاره چې په تواضع خپل ځان برابر او له تکبر او ناورا ذلت څخه ځان وژغورو، اړینه ده چې د تواضع یو څو نښې و پېژنو، چې ددغو نښو خاوند ته د اسلامي اخلاقو له نظره متواضع شخص ویل کېږي.

۱- متواضع شخص برى، ناکامي، ښه او بد د مادي شتمنۍ په اعتبار نه ارزوي. له همدې امله د شتمنۍ په لرلو سره ځان پر نورو لوړ نه ګڼي او نه سرمایه دارانو ته د بل چا په پرتله د دنیا د نعمت په اساس غوره والى ورکوي. حقیقي برى او ناکامي د علم، عمل او اخلاقو په اساس ارزوي، نه د ما ل او منصب پر اساس.

۲- متواضع سړی د ځان لپاره پر بل چا غوسه نه کوي، په یو روایت کې راځي چې رسول اکرم ﷺ د خپل ځان لپاره له بل چا غچ نه دی اخیستی، د هغه مبارک خوشحالي او کینه یوازې د الله ﷻ او د هغه د دین لپاره وه، لکه څرنګه چې فرمایي: (مَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلاَّ عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلاَّ رَفَعَهُ اللهُ)[۱].

ژباړه: الله ﷻ عفوه کوونکي شخص ته عزت او لوړه مرتبه ورکوي، هر څوک چې د الله ﷻ د رضا لپاره تواضع وکړي، الله ﷻ یې قدر او منزلت لوړوي.

۳- متواضع سړی تل د خدمت لپاره چمتو وي، د نورو خدمت د تواضع لازمي ثمره ده، هغه څوک چې د نورو خدمت عیب ګڼي، په یقین سره د تکبر او د خپل ځان غوښتنې په ناروغۍ اخته دی. پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (مَنْ كَانَ فِى حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِى حَاجَتِهِ)[۲].

ژباړه: څوک چې د خپل ورور حاجت پوره کولو کې وي، الله ﷻ به د هغه حاجت پوره کړي.

---

۱- رواه مسلم

۲- رواه مسلم

٤- متواضع سړی ټول د کمال صفات الله ﷻ ته منسوبوي. کله هم چې په خپل ځان کې د نیکۍ احساس وکړي، هغه د الله ﷻ فضل او توفیق ګڼي، نو ځکه له غرور او کبر څخه ځان ژغوري او نه مغرور کېږي.

٥- متواضع شخص ذلیل نه وي، هېڅکله د ځان لپاره ذلت نه خوښوي، که څه هم د مال او منصب له پلوه ځان له نورو څخه لوی نه ګڼي، نو د یادو شویو اعتباراتو پر بنسټ ځان له چاکم هم نه ویني، د هغه یقین له امله چې په الله ﷻ یې لري، له ظالمانو څخه نه وېرېږي.

٦- متواضع سړی د کبر او غرور له امله هېڅکله په خپل غلط نظر او دریځ ټینګار نه کوي، هر وخت او له هر چا څخه چې حق واوري، مني یې.

٧- متواضع سړی خپل ځان د علم له زده کړې څخه غني نه ګڼي، تل د علم د زده کړې کوښښ کوي.

٨- له متواضع انسان سره خلک مینه کوي، خلکوته نږدې وي، خبره یې منل کېږي او په ټولنه کې له درنښت څخه برخمن وي.

٩- د ځان خیرنوالی او بد رنګول د تواضع له نښو څخه نه دي، دا هم لازمي نه ده چې متواضع انسان دې تل زړې او خیرنې جامې اغوندي، بلکې له مسلمان څخه غوښتل شوي، تر څو پاکې او ښکلې جامې په تن ولري، الله ﷻ ښایسته دی، ښایست خوښوي، رسول اکرم ﷺ فرمایي: د الله ﷻ د نعمتونو اغېزې باید په مسلمان کې ښکاره شي. د حق نه منل او خلکو ته په ټیټه سترګه کتل د تواضع خلاف کار دی، خو د ښایسته جامو اغوستل او ځان پاک ساتل هېڅ کله هم د تواضع خلاف عمل نه دی.

## فعالیت

پورتنی لوست په پوره ځیرکتیا سره وګورئ. هره شمېره په یوه جمله کې لنډه او په کتابچو کې یې ولیکئ.

**بیلګه:**

| | |
|---|---|
| ۱ | معنویت د انسان د برياليتوب یوازینی معيار دی نه مادیت. |
| ۲ | |
| ۳ | |
| ٤ | |
| ٥ | |
| ٦ | |
| ۷ | |
| ۸ | |
| ۹ | |

**لنډیز:**

• د تواضع او معنوي ارزښتونو ارزښتناکي نښې عفوه او بښنه، د نورو خدمت، د نفس عزت، حق ته رجوع، د علم او فضیلت لټول او داسې نور نیک صفتونه دي.

**ارزونه:**

۱- د متواضع انسان پر وړاندې د برياليتوب معیار څه دی؟

۲- آیا پیغمبر ﷺ د خپل ځان لپاره له چا څخه انتقام اخیستی دی؟ د رسول اکرم ﷺ غضب او غوسه د څه لپاره وه؟

٣- د ښېګڼې فضیلت او د خلکو د خدمت په اړه د پیغمبرﷺ له سنتو څخه دلایل بیان کړئ.

٤- د ذلت او تواضع تر منځ توپیر واضح کړئ.

٥- د حق منلو او زده کړې په اړه د تواضع غوښتنه څه ده؟ واضح یې کړئ.

٦- آیا د خیرنو جامو اغوستل او د شکل بد رنګول تواضع ده؟ یا دا چې له ښکلو جامو او پاک بدن سره هم تواضع ممکنه ده، زده‌کوونکي دې په ترتیب سره په دې هکله وضاحت ورکړي.

## کورنۍ دنده

د لاندیني مبارک حدیث شریف ژباړه د خپل مسجد له امام څخه زده کړئ او په خپلو کتابچو کې یې په ښه خط سره ولیکئ.

عن ابن عمر رضی الله عنهما أنَّ رَسُـول الله ﷺ قَالَ: (المُسْـلِمُ أَخُو المُسْـلِم، لا يظْلِمهُ، وَلاَ يسْلمُهُ. مَنْ كَانَ فى حَاجَة أخيه، كَانَ اللهُ فى حَاجَته، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِم كُرْبَةً، فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بها كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يوم القِيامَة، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ يوم القِيامَةِ)[١].

---

١- متفق علیه

# استقامت

د مسلمان لپاره یوه اخلاقي ځانګړتیا په هر کار کې د هغه استقامت دی. په مبارکو آیتونو او احادیثو کې استقامت په دوو معناوو راغلی: لومړی د ښه کار او سیده لارې خپلول، دویم دا چې په یاده شوې لار کې مستقیم پاتې کېدل او پر هغې ثبات ښودل.

د لومړۍ معنا پر بنسټ استقامت د هر انحراف او بې لارېتوب، افراط او تفریط څخه لرې والي ته شامل دی. له همدې امله نېغې او سیده لارې ته " صراط مستقیم " ویل کېږي، ځکه مستقیم له قوام څخه اخیستل شوی چې د اعتدال په معنا دی او اعتدال د عدم افراط او تفریط په معنا دی.

## د استقامت ستونزې:

اسلام له خپلو لارویانو غواړي چې د تل لپاره د نېغې لارې په لټه کې شي، لکه څرنګه چې په یوه شپه او ورځ کې د الله ﷻ څخه څو څو ځله د هدایت غوښتنه کوي. همدارنګه باید په عمل کې کوښښ وکړي چې دغه لار خپله او د هرې بې لارۍ او بلې تګ لارې څخه په جدي توګه ځان وساتي.

د نېغې لارې خپلول له ځینو ستونزو سره مل وي، چې په آسانۍ لاس ته نه راځي ځکه اخلاقي او ټولنیزې ستونزې د دې لارې خنډ او ډېر خلک له نېغې لارې څخه لېرې والي او بې لاریتوب ته هڅوي.

اصل دا دی چې مسلمان په ټولو شرایطو کې که هر څومره ډېرې ستونزې ولري، باید پر سمه لار روان او بل لوري ته کوږ نه شي، خو که څوک ونه شي کولای چې پر هغې لوړې کچې باندې عمل وکړي، نو د اســلام مبارک دین د خلکو د ناتوانۍ په پام کې نیولو ســره له هغوی غواړي چې مطلوبې کچې ته ځان نږدې او د خپل توان مطابق په دې لړ کې کوښــښ وکړي. رسول اکرم ﷺ فرمایي: (سددوا

وقاربوا) [1] يعني، کارونه په صحیح توګه ترسره او ځانونه حق ته نږدې کړئ.

خو هغه څوک چې له موانعو سره سره سمه لار په قوت او متانت خپله کړي او په دې لار کې له ځانه کومه سستي او کمزوري ښکاره نه کړي، په دې صورت کې يې د کامل استقامت صفت ترلاسه کړی، ځکه چې د استقامت دويمه معنا په سمه لار ثبات او مقاومت دی، پوره استقامت د سمې لارې خپلول او پر هغې ثابت پاتې کېدو ته ويل کيږي.

### د استقامت پايلې او مرتبې:

هغه کسان چې په پوره استقامت موصوف دي، د لوړو مرتبو خاوندان دي، الله ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ﴾ [سورت فصلت، آيت: ۳۰]

ژباړه: کومو خلکو چې وويل الله زموږ رب دی او بيا پر هغه ثابت قدم پاتې شول. په يقيني ډول پرهغو باندې پرښتې نازلېږي او هغو ته وايي چې مه ويرېږئ، غم مه کوئ او خوښ اوسئ د هغه جنت په زيرې سره چې له تاسې سره د هغه وعده شوې ده.

استقامت غوره کول، له ستونزو څخه نه ويريدل، د موانعو څخه تېرېدل، ديانت خپلول او د رسالت اداء کول، تل له درندو تکليفونو سره مل وي. له دې امله رسول اکرم ﷺ فرمايي: " د هود سورت سپين ږيری کړم " ځکه په دغه سورت کې راته داسې امر شوی دی ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ﴾. [سورت هود، آيت: ۱۱۲]

ژباړه: پر سمه لاره همغسې برابر او ثابت قدم اوسه، لکه څرنګه چې درته حکم شويدی.

کله چې له رسول اکرم ﷺ څخه د هغه د صحابوو له جملې څخه يوه پوښتنه وکړه:"ماته داسې خبره وکړه چې له تا وروسته يې له هيچا څخه و نه غواړم" ورته ويې فرمايل:" و وايه په الله مې ايمان راووړی، وروسته په هغه استقامت غوره کړه "[2].

له دې پرته چې استقامت په آخرت کې د لوړو درجو لامل ګرځي، همدا رانګه په دنيا کې هم ښې او له برکته ډکې پايلې لري، يوه يې داده چې انسان د الهي اوامرو منلو ته تياروي، لکه چې الله ﷻ

---

۱- رواه مسلم (۱۴۱/۸)

۲- رواه مسلم

فرمايي: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِين، لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ﴾ [سورت التكوير، آيت: ۲۸]

ژباړه: ندی دا (قرآن) خو د ټولو نړيوالو له پاره يو نصيحت دی، له تاسې نه هر هغه چاته (نصيحت دی) چې غواړي په سمه لار لاړ شي.

۱- همدارانګه کېدای شي چې مادي ثمره او برکت هم ولري، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأَنْ لَوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيناهُمْ مَاءً غَدَقًا﴾ [سورت الجن، آيت: ۱۶].

ژباړه: که خلك په ثبات سره پرسمه لاره تللي وای، نو موږ به هغوی ته ډېرې اوبه (او امکانات) ورکړې.

دا يوه اخلاقي ځانګړتيا ده چې د اسلام ځينې علماوو يې په اړه داسې فرمايلي: (أعْظَمُ الْكَرَامَةِ لُزُوْمُ الْاسْتِقَامَةِ) يعنې: د كرامت لوړه درجه (کومه چې له الهي اولياوو څخه ليدل شوي) په حق استقامت او ټينګ پاتې کېدل دي.

## فعاليت

هر زده‌کوونکی دې يوه داسې بېلګه بيان کړي چې له ستونزو او خنډونو سره په ژوند کې يې سم کار ترسره کړی وي.

**لنډيز:**

- په اسلامي اخلاقو کې استقامت د سمې لارې پېژندل، پر هغې ثابت پاتې کېدو ته ويل کيږي.
- په اسلامي اخلاقو استقامت او د دې لارې لارويتوب يو ستونزمن کار دی چې آزموينښت ورسره مل وي.
- د اسلامي اخلاقو په صحيح لاره استقامت او ثبات په دنيا او آخرت کې ډيرې لويې او سترې ښې پايلې لري.
- الله ﷻ پر استقامت ولاړو بنده ګانو ته په دنيا کې د خپلو نعمتونو زيرې ورکړی دی.

**ارزونه**:

۱- سمي لارې ته ولې " صراط المستقیم " ویل شوي دي؟

۲- هغه سړی چې نشي کولای، ډېر ښه عملونه ترسره کړي، نو باید څه وکړي؟

۳- استقامت په دوو معناګانوسره راغلی، واضح يې کړئ؟

٤- رسول اکرم ﷺ فرمایلي: (د هود سورت سپین ږیري کړم) د دې مبارکې وینا مطلب واضح کړئ؟

۵- په دې دنیا کې استقامت څه پایلې له ځانه سره لري؟

## کورنۍ دنده

د اعتدال د ارزښت او افراط او تفریط څخه د ځان ژغورلو په اړه لس کرښې مقاله ولیکئ.

# غښتلتيا (قوت)

له هغو اخلاقياتو څخه چې د اسلام مقدس دين يې له خپلو لارويانو څخه غواړي، ترڅو هغه وپيژني او خپل صفت يې وګرځوي، يو هم غښتلتيا او توانمندي ده.

اسلام غواړي چې يو مسلمان بايد د شخصيت او قوت خاوند وي، تر څو د خپل ژوند مسير په قوي روحيې او لوړ همت سره پلې کړي او د ناوړو حوادثو له امله د لوړو موخو او ارمانونو څخه بې برخې پاتې نشي.

توانمندي په يوه سړي کې په مختلفو بڼو سره ښکاره کېږي. چې يوه يې له تردد او دوه زړه توب څخه راوتل دي. يو مؤمن مسلمان چې له دوه زړه توبه ځان وساتي، د نا خوښو حوادثو پر وړاندې ځان نه بايلي، ځکه چې هغه يو قوي انسان دی. الله ﷻ داسې خلک خوښوي، رسول اکرم ﷺ فرمايي: (الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ)[1].

ژباړه: قوي او غښتلی مؤمن د الله پر وړاندې له کمزوري او بې وسه مؤمن څخه غوره دی.

## حقيقي قوت کوم دی؟

د خلکو تعامل بالخصوص که بې فکره او يو ډول بې ادبي هم ورسره مل وي، کولی شي انسان ناکراره کړي. خو قوي انسانان په داسې حالاتو کې پر نفس واکمن او خپله غوسه کنترولوي. په يو مبارک حديث کې رسول اکرم ﷺ فرمايي: (لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ

۱- رواه مسلم

نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ)[1].

ژباړه: غښتلتی انسان هغه نه دی چې نور خلك په پهلوانۍ کې په ځمکه راوپرزوي، بلکې قوي انسان هغه څوك دی چې د غوسې پر وخت خپل ځان کنترول کړي.

د پردیو خلکو په منځ کې اوسېدل او له هغوی سره اړیکې کله کله د دې لامل ګرځي چې انسان د رایې په استقلال کې کمزوري کړي، نه ځان آزاد ويني او نه آزاد تصميم نيولی شي، بلکې تل نورو ته ګوري او په هغوی پسې روان وي او دا خبره په ناپوهۍ تکراروي چې (که غواړې چې رسوا نشې د ډلې ملګرتیا کوه) چې دا صفت له قوي انسان سره مناسب نه دی، بلکې د شخصيت د ضعف نښــه ده. رســول اکرم ﷺ فرمايلي: (لاَ تَكُونُوا إِمَّعَةً، تَقُولُونَ: إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا، وَإِنْ أَسَاءُوا أَسَأْنَا، وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنُوا أَنْ تُحْسِنُوا، وَإِنْ أَسَاءُوا أَلا تَظْلِمُوا)[2].

ژباړه: هيڅوك دې له تاسې داسې څوك نه غوره کوي چې وواېي زه د خلکو سره يم، که هغوی راسره ښه کوي، ښه به ورسره کوم او که بدي راسره کوي، زه به هم بدي ورسره کوم، بلکې ځان دې داسې برابر کړي چې که هغوی ښه کول تاسې، هم ښه کوئ او که هغوی بد کول، تاسې له بدۍ او ظلم څخه ځان ژغورئ.

ځواکمن انسانان تل روښانه کړنلاره غوره کوي ځکه چې تياره او کړکېچنه تګلاره د سستۍ نښه ده چې د شخصيت په کمزورتيا دلالت کوي. داسې خلك د دې لامل ګرځي چې نور خلك د دوی په اړه په تياره کې ولوېږي او د دوی رښتينې څېره ونه پېژني چې له دوی سره په تعامل کې د تېروتنې ښکار ګرځي.

همدارنګه غښتلي انسانان په غښتلي باور چې پرځان يې لري، په هيله منده ژوند کوي او د خپل ژوندانه چاپېريال پراخ او رنګارنګ بيامومي او د پرمختګ او برياليتوب فرصت متنوع ګڼي، له دې امله دوی له ناهيلۍ، حسد او منفي فکر څخه په تېښته کې وي، لکه څرنګه چې د

---

۱- متفق عليه
۲-الترمذی

رسول اکرم ﷺ په صفت کې راځي چې خوشبيني او نيک فال نيول به يې خوښول، په هماغه اندازه به يې بدبيني او بدفال نيول نه خوښول.

## فعاليت

يو داسې مثال ذکر کړئ، تر څو واضح کړي چې تاسې په نورو پسې نه ځئ او د خپلې مستقلې رأيې خاوندان ياست.

## لنډيز:

د ډېرو اخلاقي ارزښتونو ساتنه او لاسته راوړنه قوت او غښتلتيا ته اړتيا لري.

د اسلام مقدس دين له مؤمن انسان څخه غواړي چې قوي او غښتلی وي او د خپل ژوند مسير په لوړه روحيه او عالي اهدافو سره وټاکي.

د اسلامي اخلاقو له مخې قوت او غښتلتيا جسمي توان او د نورو تر پښو لاندې کولو ته نه ويل کيږي، بلکې د اسلام له نظره د غښتلتيا معيار دادی چې انسان د قهر او غوسې پر وخت خپل ځان کنترول کړي. قوي اراده ولري او له ربښتينتوب او ربښتينولی څخه دفاع وکړي او پر ځان باور ولري او ښايسته راتلونکي ته هيله من و اوسي.

## ارزونه:

١. (الله ﷻ قوي مؤمن خوښ ګڼي) دا موضوع شرحه کړئ.

٢. د الله ﷻ پر وړاندې کوم قوت قبول دی؟ مادي قوت، که معنوي قوت او که دواړه؟

٣. پر ځان واکمن کېدل د څه نښه ده؟ له نبوي مبارک حديث څخه يې دليل راوړئ.

٤. خلک ولې له يو شمېر خلکو سره د چلن له امله د سرګردانی ښکار کيږي؟

۵.ستاسو په گمان د شخصیت له قوت سره څه اړیکه لري؟ واضح یې کړئ.

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې خپلو لوړو موخو ته د رسېدو په لار کې د ځواک د اغېز په اړه یو لنډ مطلب ولیکي.

# د توانمندۍ ډولونه

په تیر لوست کې وویل شول چې توانمندي له اسلامي اخلاقیاتو څخه ګڼل کېږي، چې د انسان په شخصیت کې مختلف مظاهر لري. نو انسان ته په فردي او ټولنیز ژوند کې کوم ډول قوت ډېر ارزښت لري؟ او کوم ډول قوت د استقلال او ملتونو د پراختیا تضمین ورکوي؟

## ظاهري او باطني غښتلتیا:

باید پوه شـو چې غښـتلتیا پـه دوو ظاهري او باطني اړخونـو پورې تړاو لري. پـه دواړو برخو کې ارزښـتناکه ده. هغه څوک چې سـالم او قوي بدن ولري، د رواني سـلامتیا او عصبي توازن څخه زیات برخمن وي. له دې امله یو مسـلمان باید خپل صحت او سـلامتیا ته زیاته پاملرنه وکړي او د ناروغیو په وړاندې وقایې او حفاظت ته ډېر خیر و اوسـي. رسـول اکرم ﷺ په دعا کې فرمایي: (اللهُم عَافِني في بَدَني، اللهُمَّ عَافِني فِي سَمعِي، اللهُمَّ عَافِني فِي بَصرِي)[1].

ژباړه: اې الله بدن مې روغ ولرې، اې الله غوږونه مې روغ ولرې او اې الله سترګې مې روغې ولرې. له یاد شوي روایت څخه معلومېږي چې یو مسلمان باید خپلې روغتیا ته ډېر ارزښت ورکړي، ځکه چې انسان د روغ بدن په لرلو سره د الله ﷻ ښه عبادت او د هغه بنده ګانو ته په خیر رسولو او ښه خدمت کولو کې وړانده اخیستلی شي.

خو له بدني قوت او غښتلتیا څخه د ارادې توانمندي ارزښتناکه ده، ځکه چې ملي، انساني او ديني لوړو هیلو ته د رسېدلو په لار کې یوې کلکې ارادې ته اړتیا ده. کوم کسان چې نه شي کولای پر خپل هوډ باقي پاتې شي او خپلې موخې په جدیت سره وځاري، هغوی کمزوري او ناکام دي او نه شي کولای چې خپلو ملتونو ته ګټه ورسوي.

---

۱- سنن ابی داوود

## د ارادې د غښتلې کېدو لارې چارې:

د ارادې د غښتلتیا یوه لار د نفسي غوښتنو مهار کول او د سرغړونې په صورت کې یې کنترولول دي. هغه انسانان چې د غرایزو او نفسي غوښتنو پر وړاندې ناتوانه دي، نه شي کولای چې د غښتلې ارادې او عزم خاوندان شي.

د اسلام سپېڅلی دین غواړي چې لارویان یې باید له کلکې او پیاوړې ارادې څخه برخمن وي، تر څو په خپل رسالت کې چې په غاړه یې لري، له ناکامۍ سره مخامخ نه شي. قرآن کریم د کلکې ارادې مؤمنان داسې ستایي:﴿ وَكَأَيِن مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا﴾ [سورت آل عمران، آیت: ۱٤٦].

ژباړه: له دې نه مخکې ډېر پیغمبران داسې تېر شوي چې د هغو په ملګرتیا کې ډېر رب والا (رب پرست) خلک جنګېدلي وو د خدای په لار کې چې کوم غمونه پر هغو راغلل، هغوی پرې سست نه شول، هغوی کمزوري ښکاره نه کړه، هغوی (د باطل پر وړاندې) سرټيټي نه شول.

له یاد شوي مبارک آیت څخه څرګندېږي چې د رسالت اداکول او د الله ﷻ په لار کې بریالیتوب په غښتلې ارادې او تصمیم لرلو پورې تړلي دي.

ایمان د ارادې په غښتلتیا کې یو ارزښتناک لامل دی. صحیح عقیده او قوي ایمان، انسان له ویرې او تردید څخه ژغوري او د هغه زړه ته قوت او ارامي وربښي. کله چې یاد شوی ایمان په انسان کې نه وي، د انسان زړه ماتېږي او شخصیت یې له منځه ځي او نه شي کولای چې غښتلې اراده او قوي عزم ولري.

## غښتلتیا د مسؤولیت د ادا کولو معیار دی:

کله چې انسان غښتلی شخصیت ولري او له کمزورتیا او سستۍ څخه نجات ومومي، کولای شي چې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې مسؤولیتونه پر غاړه واخلي. علماء یاد شوی مفهوم له دې مبارک آیت څخه تر لاسه کوي چې فرمايي: ﴿إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ﴾ [سورت القصص، آیت: ۲٦]

ژباړه: یو ډېر ښه سړی چې ته یې نوکر نیسې، هماغه کېدای شي چې غښتلی او امین وي. بالعکس

هغه سرې چې د لازمې غښتلتيا او قوت خاوند نه وي، که څه هم نورې ښېګڼې هم ولري، بايد درانه مسؤوليتونه او د نورو برخليك ورته ونه سپارل شي، لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ خپل جليل القدر صحابي، ابوذر غفاري رضي الله عنه ته وفرمايل: (يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ)[1].

ژباړه: ته کمزورى يې، امارت يو امانت دى او د قيامت په ورځ شرمنده ګي او پښېماني ده.

همدارنګه بايد د يوې ټولنې وګړي د غښتلتيا او قوت له صفت څخه برخمن او د قوت خاوندان وي، تر څو خپلې اړتياوې پوره کړاى شي، له خپل ځمکني تماميت او نواميسو څخه دفاع وکړي او کله چې له خطر او تهديد سره مخامخ شي، نو ذلت او خوارى ته غاړه کې نهږدي. له دې امله الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ﴾ [سورت الآنفال، آيت: ٦٠]

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت د هغوى د مقابلې لپاره برابر کړئ.

له ياد شوي مطلب څخه دا پايله اخلو چې سستي او کمزوري يو ناوړه صفت دى، بالعکس قوت او غښتلتيا ښه صفت دى چې مسلمانان او اسلامي ټولنې بايد پرې سمبال وي.

## فعاليت

زده‌کوونکي دې د ټولګيوالو پر وړاندې د روغتيا د ساتلو او بدني غښتلتيا په اړه خپل نظريات بيان کړي.

**لنډيز:**

١- قوت او غښتلتيا مادي او معنوي يا ظاهري او باطني دواړو اړخونو ته ويل کېږي.

٢- اسلامي اخلاق د ظاهري او باطني دواړو اړخونو په غښتلتيا باندې ټينګار کوي.

٣- له ظاهري او مادي قوت څخه باطني او معنوي غښتلتيا لومړيتوب لري.

٤- د اسلام مقدس دين له خپلو لارويانو څخه غواړي چې د غښتلې ارادې خاوندان وي، د ارادې د غښتلتيا يوه لار دا ده چې ټولې نفسي غوښتنې تر خپل کنټرول لاندې راوستل شي.

---

١ البيهقى

٥- د ایمان د تقویت یو ارزښتناک لامل د ایماني ارادې غښتلتیا ده.

٦- هغه انسانان چې د واقعي او قوي ارادې خاوندان نه وي، خپلې دندې په بریالیتوب سره سرته نه شي رسولای.

**ارزونه:**

١- آیا قوت او غښتلتیا یوازې په ظاهري بڼې پورې اړه لري؟ هم وواياست چې کوم قوت غوره دی؟ په نبوي حدیث استدلال وکړئ.

٢- څرنګه کولای شو چې ملي او دیني رسالت په بریالیتوب سره اداکړو؟

٣- د ارادې د تقویت لپاره کوم لامل ډېر اغېزناک دی؟

٤- آیا کمزورو کسانو ته ټولنیز مسؤولیت سپارل روا دي؟ دلیل یې ذکر کړئ.

٥- آیا فردي غښتلتیا د ملي غښتلتیا د غنا لامل ګرځي؟

**کورنۍ دنده**

زده‌کوونکي دې د ملي غښتلتیا د کرښلارو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له یوه مخ څخه کمه نه وي.

# غیرت

غیرت له هغو ښو خویونو څخه دی چې قدر او منزلت یې اسلام خورا لوړ ښودلی او له آبرو څخه دفاع او پر خپل حریم باندې ننګ کول یې جهاد بللی دی. کله هم انسان له خپل ناموس څخه د دفاع لپاره اړ کېږي چې وسله راوچته کړي او خپلې وینې توی کړي او یا ځان وژل کېدلو ته وړاندې کړي، دغه سړی د شهادت د درجې ګټونکی دی.

له حضرت سعید بن زید رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې ویل یې: که څوک له خپل مال څخه په دفاع کې مړ شي، شهید دی، که څوک له ځان څخه په دفاع کې مړ شي، شهید دی، که څوک له خپلې عقیدې څخه په دفاع کې مړ شي، شهید دی، که څوک له خپل اهل څخه په دفاع کې مړ شي، شهید دی. نو غیرت باید وپېژندل شي چې غیرت څه ته وايي او پر څو ډوله دی؟.

## غیرت په لغت کې:

غیرت د غار، یغیر باب مصدر د ننګ کولو پر معنا دی.

او په اصطلاح کې: له خپل ناموس، آبرو او یا مقدساتو څخه د تیري په وخت کې د انسان دفاع کولو ته غیرت ویل کیږي.

## د غیرت موخې:

دغه قوت الله جل جلاله په انسان کې د انساني کرامت د مصؤنیت او د نسب د ساتنې لپاره ایښودلی دی ځکه خو ویلی شوي دي: د هر قوم په نارینه وو کې چې څومره غیرت شتون لري، ښځه به یې په هماغه پرتله پاک لمنې وي.

او کله هم دغه قوت له دین، وینې، مال او ناموس څخه ددفاع لپاره استعمالیږي.

## د غيرت مشروعيت:

په قرآن کريم کې د غيرت کلمه نه ده کارول شوې ولې د (حَمِيَّةَ) لفظ چې عين معنا ا فاده کوي راغلی، خو هغه هم د مذموم غيرت په سياق کې، څکه خو قرآن کريم هغه په حميّة الجاهلية باندې ستايلی دی، لکه چې فرمايي: ﴿إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ﴾[الفتح: ٢٦]

ژباړه: کله چې کافرانو جاهلي تعصب او کينې ته په زړونو کې ځای ورکړ.

په نبوي احاديثو کې د غيرت کلمه پر ناموس، دين او عقيدې د غيرت کولو په معنا کارول شوې ده. پيغمبر ﷺ دې ټکي ته په اشارې کولو سره فرمايي چې الله تعالی تر هر چا غيرتي دی، همدا لامل دی چې حدود يې وضعه کړي دي. د انسان فطري غيرت هله په جوش راځي چې ناموس يې د تيري نښه وګرځي او ديني غيرت يې هغه مهال څپانده کيږي چې مقدسات يې په ګواښ کې ولويږي او يا تر پښو لاندې شي.

## غوره او نا غوره غيرت:

غيرت غوره هم کېدای شي او منفي (ناغوره) هم، له دې امله الله تعالی ځينې مهال غيرت خوښوي او ځينې مهال يې بد ګڼي، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (يو ډول ننګ او غيرت الله تعالی خوښوي او يو ډول نه خوښوي)[1].

بې شکه که غيرت له ناموس او مقدساتو څخه د دفاع لپاره وي، هغه بيا غوره غيرت وي او د ميړانې نښه وي، څکه چې دغه غيرت له قوي ايمان څخه سرچينه اخلي، نولازمه ده چې انسان له خپل دين اوعقيدې څخه د د فاع په خاطر پورته شي او که غيرت بې ځايه او د بدګمانی پر بنسټ ولاړ وي، په دغه صورت کې بيا د دغه سړي غيرت ناغوره وي. ده او کورنی ته يې ډيرې ستونزې او بلاګانې زيږوي، ډير څله د يوې ښځې په اړه د دروغجنو تبليغاتو پر بنسټ د دې او خاوند تر مينځ بدګماني پيدا کيږي، چې د دوی د وژنې او يا يې تر مينځ د بيلتون او طلاق لامل ګرځي.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي چې درې تنه به هېڅکله هم جنت ته داخل نه شي (ديوث، الرجلة، و مدمن الخمر) اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين وويل: د الله رسول! مدمن الخمر(شراب څښونکی) خو پېژنو دا ديوث څوک دی؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: ديوث هغه څوک دی چې هيڅ

---

١- مسند احمد

باک نه ګڼي چې څوک یې کور ته ورغلی دی، بیا اصحابو کرامو رضوان الله علیهم اجمعین وویل: (الرجلة من النساء) څوک ده یا رسول الله! رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه ښځه چې د نارینه وو پېښې کوي.

## د غیرت بېلګې:

۱- په خپلې ماندینې د سړي غیرت: د تاریخ کتابونو لیکلي دي: کله چې باغیان د مسلمانانو د درېیم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه په کور ور وختل، د حضرت عثمان رضي الله عنه میرمنې نائلة رضی الله عنها وغوښتل چې سر تور سر د باغیانو مخې ته ورووزي، تر څو پرې غیرت وکړي او له خپل دې ناروا اقدام څخه لاس واخلي، حضرت عثمان رضي الله عنه پرې غږ وکړ، خبردار پوړنی پر سر کړه، په الله تعالی قسم انګړ ته د باغیانو ننوتل پر ما ډېر آسانه دي له دې چې ستا د وېښتانو بې حرمتي وشي.

۲ـ روایت دی چې یوه ښځه په ۲۸۶ هـ ق کال د (ری) د ښار قاضی ته راغله او له خپل خاوند څخه یې شکایت وکړ چې خاوند یې د دې مهر چې پنځه سوه روپۍ دي، نه ورکوي. خاوند یې منکر شو. ښځې د خپلې دعوی د اثبات لپاره شاهدان راوستل او هغوی یې هم په حق کې ګواهي ورکړه. دغه مهال قاضي وویل: د دې لپاره چې نوموړې ښځه وپېژندل شي چې رښتیا هم د دې سړي ښځه ده، باید خپل مخ ښکاره کړي، خاوند یې په دې مقصد چې د مېرمنې ستر یې ساتلی وي، مهر پر ځان ومانه، میرمنې چې ولیدل خاوند یې د دې د ستر ساتلو په غرض مهر پر ځان ومانه، قاضي ته یې وویل: ما خپل مهر په دنیا او آخرت کې ور بښلی دی. قاضي له دې پېښې حیران شو او ویې ویل: چې دا پیښه دې د اخلاقي مکارمو په لړلیک کې ولیکل شي.

۳ـ د المعتصم بالله عباسي د خلافت پر مهال یوه مسلمانه مېرمن د کافرانو په بند بندي شوه. دغه ښځه چې د وخت له خلیفه معتصم بالله سره یې له دیني اړیکو پرته بل هېڅ ډول تړاو نه درلود، د کافرانو د کړونې پر مهال فریاد کوي وامعتصماه کله چې دغه فریاد معتصم بالله ته رسېږي، ګړندی پاڅېږي او وایې خورجانې په ننګه دې در ورسیدم، له خورا لوی لښکر سره د نوموړې میرمنې د ژغورلو لپاره په داسې حال کې چې د هر لښکري زړه له غیرت څخه ډک و، پر نوموړي ښار د

حملې لپاره وخوځېد، له سختې جګړې وروسته يې وکولای شول چې د ښار په نيولو نوموړې بې
بې او په زرګونو نور نارينه او ښځينه مسلمان بنديان د کافرانو له قيده وژغوري او ښار فتحه کړي.

**ارزونه**:

۱- څوک چې له دين، مال او شتمنۍ، ناموس او خپل ځان څخه په دفاع کې مړ شي، شهيد دی.
د دې خبرې د اثبات لپاره يو دليل راوړئ.

۲- په لغت او اصطلاح کې د غيرت معنا بيان کړئ.

۳- د غيرت ډولونه وواياست.

٤- په قرآن کريم کې د غيرت پر معنی کوم لفظ کارول شوی دی.

٥- په نبوي احاديثو کې غيرت پر څو معناوو کارول شوی دی.

٦- غيرت په کوم وخت کې غوره او په کوم وخت کې ناغوره وي.

۷- د الله تعالی غيرت او د يو نارينه غيرت پر خپلې ماندينې باندې روښانه کړئ.

۸- د اسلام په تاريخ کې غيرت د يو لړ سترو پېښو لامل ګرځېدلی دی، د دې موضوع لپاره يوه بېلګه بيان کړئ.

**کورنۍ دنده**

د غيرت په اړه يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو لږه نه وي او د هغه د اثبات لپاره يوه کيسه چې ستاسې د ژوند په اوږدو کې پېښه شوې وي او يا مو له چا اورېدلې وي او يا مو په کوم کتاب کې لوستلې وي، بيان کړئ.

# عفوه

په یو روایت کې راغلي چې یوه ورځ حضرت حسین رضي الله عنه له خپلې وینځې څخه اوبه وغوښتې، هغې ډېرې ګرمې اوبه راوړې، خو ناڅاپه یې لوښی له لاسه پرېوت او بادار یې وسوځېد، بادار یې غوښتل چې سزا ورکړي، وینځې یې ورته وویل: د الله تعالی وینا در یاده کړه، هغه وویل: کومه وینا؟ وینځې وویل: الله تعالی فرمايي: ﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ﴾ [آل عمران: ۱۳٤]

ژباړه: هغه خلک چې خپله غوسه نه ښکاره کوي.

حضرت حسین رضي الله عنه وویل: ښه ده غوسه مې سړه شوه، بیا وینځې وویل: ﴿وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾

ژباړه: او خلکو ته ښښنه کوي. حضرت حسین رضي الله عنه وویل: ښښنه مې درته وکړه، بیا وینځې وویل: ﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ [آل عمران/۱۳٤]. ژباړه: او الله تعالی نیکي کوونکې خوښوي.

حضرت حسین رضي الله عنه وویل: د الله تعالی لپاره دې ته آزاده وې.

د دې کیسې له اورېدلو سره سم باید د عفوې د معنا او مفهوم په اړه رغنده معلومات تر لاسه کړو. له دې امله لاندې پوښتنې مطرح کېږي: عفوه څه ته وايي؟ د مشروعیت دلایل یې کوم دي؟ په ژوند کې یې اغیز څه دی؟

## د عفوې تعریف:

عفوه د عفا یعفوا د باب مصدر او اصل ماده یې ع ـ ف ـ و ـ ده.

او د لغت له مخې پر دوو معناوو ده: ۱ـ د یو شي پرېښودل ۲ـ د یو شي غوښتل.

او په اصطلاح کې د خلکو له اشتباهاتو او تېروتنو تېرېدل او د سزا نه ورکولو په معنا ده.

## له اسلامي نصوصو څخه د عفوې د مشروعیت دلایل:

### لومړی- عفوه او تېرېدنه په قرآن کریم کې:

الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِين﴾ [الاعراف: ۱۹۹]

ژباړه: ځان تېرېدنه کوه، پر ښو کارونو امر کوه او له نا پوهانو نه مخ واړوه.

الله تعالی په دغه مبارک ایت کې په مستقیم ډول پر عفوې او ځان تېرېدنې د سمبالېدلو امر کړی دی. بناءً اړینه ده چې د حضرت پیغمبر ﷺ لاررویان په ځانګړې ډول اسلامي بلونکي دغه ځانګړنه د خپلو اخلاقو برخه وګرځوي.

همدارنګه فرمايي:

﴿وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِين﴾ [آل عمران: ۱۳٤]

ژباړه: هغه خلك چې خپله غوسه نه ښکاره کوي او خلکو ته عفوه کوي او الله تعالی د ښو کارونو کوونکي خوښوي.

## په احاديثو کې د عفوې او ځان تېرېدنې یاد:

• له حضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې پیغمبر ﷺ هېڅکله نه ښځه وهلې ده او نه هم خادم، خو دا چې په جهاد کې یې څوك وهلي وي.

د هېڅ يو تېري غچ يې هم نه دی اخيستی چې شخصاً پرده مبارك شوی دی. پرته له هغو تېريو چې د الله په حرماتو به کېده او هغه ﷺ به يې غچ اخيستلو.

• حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت کوي: چې ګواکې پيغمبر ﷺ ته ګورم چې د يو پيغمبر کيسه کوي او وايي: قوم يې وواهه، وينې يې پرې وبهولې، هغه ﷺ به خپلې وينې پاکولې او ويل به يې: (اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لا يَعْلَمُونَ)[1].

ژباړه: ای الله زما قوم ته بخښنه وکړه دوی نه پوهېږي.

• همدا رنګه ډېرې صحنې د پيغمبر ﷺ په ژوند کې تر سترګو کېږي چې د هغه ﷺ په وجود مبارك کې د دغه اوچت خصلت په شتون ګواه دي. د هغو له جملې څخه يوه هم دا وه چې يوه ورځ پيغمبر ﷺ طايف ته لاړ، تر څو د طايف اوسېدونکي اسلام ته راوبولي، خو د هغوی له لوري دومره سخت وځورېدلو چې په پای کې يې ملاتړ ته د غرونو ملك راواستول شو او هغه ﷺ ته يې وړانديز وکړ چې که غواړې، ځورونکي يې د دغو دوو غرونو تر منځ وځپي خو پيغمبر ﷺ يې له ګناه ورتېر شو او ويې ويل: هيله لرم چې په راتلونکي نسل کې يې داسې څوك

---

۱- المسلم

پیدا شي چې الله تعالی په وحدانیت وپېژني او عبادت یې وکړي.

همدا رنګه یې د مکې له فتحې وروسته د مکې ټول اوسېدونکي پر ټولو هغو نادودو، جرمونو او جنایاتو سربېره چې د دوی په حق کې یې تر سره کړې وو، وبښل او له سزا ورکولو یې تېر شو.

**فعالیت**

ګران زده‌کوونکي دې د افغانستان د ملت د افرادو ترمنځ د عفوې او تېرېدنې د ارزښت په اړه خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایلې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي او ټولګیوالو ته دې ولولي

## د عفوې فضیلت:

الله تعالی په عفو او تېرېدنې کې په زړه پورې پایلې او غوره فضایل نغښتي، لکه چې فرمايي: ﴿وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [التغابن: ١٤]

ژباړه: که عفوه وکړئ، د خلکو له تېرې څخه مخ واړوئ او بخښنه وکړئ(نو خدای تعالی به تاسې هم له خپلې عفوې، رحم او ښښنې څخه برخمن کړي) ځکه چې الله تعالی ښښونکی او مهربان دی.

او په بل آیت کې فرمايي: ﴿وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ [النور: ٢٢]

ژباړه: باید چې عفوه او تېرېدنه وکړئ، آیا نه غواړئ چې الله تعالی مو وبښي(څومره چې غواړئ الله تعالی مو له تېروتنې څخه در تېر شي، په هماغه پرتله د نورو اشتباهات نالیدلي نیسئ او دغه ډول د خیر کارونو ته دوام ورکړئ) الله تعالی ښښونکی او مهربان دی.

مسلمان په عفوې او تېرېدنې له الله تعالی څخه عزت او له خلکو څخه درناوی تر لاسه کوي، آن چې غلیم به ورته راشي او ښښنه به تري وغواړي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَينك وَبَينهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾ [فصلت:آیت: ٣٤]

ژباړه: هېڅکله هم نیکي اوبدي نه شي برابرېدلای نو ته د (بدی او تندی) مخنیوی په هغې نیکې طریقې سره وکړه چې هغه ډېره ښه وي. ته به وګورې چې له تا سره د چا دښمني وي ګواکې هغه

دې مخلص دوست دی.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: څوک چې کولی شي خپله غوسه وباسي، خو زغمي يې، نو الله تعالی به يې د خلکو پر وړاندې راوغواړي او اختيار به ورکړي چې له حور العين څخه څومره چې غواړي ور به يې کړي.[1].

## ارزونه:

۱. عفوه په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

۲. له قرآن کريم او نبوي احاديثو څخه د عفوې د مشروعيت دلايل بيان کړئ.

۳. زموږ په ننۍ ټولنه کې د عفوې اهميت بيان کړئ.

٤. د پيغمبر ﷺ د عفوې يوه ښه بېلګه وليکئ.

٥. د لاندې قرآني آيت څخه مو څه زده کړي، بيان يې کړئ.

﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾

٦. په قرآن کريم کې د عفوې او تېرېدنې د يادونې په هکله خپلې خرګندونې بيان کړئ.

۷. د عفوې او تېرېدنې د فضيلت څو بېلګې ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د عفوې او تېرېدنې پنځه ګټې په تفصيل سره په خپلو کتابچو کې وليکي.

---

۱- ابو داوود، ترمذي او ابن ماجه

# په ژمنه وفا

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾ [الاحزاب: ۲۳]

ژباړه: ځيني له مؤمنانو څخه(داسې) سړي دي چې رښتيا يې کړه خپله وعده، چې له الله سره يې کړې وه. پس ځيني له دوی هغه دي چې ترسره يې کړه خپله ژمنه (چې مړ يا شهيد شو) او ځيني له دوی څخه هغه دي چې انتظار کاږي(دغه مرگ يا شهادت ته) او خپل عهد يې يو ذره هم بدل نه کړ په بدلولو سره.

## د وفا تعريف:

وفا د وفی، يفی باب مصدر په لغت کې د ژمنې پوره کولو او شرط د سرته رسولو په معنا ده او ضد يې غدر او خيانت دی.

په اصطلاح کې وفا دې ته وايي چې انسان په پوره ډول خپلو ژمنو او وعدو ته ژمن وي او له بد عهدۍ، خلافکارۍ او بد قولۍ څخه ځان وژغوري.

## په ديني نصوصو کې د وفا يادونه:

الله تعالی پر ژمنه د وفا کولو امر کړی فرمايي:﴿وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً﴾ [الإسراء: ۳٤]

ژباړه: په خپلې ژمنې (چې له الله تعالی يا خلکو سره موکړې وي) وفا وکړئ، ځکه(چې د قيامت په ورځ در څخه) د عهد په اړه پوښتنه کيږي.

او په بل آيت کې فرمايي: ﴿وَأَوْفُواْ بِعَهْدِ اللّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلاَ تَنقُضُواْ الأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلاً إِنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ﴾ [النحل: ۹۱]

ژباړه: د الله تعالی په عهد وفا وکړئ کله چې ورسره ژمنه وکړئ او خپل قسمونه مه ماتوی، وروسته

له قسم کولو څخه سره له دې چې الله تعالی مو د ځان ضامن ګرځولي دی، ځکه هغه څه چې تاسي يې کوئ، الله تعالی پرې پوهيږي.
پيغمبر ﷺ فرمايي: د شپږو څيزونو ضمانت راکړئ، زه تاسو ته د جنت ضمانت کوم: چې خبرې کوئ، رښتيا وايئ، چې وعده کوئ، وفا پرې وکړئ، امانتونه اهلو خلکو ته وسپارئ، عورتونه مو خوندي وساتئ، سترګې مو له نامحرموڅخه بندې کړئ، چا ته زيان مه رسوئ.

## فعاليت

په خپلو منځونو کې سره بحث وکړئ چې پر عهد وفا زموږ په ژوند کې څه اغېزې لري او که خپله ژمنه ماته کړو، نو په کومو ستونزو به اخته شو؟ د بحث پايلې په خپلو کتابچو کې وليکئ او په ټولګي کې يې ولولئ.

## د وفا ډولونه:

وفا ډېر ډولونه لري چې موږ يې دلته د څومهمو ډولونو په راوړلو بسنه کوو.

### ۱ـ له الله تعالی سره وفا:

د الله تعالی او بنده ترمنځ خورا عظيمه او سپېڅلې ژمنه ترسره شوې ده، هغه دا چې يوازې د الله تعالی عبادت به کوي، هيڅ شی به ورسره شريك نه نيسي، د شيطان له لارويتوبه به ځان ژغوري.

الله تعالی فرمايي: ﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾ [يس: ٦٠]

ژباړه: ای بنی آدمو آيا تاسو ته مې هدايت نه و کړی چې شيطان به نه لمانځئ (بندګي به يې نه کوئ) ځکه چې هغه ستاسو ښکاره غليم دی.

### ۲- پر خپل عهد او ژمنې وفا:

د اسلام سپېڅلی دين پر عهد او منل شوو شرايطو د وفاکولو سپارښتنه کوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: (الْمُسْلِمُونَ عِنْدَ شُرُوطِهِمْ)[1] ژباړه: مسلمانان پر خپلو شرطونو ولاړ دي.

---

۱- بخاري

له همدې امله پیغمبر ﷺ په خپلو ټولو ژمنو کې چې له مخالفینو سره یې کولې، د دې پوره خیال ساتلو د بېلګې په ډول د حدیبيې د صلحې پر ټولو شرطونو تر هغې ولاړ پاتې شو چې تر څو یې په خپله کافران مات او تر پښو لاندې کړل، چې په پایله کې یې بیا پیغمبر ﷺ د مکې د فتحې اقدام وکړ او مکه یې فتحه کړه.

### ۳- په نذر وفا:

مسلمان په خپل نذر باندې چې د خیر په کارونو کې وي، وفادار پاتې کېږي او پرته له خیر نه پر نذر باندې وفا جواز نه لري.

پر نذر وفا کول، د نیکانو خلکو له ځانګړتیاوو څخه ده، لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا﴾ [الإنسان: ۷]

ژباړه: وفا کوي(نیکان) پر(هغه) نذر(چې واجب کړی یې وي په طاعت د الله تعالی کې پر ځانو خپلو باندې) او وېرېږي له هغې ورځې چې شر یې ښکاره او تیت دی.

### ۴- پر وعدې وفا:

مسلمان په خپلې وعدې وفا کوي ځکه چې پر وعدې وفا نه کول د منافقینو خوی دی، لکه چې پیغمبر ﷺ فرمایي: (آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ)(۱).

ژباړه: د منافق درې نښې دي: چې خبرې کوي دروغ وایي، چې وعده وکړي، وفا پرې نه کوي، که امانت ورکړای شي، خیانت پکې کوي.

### د صحابه وو (رضوان الله علیهم أجمعین) د وفادارۍ یوه بېلګه:

د پیغمبر ﷺ ټول ملګري به په خپله هره ژمنه کې که د سر په قیمت یې هم پای ته رسېدله، ټینګ ولاړ وو. د بېلګې په ډول د انس بن نضر رضي الله عنه کیسه یادوو.

حضرت انس رضي الله عنه د بدر په غزا کې د خپل نه ګډون په هکله خورا اندېښمن و، قسم یې یاد کړ چې که خدای تعالی ورته په بله غزوه کې د پیغمبر ﷺ په ملتیا د ګډون ویاړ ور په برخه کړ، نو په مېړانې سره به پکې جهاد وکړي. نوموړی په خپلې ژمنې د وفا په خاطر د احد په غزوه کې تر هغې

---

۱- متفق علیه

وجنګېد چې شهید شو. د جګړې په پای کې اصحابو کرامو ولېد چې د تورو او غشو درې اتیا ټپونه یې مخامخ داسې خوړلي و چې پرته له خورېې هېچا هم ونه پېژندلو هغې هم په هغې نښې وپېژاند چې د لاس په ګوتو کې یې لرله.

**ارزونه**:

لاندې صحیح عبارت پر (√) او ناسم عبارت پر (X) نښه کړئ.

الـ مسلمان له مسلمان او کافر سره په خپل عهد ولاړ وي ( ).

ب ـ د منافقانو خوی پر عهد وفا کول دي ( ).

ج ـ پر عهد وفا نه کول ناوړه خوی دی ( ).

د ـ مسلمان د عهد په ماتولو کې وړاندې والی نه کوي ( ).

لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱ـ پر ژمنه وفا کول تعریف کړئ.

۲ ـ یو آیت ولیکئ چې پر ژمنه وفا کولو ته مو هڅوي.

۳ ـ که څوك پر عهد وفا کول غواړي، خو د کوم عذر له امله ونه توانېږي چې وفا پرې وکړي، دغه کس څه حکم لري؟

٤ ـ پر عهد د وفا کولو په اړه د پیغمبر ﷺ د حرص یوه بېلګه ذکر کړئ.

٥- پر ژمنه د وفا کولو درې موارد بیان کړئ.

٦- که پر وفا باندې د اصحابو کرامو په ژوند کې د عمل کولو کومه بېلګه درته یاده وي، ویې وایئ.

**کورنۍ دنده**

ګرانو زده‌کوونکو! پر خپل عهد د وفا کولو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې پر ژمنه د وفا کولو پر پنځو ګټو او پنځو مواردو باندې چې په کتاب کې نه وي ذکر شوي، مشتمله وي.

# ایثار (ځان تېرېدنه)

## د ایثار تعریف:

ایثار د (ا ث ر) له مادې جوړ په لغت کې د غوره والي او ترجیح ورکولو په معنا دی، لکه چې په آیت شریف کې راغلي: ﴿ قَالُواْ تَاللّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللّهُ عَلَينا وَإِن كُنَّا لَخَاطِئِينَ﴾ [یوسف: ۹۱]

ژباړه: هغوی وویل" پر خدای قسم چې تا ته الله پرموږ فضیلت دربښلی او په رښتیا چې موږ خطا کاران وو".

په اصطلاح کې: نورو ته پر ځان یا یو تن ته پر بل تن او یا یو شي ته پر بل شي باندې ترجیح ورکولو ته ایثار وایي.

## د ایثار اهمیت:

مسلمان له خپلو اړتیاوو سره سره د نورو حاجت په خپل حاجت مخکې ګڼي. ځان وږی او تږی ساتي تر څو هغوی ماړه او تنده یې ماته شي. پیغمبر ﷺ فرمایي: هېڅوک له تاسو نه د پوره ایمان لرونکی نه شي کېدای، تر څو پر خپل مسلمان ورور باندې هغه څه ولوروي چې پر ځان یې لورېږي.

ایثار د اسلام له سترو خصلتونو څخه دی، بشري نړۍ د ملائکو له عالم سره تړي، څرنګه چې بخل او ځان لیدنه په انساني فطرت کې شتون لری، نو که زړونه له دغو اخلاقي رذائلو نه پاک شي، د دغه زړه خاوند د ملایکو مقام ته رسېږي.

په رښتیا ډېره سخته ده چې انسان په بوله معنا له ځان څخه تېر شي او خپل مسلمان ورور ته په یو څیز کې چې خپله ورته اړتیا لري، په ځان باندې ترجیح ورکړي. له دې سره سره بیا هم دغه قرباني په میندو کې د خپلو اولادونو په هکله ډېره تر سترګو کېږي،هغوی اولادونو ته پر ځان ترجبح ورکوي بیا له مور پرته پلار دي چې اولادونو ته پر ځان ترجبح ورکوي او وربانديې دغه لورینه لري.

د ایثارګرۍ بېلګه دا ده چې ایثار په یوې تنګې دایرې پورې تړلی پاتې نه شي، څګه چې دغه ډول ایثار له ربنتینیو مؤمنانو پرته چې معامله یې له الله تعالی سره وي او د الله تعالی د رضا په لټه کې وي او اجر هم یوازې له هغه څخه غواړي، په بل چا کې نه لیدل کېږي.

## په ديني نصوصو کې د ايثار يادونه:

الله تعالی پر مهاجرينو د انصارو د ايثار او لورينې په ثبتولو دا په ډاګه کوي چې هغوی څنګه خپلو مهاجرو وروڼو ته په ډېرو هغو شيانو کې چې په خپله يې ورته خورا زياته اړتيا درلوده، پر ځان ترجيح ورکوله؟ الله تعالی چې هغوی د دغه سپېڅلي خوی په لرلو ستايي، په حقيقت کې مسلمانان ورپسې اقتدا کولو ته هڅوي فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [الحشر: ٩]

ژباړه: هغه خلک چې له پخوا په مدينې منورې کې اوسېدل او له ډېرو مهاجرينو څخه يې مخکې ايمان راوړی دی، دوست ګڼي هغه خلک چې د دوی سيمې ته يې هجرت کړی دی او نه احساسوي په زړونو کې کينه له هغه شي څخه چې دوی ته ورکړل شوي دي او مهاجرينو ته پر خپلو ځانونو ترجيح ورکوي. که څه هم پخپله خورا اړمن وي. څوک چې د خپل نفس له بخل څخه خوندي پاتې شي، په تحقيق دغه خلک بريالي دي.

## د پيغمبر ﷺ ايثار:

د اسلام ستر پيغمبر د ايثار او ځان جارونې تر ټولو ښکلې بېلګه ده، په ژوند کې يې له غور کولو څخه په ډاګه بريښي چې ايثار ته يې څومره ترجيح ورکوله، وايي چې يوې صحابيې رضی الله تعالی عنها له وړيو څخه اوبدل شوی يو څادر پيغمبر ﷺ ته راوړ، ورته وې ويل حضرت! دا مې په خپل لاس اوبدلی دی، ومې غوښتل چې تا ته يې هديه کړم، پيغمبر ﷺ په ډېرې خوښی ومنله او شکريه يې ورڅخه وکړه. پيغمبر ﷺ نوموړی څادر پرځان بهر ته ووت، اصحابو کرامو چې څادر وليدلو، ډېر زيات يې وستايه، لږه شېبه وروسته يو صحابي چې د څادر ښکلا پرې اغيز کړی و، له حضرت ﷺ څخه وغوښتل چې همدا څادر ورته هديه کړي، پيغمبر ﷺ که څه هم څادر ته خورا اړتيا لرله، بې له درنګه يې غوښتونکي ته وبانښه، موجودو اصحابو نوموړی صحابي ملامتولو چې داسې دې ولې وکړل، ښه پوهېدې چې پيغمبر ﷺ بل څادر نه لري او د چا غوښتنه هم نه ردوي؟ نوموړي قسم ياد کړ چې ما د اغوستلو لپاره نه بلکې د دې لپاره وغوښت تر څو مې د مرګ په ورځ کفن شي او داسې هم وشول. بخاری او ابن ماجه د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چې يوه ورځ دومره وږی شوی وم چې تيرې مې

په خېټه پورې ترلې وې، ګرځېدم تر څو مې څوک میلمه کړي، نابېره پر پیغمبر ﷺ پېښ شوم چې پر ما یې سترګې ولګېدلې، موسکی شو له ورایه مې په حالت پوه شو، راته یې وویل: په ما پسې راځه، کور ته ننوت او بیا یې ماته هم د ورننوتلو وویل، زه هم ورغلم، په یو لوښي کې یې شیدې ولیدلې، ویې پوښتل چې شیدې مو له کومه کړي دي؟ ورته وویل شول چې فلاني درته هدیه کړي دي. پیغمبر ﷺ ما ته په کتلو وویل: ابو هریره! ما ځواب ورکړ، بلې د الله تعالی رسوله! ویې فرمایل لاړشه اهل صفه ټول راوله، ابوهریره رضي الله عنه وایي چې که څه هم اهل صفه په حقیقت کې د اسلام مېلمانه وو، نه یې کورنی درلودلې او نه یې مال او شتمني، کله به چې پیغمبر ﷺ ته د صدقې مال راتللو نو هغه به یې په اهل صفه باندې لګولو او په خپله به یې ورڅخه ګټه نه اخیستله او کله به چې ورته هدیه راتلله، نو بیا به یې هم هغوی پکې شریکول او په خپله به یې هم ورڅخه استفاده کوله، خو څرنګه چې زه وږی وم، حیران شوم چې دا څومره شیدې دي چې هم به یې زه وڅښم او هم به یې ګرد اهل صفه وڅښي. خو څرنګه چې د پیغمبر ﷺ امر و، لاړم او اهل صفه مې راوستل. هر یو په خپل ځای کښیناست، پیغمبر ﷺ راته وویل ابو هریره! د شیدو لوښی واخله په مېلمنو یې وڅښه، ما هم لوښی واخیست او پر یو یو مې وګرځولو، هر یو به چې څه اندازه شیدې وڅښلې، نو لوښی به یې بېرته ما ته راکولو، په دغه ترتیب مې لوښی پر ټولو وګرځاوه او ټول ماړه شول، په پای کې مې لوښی پیغمبر ﷺ ته ورکړ ویې فرمایل: چې اوس یوازې زه او ته پاتې یو، بیا یې لوښی ما ته راکړ او ویې ویل: وڅښه ما هم وڅښلې بیا یې دویم ځل وفرمایل: وڅښه تر هغې یې را باندې ټینګار کاوه چې ومې ویل قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه را استولی یې، نور مې په ګېډه کې ځای نه شته، بیا یې تر ټولو وروسته په خپله هم وڅښلې.

### د اصحابو کرامو ایثار:

۱- حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چې یو سړی پر پیغمبر ﷺ مېلمه شو، ماښام پیغمبر ﷺ څوک کورته ولیږل چې میلمه ته خواړه راوړي. د پیغمبر ﷺ په یو کور کې هم د خوړلو څه ونه موندل شول چې مېلمه ته یې راوړي، پیغمبر ﷺ ناستو اصحابو ته وویل: له تاسو څخه څوک نن شپه دا میلمه کورته بیایي؟ یو انصاري وویل: زه، مېلمه یې له ځان سره کور ته بوت او خپلې میرمنې ته یې وویل د پیغمبر ﷺ د مېلمه درناوی باید وشي، مېرمنې یې وویل: د اولادونو له یو وار خوړو څخه زیات څه نه شته، سړي وویل خیر، خواړه تیار کړه، ماشومان بیده کړه او چې کله دې خواړه مېلمه ته کېښودل

نو ډېوه به په څه بهانه مړه کړې. مېرمنې چې تر څو خواړه تيار ول ماشومان يې بيده کړل، خواړه يې د مېلمه پر وړاندې کېښودل، بيا يې د کوم شي د سمولو په بهانه ډېوه مړه کړه سړي ته يې داسې ښودله چې ګواکې دوی هم خواړه خوري، خو په خپله به يې لاس کاسې ته وروړ, خو څه به يې نه پورته کول, په دې توګه يې پرېښودل چې مېلمه موړشو او په خپله وږي پرېوتل، سبا صحابي له خپل مېلمه سره د پيغمبر ﷺ حضورته ورغلل، پيغمبر ﷺ چې دوی وليدل، ورته ويې فرمايل چې ستا د نن شپې په کړنه الله تعالی ډېر خوشحاله شو او دا آيت يې رانازل کړو: ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [سورت الحشر، آيت: ٩]

ژباړه: او مهاجرينو ته پر ځانونو باندې ترجيح ورکوي که څه هم پخپله خورا اړمن دي، څوک چې د خپل نفس له بخل څخه خوندي پاتې شي، په تحقيق دغه خلک بريالي دي.

٢- انس بن مالک رضي الله عنه روايت کوي چې کله عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه مهاجر شو, نو پيغمبر ﷺ يې له سعد بن الربيع سره چې خورا شتمن سړی و, د ورورګلوۍ تړون ټينګ کړ، سعد رضي الله عنه ورته وويل، ټول انصار پوهېږي چې زه تر ټولو شتمن يم, خپل ټول شته در سره پر دوو برخو وېشم او زه دوه مېرمنې لرم, وګوره هره يوه دې چې خوښه وي, هغې ته طلاق ورکوم او له عدت څخه وروسته ورسره نکاح وکړه. عبدالرحمن رضي الله عنه يې په ځواب کې ورته وويل: الله تعالی دې په مال او اهل کې برکت کېږده، زه يو سوداګر سړی يم, ماته د بازار لار وښيه.([1]).

## ارزونه:

١- ايثار تعريف کړئ.

٢- د ايثار اهميت بيان کړئ.

٣- له قرآن کريم څخه د ايثار د اثبات دليل ذکر کړئ.

٤- د پيغمبر ﷺ ايثار څنګه و؟

٥- د اصحابو کرامو د ايثار يوه بېلګه بيان کړئ.

### کورنۍ دنده

ددې آيت تفسير په خپلو کتابچو کې وليکئ: ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾

---

١- بخاري شماره: ٣٧٨٠

# ورع یا پرهېزګاري

جليل القدر صحابي، حضرت سلمان فارسي ﷺ روايت کوي چې پيغمبر ﷺ وفرمايل: سبا د قيامت په ورځ به الله تعالی ته تر ټولو نږدې خلک پرهېزګاران وي.
ورع: د انسان زړه او نفس له چټليو څخه صفا کوي. حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: صحيحه خبره ده چې تاسې له ډېر مهم عبادت څخه چې پرهېزګاري ده، بې پروا یاست.
نولازم دی چې د ورع په اړه کره معلومات تر لاسه کړو.

## د ورع تعريف:

ورع د ورع، يرع، ورعاً له باب اخيستل شوی په لغت کې له نا مناسب کار څخه ځان ژغورلو ته وايي او په اصطلاح کې په محرماتو کې د واقع کېدلو له وېرې له اشتباهي څيزونو څخه لرېوالي ته ورع وايي.

## د ورع د مشروعيت دلايل:

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ الْحَلَالَ بين وَإِنَّ الْحَرَامَ بَين وَبينهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِى الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِى الْحَرَامِ كَالرَّاعِى يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ أَلاَ وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلاَ وَإِنَّ حِمَى اللَّهِ مَحَارِمُهُ أَلاَ وَإِنَّ فِى الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلاَ وَهِىَ الْقَلْبُ)[۱].

ژباړه: په رښتيا چې حلال او حرام دواړه ښکاره دي او د دواړو ترمنځ مشتبهات دي چې ډېر خلک يې نه پېژني، نو چې څوک له اشتباهي شيانو څخه ځان وساتي، د خپل دين او ناموس ساتنه يې کړې ده او څوک چې په مشتبهاتو کې پرېوزي، په حرامو کې پرېوتلی دی، لکه د هغه شپانه په څېر چې د کښت په خواکې رمه پيايي، نو لرې نه دی چې رمه يې په کښت کې ګډه نه شي او په کې ونه څرېږي، بيا هر پاچا ممنوعه سيمې لري چې نورو ته ورتګ منع دي، خبردار چې د الله تعالی ممنوعه سيمې د هغه ﷻ حرام کړای شوي شيان دي، پام کوئ چې د انسان په بدن کې

---

۱- المسلم

يوه ټوټه غوښه ده، که روغه شوه، نو ټول بدن ورسره روغيږي او که فاسده شوه، ټول بدن ورسره فاسديږي خبر شئ چې هغه زړه دی.

او په بل ځای کې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيه)[١].

ژباړه: د يو سړي د اسلام ښه والی د بې ګټې شي پرېښودل دي.

## د ورع او پرهيزګارۍ غوره والی:

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (كُنْ وَرِعًا تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ)[٢].

ژباړه: پرهيزګاره اوسه نو تر هر چا به ښه عبادت کوونکی اوسې.

او فرمايلي يې دي: (لَا يَبلُغُ العَبدُ أَن يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأسَ بِهِ حَذَراً مِمَّا بِهِ بَأسٌ)[٣].

ژباړه: بنده نه شي کولی چې د متقيانو مرتبې ته ورسيږي، تر څو پرېږدي هغه څه چې هيڅ اشکال نه لري، د هغه څيز له وېرې چې اشکال پکې دی.

له حسن څخه د ورع په اړه پوښتنه وشوه, هغه په ځواب کې ورته وويل: ورع د ټولو چارو سرليک دی.

## د ورع ډولونه:

١- **واجب ورع يا پرهيزګاري:-** دا ډول ورع هغه ده چې انسان له حرامو ځان وژغوري او واجبات ورنه پاتې نه شي.

٢- **مستحب ورع يا پرهيزګاري:** دا ډول ورع هغه ده چې انسان له مکروهاتو ځان وساتي، مستحبات ورنه پاتې نه شي او له شبهاتو څخه هم پرهيز وکړي.

٣- **غوره ورع يا پرهيزګاري:** هغه ورع ده چې انسان له ډېرو مباحو کارونو هم ځان وساتي او په خپلو لومړنيو اړتياوو بسـنه وکړي، دا د پيغمبرانو، صديقينو، صالحينو او شـهيدانو صفت دی.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (إِنِّي لَأَنقَلِبُ إِلَى أَهلِي فَأَجِدُ التَّمرةَ سَــاقِطَةً عَلَى فِرَاشِي، فَأَرفَعُهَا لِآكُلَهَا، ثُمَّ أَخشَى أَن تَكُونَ صَدَقَةً فَأُلقِيهَا)[٤].

ژباړه: زه خپل کور ته ستنيږم, پر خپل بستر باندې خرما ګورم، چې پرته ده، را پورته کوم يې چې ويې خورم خو له دې وېرې چې صدقه نه وي، بېرته يې غورځوم.

١- ترمذي (٢٣١٧)
٢- سنن ابن ماجه
٣- سنن الترمذی
٤- صحيح بخاري

## د ورع یعنې پرهېزګارۍ معیارونه:

دلته د ځینو معیارونو یادونه کوو چې پېژندل یې د شرعي ورع(پرهېزګارۍ) د لاسته راوړنې لپاره ضروري دي او دا ځکه چې ددغو معیارونو په یو یا ټولو کې د څه نیمګړتیا په پیدا کېدلو سره دغه ورع په غیر شرعي فاسدې ورع(پرهېزګارۍ) بدلېږي او په پای کې یې یا نا غوره افراط او یا هم منعه شوی تفریط منځ ته راځي.

۱- ورع د واجباتو په کولو او د حرامو په نه کولو کې، همدارنګه د مستحبو په کولو او د مکروهاتو په نه کولو کې وي، له هغو کارونو نه په ځان ساتنه کې ورع وي چې اصلاً مباح وي، خو د یوې عارضي شبهې یا ددې له ویرې چې د مفسدې لامل ونه ګرځي او یا د داسې نورو علتونو له امله پرېښودل کېږي. خود هغو مباحو پرېښودل چې هېڅ ډول شک او شبه پکې نه وي، ورع نه ده. یو شمېر خلک د ورع(پرهېزګارۍ) په هکله په دې غلطۍ کې لوېدلي چې ورع یوازې له محرماتو څخه په پرهېز کې بولي، د واجباتو سرته رسول ورع نه ګڼي، دغه ډول خلک له دروغ ویلو، د مشکوک مال له خوړلو او داسې نورو څخه پرهېز کوي، خو له دې سره سره داسې کارونه پرېږدي چې کول یې ورباندې واجب دي، لکه: صلهٔ رحمي، د ګاونډیو حقوق، د حاکم حق، د علم زده کړه، امر بالمعروف او نهې له منکراتو نه او د الله تعالی په لارکې جهاد کول او داسې نور، او دغسې ورع کله هم سړی په لویو بدعتونو اخته کوي، او په واقع کې د خوارجو، معتزله وو او ځینو نورو لار ورکو ډلو ورع همداسې وه، په خپل ګمان سره یې له ظلم او هغه څه څخه چې دوی ظلم ګڼلو، پرهېز وکړ، خو ددې په بدل کې یې ډېر ستر واجبات پرېښودل، لکه: د جمعې لمونځ، جماعت، د حج د فریضې اداء کول او داسې نور.

۲- دا چې ورع(پرهېزګاري) به پر شرعي پوهې ولاړه وي، ځکه ډېر ځله داسې پرهیزګاري چې په بی علمۍ ولاړه وي او یا یې له فاسد احتیاط څخه سرچینه اخیستې وي. د لویو ناورینونو د منځ ته راتللو سبب ګرځي. د ځینې کسانو پرهېز خو له محرماتو څخه د شرعي دلیل له مخې نه، بلکې له غوښتنو سره یې د ټکر پر بنسټ وي، چې له امله یې ورته د کاذبو اټکلونو او ګمانونو په پیداکېدلو په فاسدې پرهېزګارۍ کې اخته کېږي که څه هم په خپله انګېري چې ګواکي ښه کار یې کړی دی.

۳- باید د مفاسدو او مصالحو ترمنځ موازنه شتون ولري، په هغه څه کې چې مصلحت یې غالب وي، ورع پکې دا ده چې هغه کار دې سرته ورسېږي او که فساد پکې ډېر و، نو ورع پکې دا ده چې هغه پرېښودل شي. ځکه چې ډېر ځله ورع او پرهېزګاري د دې سبب کېږي چې یو شمېر خلک ځینې کارونه په دې دلیل پرېږدي چې فساد پکې دی، خو د مصلحت لوری یې چې پر فساد غالب دی، له پامه غورځوي او یا د دې پرعکس ځینې کارونه په دې اند کوي چې مصلحت په کې دی، خو د فساد ډېروالي ته یې پام نه کوي.

**هغه موارد چې ورع(پرهېزګاري) بايد پکې له پامه ونه غورځېږي:**

هغه ځايونه چې بايد ورع پکې مراعات شي، ډېر دي چې مهم يې په لاندې ډول دي:

**ا- داخلي ورع:** يعنې له الله تعالى پرته د بل چا د خوښۍ لپاره کار نه کول، او له ريا څخه د زړه سپېڅلتيا.

**ب- په خوړلو او څښلو کې ورع:** په دغو شيزونو کې پرهيزګاري ډېره اړينه ده، دا د حلالو په اړه په غور کولو او له حرامو او مشتبه شيانو څخه په ځان ژغورلو تر لاسه کېږي.

**ج- په خبرو اترو کې ورع:** په خبرو اترو کې د ورع په پام کې لرل خورا مشکل کار دی، ځکه خو يې په اړه ځينې سلف صالح وايي: په خبرو کې د ورع خيال ساتل له سرو او سپينو زرو څخه له ورع څخه ډېر ګران دي.

**د- په مشکوکو شيزونو کې ورع:-** دغه شيان د حلالو او حرامو ترمنځ دي ډېر خلک يې په هلکه اشتباه کوي چې آيا حلال به وي که حرام.

خو څوک چې په خپله پوه او با ورى وي، هغوى په اشتباه کې نه لوېږي، ځکه چې دغه کارونه په خپل ذات کې مشکوک نه دي، الله تعالى حرام او حلال واضح بيان کړي دي، يوازې هغه خلک يې په اړه شکمن کېږي چې پوهه نه لري.

**ه- په پېرودلو او پلورلو کې ورع:-** په خرڅولو او اخيستلو کې ورع دا ده چې د مبيعې(پلورل شوي مال) عيب بيان شي، که څه هم په عيب ښکاره کولو يې قيمت راټيټېږي، او همدارنګه خرڅوونکي ته په پيسو کې ناچله پيسې ورنه کړاى شي.

**و- په فتوى ورکولو کې ورع:** په فتوى ورکولو کې ورع دا ده چې بې له غوره، په ناپوهۍ فتوى ورنه کړاى شي.

**ارزونه:**

١. په لغت او اصطلاح کې د ورع معنا بيان او د مشروعيت دليل يې وليکئ.

٢. د ورع د اثبات لپاره له قرآن او سنتو څخه يو يو دليل راوړئ.

٣. د ورع اهميت څنګه او په کوم دليل ثابتېدلاى شي؟

٤. د ورع معيارونه کوم دي؟ روښانه يې کړئ.

٥. د ورع ډولونه بيان کړئ.

٦. په کومو ځايونو کې ورع ضروري ده؟

**کورنۍ دنده**

ګرانه زده‌کوونکيه! يوه مقاله وليکه چې له يوې صفحې څخه لږه نه وي او پکې د ورع د نورو موادرو تر څنګ د ورع د ګټو په هکله چې ورڅخه په لاس راځي، څېړنه وکړه.

# له وخت څخه ګټه اخيستل

اسلام له وخت څخه د ګټې پورته کولو پر اړتيا او په ګټورو چارو کې يې په لګښت ټينګار کړې دی. د وخت بابېزه تېرول يې پر انسان حرام کړي دي. د قيامت په لويه ورځ له هر انسان څخه د وخت په هکله پوښتنه کېږي چې په څه کې دي لګولی دی.

په دې لوست کې به د انسان په ژوند کې د وخت اهميت له مختلفو لورو وڅېړو.

## لومړی د وخت اهميت:

وخت د الله تعالی له هغو سترو نعمتونو څخه دی چې پر خپلو بنده ګانو يې لورولی دی، لکه چې فرمايي: ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴾ [الفرقان: ٦٢]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې شپه او ورځ يو د بل پرځای راولي، د هغه چا لپاره چې غواړي پند واخلي او يا چې شکر کوونکی شي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ)[1].

ژباړه: دوه نعمتونه دي چې خلک يې له ارزښت څخه نا خبره دي او زيان پکې کوي: يو يې صحت او بل يې فراغت دی.

همدا راز يې فرمايلي دي: (لا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ: عَنْ عُمْرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلاهُ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَينَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ وَعَنْ عِلمِهِ مَاذَا عَمِلَ فِيهِ)[2].

ژباړه: د قيامت په ورځ به تر هغې بنده قدم پورته نه کړای شي تر څو د څلور خصلتونو پوښتنه ترې ونه شي. د عمر په هکله چې په څه کې دې تېر کړ او د ځوانی په هکله چې په څه کې دې تېره کړه او د مال په هکله يې چې له کومې لارې يې تر لاسه کړی او په کومه لار کې يې لګولی دی او

١ - البخاري
٢ - ترمذی

د علم په اړه چې څه دې په کې کړي دي.
حضرت عائشه رضی الله عنها روایت کوي چې پیغمبرﷺ فرمایلي دي (خُذُوا مِنَ الأَعمَالِ مَاتُطِيقُونَ، فَإِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا، وَإِنَّ أَحَبَّ الأَعمَالِ إِلَى اللهِ أَدوَمُهَا وَإِن قَلَّ)[1].
ژباړه: د خپل توان په اندازه کار وکړئ، په رښتیا سره الله تعالی نه ستومانه کېږي چې تاسې ستومانه نه شئ، ډېر په زړه پورې عمل، الله تعالی لره هغه عمل دی چې همیشه کېږي، که څه هم لږ وي.
یعني دا چې عبادت ستومانه کوونکی نه وي
د دې له امله چې وخت د انسان په ژوند کې ډېر ارزښت لري، نو الله تعالی په وخت او زمان سوګند یاد کړی دی او فرمایلي یې دي: چې ډېر خلك له وخت څخه په ښه ګټه اخیستلو کې سهوه شوي دي، پرته له هغو خلکو څخه چې له وخت څخه ښه ګټه اخلي او له هغو څخه د خپل ځان او ټولني د خير او اصلاح په لار کې کار اخلي. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:
﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ [سورت العصر آيت ۱- ۳]
ژباړه: په زمانه قسم، انسان په حقیقت کې په لوي زیان کې دی، پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی، ښه عملونه کوي، یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښوونه کوي.
ډېر اسلامي پوهان له دې سوګند څخه داسې پوه شوي چې الله تعالی وخت او زمان ته په ډېر ارزښت قایل دی او په حقیقت کې د انسان په برخه له وخت څخه همدغه ښه ګټه اخیستل دي، باید هغه په ښه لاره کې ولګوي.
مؤمن انسان تر هر چا زیات په دې دنیا کې د وخت په ارزښت پوهېږي، ځکه هغه چې کله سهار له خوبه را پاڅی، پوهېږي چې د سهار د لمانځه وخت دی، کله چې د سهار لمونځ ادا کړي، نو پوهېږي چې څو ګړۍ وروسته د ماسپښین د لمانځه وخت را رسېږي، کله چې د ماسپښین د لمانځه له اداکولو څخه وزګار شي، نو خپل ځان د مازیګر د لمانځه اداکولو ته چمتو کوي، کله چې لمر ولوېږي، نو د ماښام لمونځ اداکوي او دې پایلې ته رسېږي چې شپه را ورسېده او کله چې د ماخوستن لمونځ پوره اداکړي، نو پوهېږي چې له دې څخه وروسته نور واجبات او مسوولیتونه لري چې باید تر سره یې کړي.

---

۱- بخاري

## څه ډول له خپل وخت نه ګټه واخلو:

مسلمان پر دې پوهېږي چې وخت څومره ژر تېرېدونکی دی، که د انسان عمر څومره اوږد هم شي بیا هم لنډ دی. د عمر چې څومره برخه تېره شوه، بیا نه راګرځي او نه په څه شي جبیره کېږي.

حسن بصري رحمه الله ویلي دي: داسې ورځ نشته چې سپېده داغ شي، خو دا چې آواز کوي، ای بني آدمه! زه نوی مخلوق او ستا په کارونو ګواه یم، نو له ما څخه ګټه ترلاسه کړه، په رښتیا چې تېره شوم تر قیامته بیا نه راګرځم.

کله چې د خپل وخت په اړوند الله تعالی ته مسؤول یو، نو پر موږ لازمه ده چې د ژوند په ټولو وختونو او حالاتو کې له لټی څخه ځان وژغورو.

۱- له تنبلی څخه په ټولو وختونو کې ځان وساتو.

۲- خپل وزګار وخت باید د حق او خیر په کارونو کې ولګوو، نه پر بې خیره او تاواني کارونو کې.

۳- خپل وخت باید په مهال وېش برابر کړو له عبادت، زده کړې، مطالعې، ریاضت، د شخصي او ټولنیزو مسؤولیتونو له ادا پرته یې په بل څه کې ونه لګوو.

٤- هر کار باید په خپل وخت کې سرته ورسوو، د نن ورځې کار سبا ته پرې نږدو.

٥- د خپل او نورو د وخت ارزښت باید په پام کې ونیسو او خپل وخت د مسؤولیت د ادا پر ځای په بې ارزښته کارونو کې ونه لګوو.

مسلمان هڅه کوي خپل وخت په داسې کارونو ولګوی چې ګټه یې ځان او یا ټولنې ته ورسېږي. لکه د قرآن کریم تلاوت، مشروع سپورتي لوبې، د علمی کتابونو مطالعه، د حلال کار او کسب له لارې حلاله روزي پیدا کول او... نو لازم دي چې خپل وخت غنیمت وګڼو، تر څو وکولای شو د صدر اسلام په مسلمانانو پسې اقتدا وکړو، چې خپل ژوند یې په داسې کارونو لګولو چې د دین او دنیا خیر پکې و او له وخت څخه یې لویه ګټه پورته کوله.

## له وخت څخه د ګټې اخیستلو په اړه د ښو خلکو ویناوې:

- زموږ مسؤولیتونه خورا ډېر دي، نو باید چې خپل وخت بابېزه تېر نه کړو.
- زمانه زموږ په هکله بې طرفه نه ده، یا به زموږ لپاره ریښتینی دوست جوړېږي او یا تر ټولو لوی غلیم.
- وخت د تورې په څېر دی که یې پر ماتولو برلاسی نه شوې، نو تا به ماتوي.
- شپه او ورځ په دې کوښښ کې دی چې تا له پښو وغورزوي، نو ته هم باید د هغو د پښو وهلو په تکل کې اوسېږې.

- الله تعالى په خپلو بنده ګانو د ورځې له پلوه ځينې اعمال مقرر کړي چې له ورځې پرته يې ورځخه نه قبلوي او ځينې اعمال په شپه کې دي چې له شپې پرته يې نه قبلوي.

**ارزونه:**

۱- يو حديث شريف وليکئ چې پکې د وخت غنيمت ګڼلو ته هڅونه شوې وي.

۲- د وخت دوې ځانګړتياوې بيان کړئ.

۳- لاندې عبارت تشريح کړئ.

هر انسان د خپل وخت په هکله مسؤول دی چې په څه کې يې ولګوي.

دغه عبارتونه خپلو کتابچو ته نقل کړئ او بيا د صحيح عبارت پر وړاندې د (√) نښه او د غلط عبارت پر وړاندې د (X) نښه کيږدئ.

مسلمان خپل د غښتلتيا وخت نورو ته په ورکړه او ښښنه کې غنيمت ګڼي، نو د خير کارونه کوي(     ).

۱. الله تعالى مشرك يا ګناه کار انسان ته د دويم ځل لپاره چانس ورکوي او دنيا ته يې واپس کوي تر څو ښه کارونه وکړي( ).

۲. مسلمان سره نه ښايي چې د نن ورځې کار سبا ته پريږدي( ).

۳. مسلمان لېوال دی چې خپل وخت په خورا مهمو کارونو کې ولګوي او د مباحې تفريح لپاره اضافه وخت نه لري( ).

٤. مسلمان لېوال وي، تر څو خپل فارغ وخت په ګټورو کارونو کې ولګوي(     ).

## کورنۍ دنده

په کور کې خپله ورځنۍ دنده او بوختيا په اوونيز مهال وېش کې له ټاکلي ساعت سره وليکئ، مثلاً:

| ورځ | عبادت | مطالعه | سپورت | ملاقاتونه | کار | پايلې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شنبه | | | | | | |
| يکشنبه | | | | | | |
| دوشنبه | | | | | | |
| سه شنبه | | | | | | |
| چهارشنبه | | | | | | |
| پنجشنبه | | | | | | |
| جمعه | | | | | | |

# د ژبې ساتنه

## د ژبې ساتنه څه ته وايي؟

د ژبې له ساتنې څخه مقصد دا دی چې انسان د خیر له خبرو پرته نورې خبرې ونه کړي او له ترخې وینا کولو، غیبت، خبرې کرځولو، فحش ویلو او داسې نورو څخه ځان وژغوري.

## د ژبې ساتلو ارزښت:

په اسلام کې انسان د هر هغه څه مسؤول دی چې له خولې یې اوربدل کېږي. الله تعالی فرمايي:﴿مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾ [ق: ١٨]

ژباړه: انسان هیڅ خبره نه کوي خو دا چې ملك یې(لیکلو ته) تیار ناست وي.

پیغمبر ﷺ فرمايلي دي: (إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ أَعْضَاءَهُ تُكَفِّرُ لِلِّسَانِ تَقُولُ اتَّقِ اللَّهَ فِينَا فَإِنَّكَ إِنْ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنْ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا)[١].

ژباړه: کله چې په بنی آدم سبا شي، د بدن ټول غړي یې ژبې ته ټیټ او پاس کوي او ورته وايي: زموږ په حق کې له الله تعالی څخه ووېرېږه، ځکه که ته سمه شوې، نو موږ سمېږو او که ته کږه شوې، موږ کږېږو.

همدا راز یې فرمايلي دي (لَا يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ وَلَا يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ)[٢].

ژباړه: نه سمېږي ایمان د یو بنده، تر څو یې چې زړه سم نه شي او زړه یې نه سمېږي تر څو یې چې ژبه سمه نه شي.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ویلي: قسم په هغه ذات چې پرته له ده بل ریښتینی معبود نه شته! د ځمکې پر مخ بل هیڅ داسې څيز نشته چې د ژبې په شان بند ساتلو ته اړتیا ولري.

---

١- ترمذي
٢- مسند أحمد

## د خبرو کولو قواعد:

څوک چې غواړي د ژبې له بدیو څخه خوندي وي، باید لاندې خبرې په پام کې وساتي:

۱- خبرې دې نه کوي، خو هلته چې ده او یا نورو ته ګټه ولري او یا له ده او نورو څخه زیان پرې لرې کېږي.

۲- د خبرو کولو لپاره دې مناسب وخت وټاکي، لکه چې ویل کېږي: هره غټه او وړه خبره ځانته ځای لري.

۳- خبره دې دومره لنډه کړي چې مطلب او مقصد پرې اداء شي، د چا خبره چې ګټوره نه وي او یا زیان پرې لرې نه شي، هېڅ خیر ترې نه ولاړېږي.

٤- په ستایلو کې دې مبالغه او په بد ویلو کې دې زیاتی نه کوي، ځکه چې په ستایلو کې مبالغه یو ډول ریا او غوړه مالي ده او د دې سبب کېږي چې انسان دې پکې له دروغو کار واخلي. په بد ویلو کې زیاتی کول حسد او یو ډول غچ اخیستنه ده.

۵- خلک دې هغه څه نه خوښوي چې د الله رضایت پکې نه وي. پیغمبرﷺ فرمايي: (مَنْ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ وَمَنْ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ)[1].

ژباړه: څوک چې د خلکو په غوسه کې د الله تعالی خوښې لټوي الله تعالی ورته د خلکو د زیان رسونی په مقابل کې کافي دی او څوک چې د الله تعالی په غوسه کې د خلکو رضا لټوي الله تعالی به یې خلکو ته پرېږدي چې ظلم پرې کوي.

٦- داسې وعده دې نه ورکوي چې پوره کول یې په وس کې نه وي او نه دې داسې وعده (ژمنه) ورکوي چې پلي کولی یې نه شي، لکه چې الله تعالی فرمايي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ (٢) كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ (٣)﴾ [الصف: ٢ـ ٣]

ژباړه: ای مؤمنانو ولې تاسې هغه څه وایئ چې نه یې کوئ. لویه ده د غضب له مخې د الله تعالی په وړاندې(دا خبره) چې وایې تاسې هغه څه چې نه یې کوئ. یعنې که تاسو داسې خبره وکړئ چې په خپله پرې عمل نه کوئ، د الله تعالی د سختې غوسې لامل به شی.

۷- انسان باید تل خپله ژبه د الله تعالی په یاد بوخته وساتي، بې له خیره یې په بل څه و نه ښوروي،

---

۱- رواه الترمذي

روایت دی چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (لا تُكْثِرُوا الكَلامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ ؛ فَإِنَّ كَثْرَةَ الكَلامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى قَسْوَةٌ لِلقَلْبِ! وإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ تعالى القَلْبُ القَاسِي)[1].

ژباړه: د الله تعالی له یادولو پرته مو خبره مه اوږدوئ، ځکه چې اوږدې خبرې د انسان زړه سختوي او له الله تعالی څخه لرې بنده هغه څوک دی چې زړه یې سخت وي.

۸- د نورو خبرو ته غوږ نیول او د خبرې له غوڅولو څخه یې ډډه کول، خو په هغه صورت کې چې خبرې یې ناوړې وي.

۹- د داسې څیزونو په هکله پوښتنه ونه شي، چې زیان رسوونکي وي.

۱۰- د خبرو پر مهال دې ټولو اورېدونکو ته پاملرنه وشي.

۱۱- په وار وار بې له وارخطایۍ څخه خبرې کول.

۱۲- له هر چا او یا ډلې سره د دوی د حال مناسب خبرې کوئ، تر دې چې له ناپوهانو سره د پوهانو په ژبه او له پوهانو سره د ناپوهانو په ژبه خبرې و نه شي.

۱۳- نه غیبت واورو او نه له غیبت کوونکي سره په غیبت کې برخه واخیستل شي بلکې له گناه څخه یې باید ثواب ته راوبولو او وروښیو چې په غیبت اخته یې.

۱٤- د ټولو اورېدل شوو خبرو له کولو څخه باید ځان وژغورو، ځکه چې ټولې اورېدل شوې خبرې د دې وړ نه وي چې نورو ته واورول شي.

۱۵- د خندا په ځای کې ژړا او د ژړا په ځای کې خندا و نه شي. د غم پر مهال خوښي او د خوښۍ پر مهال غم ونه شي.

## د ژبې د ساتنې فضیلت:

له نبي کریم ﷺ نه پوښتنه وشوه، کوم اسلام غوره دی؟ ویې فرمایل: (مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ)

ژباړه: (د هغه چا اسلام غوره دی) څوک چې مسلمانان یې له ژبې او لاس څخه په امان کې وي.

عقبه بن عامر رضی الله عنه پوښتنه وکړه: یا رسول الله! خلاصون څه شی دی؟ پیغمبر ﷺ وفرمایل: ژبه

۱- رواه الترمذي

دې وساته، د کور په کار کې بوخت (مصروف) اوسه، په خپلو غلطیو باندې ژاړه.

رسول الله ﷺ فرمايي: (مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ)

ژباړه: څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، د خیر وینا دې کوي او یا دې چپ اوسي.

## د ژبې ځینې فتنې:

مسلمان باید خپله ژبه له لاندې شيانو څخه وساتي:

١- داسې خبرې کول چې په ده پورې هېڅ تړاو نه لري.

٢- د گناه خبرې کول.

٣- رټلې خبرې.

٤- لعنت ویل.

٥- بې حیا خبرې او کنځلې کول.

٦- ملندې وهل.

٧- خلک په بدو نومونو یادول.

٨- د خلکو د رازونو ښکاره کول.

٩- دروغ ویل که څه هم په ټوکه وي.

١٠- غیبت او بهتان.

١١- بې ځایه قسمونه کول.

١٢- ځان ته هغه څه ثابتول چې په ده کې نه وي.

١٣- د خلکو سپکاوی.

١٤- په پلورلو او پېرېدلو کې قسمونه کول

١٥- د نعمت ناشکري او ځان ستاینه.

### کورنۍ دنده

گرانو زده‌کوونکو! له آیاتونو او نبوي احادیثو څخه په استدلال له بدیو څخه د ژبې د ساتنې په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# کتمان (راز ساتل)

له حضرت انس ﷛ نه روایت دی چې یوه ورځ ما له ماشومانو سره لوبې کولې، پیغمبر ﷺ راغی. سلام یې وکړ او بیا یې زه په یو کار پسې واستولم. نا وخته کور ته راغلم. مور مې را ته وویل: ولې نا وخته کور ته راغلې، ما ورته وویل: پیغمبر ﷺ په یو کار پسې ولېږلم، هغې وویل: چې څه کار و؟ ما ورته وویل: چې د رسول الله ﷺ راز چا ته نه شم ویلی، مور مې راته وویل: چې د رسول الله ﷺ راز هیچا ته مه ښکاره کوه[۱].

## کتمان څه شی دی؟

کتمان د کتم یکتم کتماناً له باب څخه اخیستل شوی دی، په لغت کې د پټ ساتلو په معنا دی. په اصطلاح کې د راز او ځانګړو کارونو له پټو ساتلو څخه عبارت دی چې په کار نه دي چې خلک دې پر هغه خبر وي.

## د کتمان ډولونه:

کتمان په دوه ډوله دی:

۱ـ غوره کتمان.

۲ـ نا غوره کتمان.

## غوره کتمان:

دا یو ډول امانت، د وفا یو قسم، او د وقار نښه ده.

ددې ډول کتمان بېلګې په لاندې ډول دي:

---

۱- مسلم

### ۱. د راز پټ ساتل:

مسلمانان رازونه پټ ساتي، برابره ده چې دا رازونه يې په ځان پورې ځانګړې او يا په نورو پورې تړلي وي، چې پر ده يې باور کړی دی، کله چې مسلمان رازونه ساتلي وي، زړه به يې له هيڅ ويره نه لري. ډاډه او آرام به وي او چې چا خپل راز نورو ته ښکاره کړ، له هر لوري به د ګواښ احساس کوي

راز ساتنه د انسان په امين والی باندې ستر دليل دی، خلک پرې باور کوي، کوم انسان چې راز ونه شي ساتلی، خلک ورنه کرکه کوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: (إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ حَدِيثًا فَالْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ)[۱].

ژباړه: څوک چې د خبرې کولو پر مهال شاوخوا ته وګوري، دغه خبره امانت ده.

پيغمبر ﷺ به چې کومې غزوې ته د تللو اراده درلوده، ځای او وخت به يې تر هغې چا ته نه ښودلو، چې لښکر به تيار شو.

### ۲. د اړتياوو پټ ساتل:

څوک چې غواړي خپله اړتيا پوره کړي، نو تر هغې دې يې پټه وساتي، چې پوره يې کړي.

پيغمبر ﷺ د اړتياوو د پوره کولو په هکله د راز د پټولو سپارښتنه کړې فرمايي: (اسْتَعِينوا عَلَى إِنْجَاحِ حَوَائِجِكُمْ بِالْكِتْمَانِ، فَإِنَّ كُلَّ ذِي نِعْمَةٍ مَحْسُودٌ)[۲].

ژباړه: د اړتياوو په پوره کولو کې له کتمان(راز پټولو) ګټه واخلئ، ځکه چې د هر نعمت له خاوند سره حسد کېږي.

### ۳. د خپل کور راز ساتل:

هغه څه چې په کور کې تېرېږي، واجب دي چې پټ وساتل شي او له نورو سره ونه ويل شي او همدارنګه لازمه ده چې د ښځې او خاوند ترمنځ اړيکې پټې وساتل شي، څه يې چې ترمنځ تېرېږي د امانت حکم لري بايد چې نورو ته افشا نه شي.

---

۱- ترمذي

۲- طبراني وبيهقي

پیغمبر ﷺ فرمايي: (إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلَ يُفْضِى إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِى إِلَيْهِ ثُمَّ يَنشُرُ سِرَّهَا)[1].

ژباړه: په قيامت کې بد ترين انسان د مرتبې په لحاظ هغه څوک دی چې خپلې ماندينې ته ورانږدې کېږي او هغه ده ته ورانږدې کېږي بيا يې راز ښکاره کوي.

## د مسلمان د ناموس راز ساتل:

مسلمان د بل مسلمان د ناموس په اړه داسې خبرې نه کوي چې زړه يې پرې بد شي، بلکې د هغوی د محرمو شيانو ساتنه کوي او د هغوي له محارمو څخه خپلې سترګې بندې ساتي، څوک چې د نورو د ناموس سپکاوی کوي، الله تعالی به يې په دنيا او آخرت کې له سختو عذابونو سره مخ کړي، لکه چې فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النور/ ١٩].

ژباړه: هغه څوک چې خوښيږي چې په مؤمنانو کې دې فحشا خپره شي، هغوی ته په دنيا او آخرت کې دردونکی عذاب دی، الله تعالی (د فحشا د خپريدلو په بدو پايلو) پوهېږي او تاسي نه پوهيږئ.

پیغمبر ﷺ په دې اړه فرمايي: (... و من ستر مؤمناً ستره الله فی الدّنيا والآخرة) (رواه مسلم)

ژباړه: چا چې د مسلمان پرده وکړه الله تعالی به په دنيا او آخرت کې د هغه پرده وکړي.

په بل ځای کې بيا فرمايي: (يا من آمن بلسانه و لم يؤمن قلبه لا تتبعوا عورات المسلمين، فان من تتبع المسلمين، فضح الله ولو في عقر داره).

ژباړه: ای هغو کسانو چې په ژبه مو ايمان راوړی او په زړه مؤمن نه ياستئ. د مسلمانانو پټ رازونه مه لټوئ. څوک چې د مسلمانانو رازونه پلټي، الله به يې رسوا کړي، که څه هم د کور په منځ کې وي.

---

١- مسلم

**نا غوره کتمان (راز پټول) په درې ډوله دي:**

هر کله چې کتمان يو مطلوب کار دی لکه څنګه چې پيغمبر ﷺ يې پر لور هڅونه کړې ده، داسې ځايونه هم شته چې پټول يې نه يوازې روا نه، بلکې ضرور دي چې په اړه يې خپل معلومات بيان کړي، هغه ځايونه دا دي:

**أ- د شهادت پټول:**

مسلمان ته روا نه دي چې شهادت پټ کړي بلکې ورباندې لازم دي چې څه ورته معلوم وي ويې وايي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ﴾ [البقرة/٢٨٣].

ژباړه: شهادت مه پټوئ. څوک يې چې پټوي زړه يې ګناه ګار دی، الله تعالی په هغه څه چې سرته يې رسوئ خبر دی.

**ب- د علم پټول:**

مسلمان ته روا نه دي چې خپل علم پټ کړي، ځکه چې د علم پټول لويه ګناه ده او په آخرت کې سخته سزا ورته ټاکلې شوې ده، د علم پټونکی د الله تعالی د لعنت وړ ګرځي، الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَـئِكَ يَلعَنُهُمُ اللّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ﴾ [البقرة/ ١٥٩]

ژباړه: په تحقيق هغه کسان چې پټوي د الله تعالی نازل کړای شوي روښانه دلايل او لارښوونې وروسته له دې چې موږ د خلکو لپاره په خپل کتاب کې بيان کړې دي، پر دغو کسانو لعنت وايي الله تعالی او نور لعنت ويونکي.

همدا راز يې فرمايلي دي: ﴿وَلاَ تَلْبِسُواْ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُواْ الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة/٤٢].

ژباړه: مه ګډوئ حق له باطل سره او مه پټوئ حق، په داسې حال کې چې تاسو پوهيږی.

د علم پټوونکی به د قيامت په ورځ په داسې حال راشي چې د اور قيضه يې په خوله کې وي، ځکه

چې علم یې پټ کړی او د بخل له امله یې چاته نه دی ښودلی.

پیغمبر ﷺ فرمايي: (مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ فَكَتَمَهُ أَلْجَمَهُ اللهُ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)[1].

ژباړه: له چا شخه چې د علم په باره کې پوښتنه وشي او هغه يې پټ کړي، نو الله تعالی به يې د قيامت په ورځ د اور په قيضی سره قيضه کړي.

نو مسلمان بايد حق شهادت او علم خپل پټ نه کړي.

### ج ـ په پلورلو او پېرودولو کې کتمان:

پر مسلمان پلورونکي لازم دي چې د خپلې مبيعې عيب بيان کړي او په خپله معامله کې صادق وي، تر څو يې الله تعالی په سوداګرۍ کې برکت واچوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: (الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يتفرَّقَا، فَإِنْ صَدَقَا وَبَينا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا)[2].

ژباړه: پلورونکی پېرودونکی دواړه تر هغې پورې اختيار لري چې يو له بل څخه جدا شوي نه وي. که يې رښتيا وويل او معلومات يې ورکړل، معامله به يې با برکته شي او که يې کتمان د عيب وکړ او دروغ يې وويل، نو د معاملې برکت به يې له منځه لاړ شي.

## ارزونه

لاندینی څرګندونې مطالعه کړئ او بیا یې پر وړاندې د سم او یا ناسم نښه وکاږئ.

ـ میمونه د کور رازونه خپلو ملګرو ته وایي او د ملګرو رازونه په کور کې بیانوي(    ).

ـ فواد هېچا ته اجازه نه ورکوي چې د کور د رازونو په هکله ورنه پوښتنه وکړي او په دې له خپلو دوستانو څخه خپه کېږي(    ).

ـ کله مې چې ورور د خپلو ملګرو رازونه راته وايي، زه يې خبرو ته غوږ نه نيسم(    ).

ـ کتمان(راز ساتل) په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.

ـ د غوره کتمان دوې بېلګې بيان کړئ.

---

۱- ابوداود، ترمذی و ابن ماجه.

۲- بخاري

ـ په کومو ځایونو کې کتمان نا غوره بللی شو؟

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د راز د ساتلو د ګټو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

ځلرویشتم لوست

# تأني (بیړه نه کول)

الله تعالی مؤمنانو ته په هر کار کې په ځانګړې ډول له فاسقانو څخه د یو خبر په اورېدلو کې د غور او تأمل کولو امر کړی دی، فرمايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾ [الحجرات: ٦]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، که کوم فاسق سړي تاسو ته(د څه په اړه) خبر درکړ، نو تحقیق وکړئ، داسې نشي چې یو قوم ته په نا پوهۍ (له پوهېدلو پرته) زیان ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښېمانه شئ.

په دې لوست کې به وپېژنو چې تأني(بیړه نه کول) څه دی، د مشروعیت دلیل یې کوم دی او څه ارزښت لري، آیا په بیړې کې خیر دی یا پښېماني، او څنګه ځان په دې صفت سنبال کړو او څه وخت په خپلو کارونو کې له حوصلې او غور څخه کار واخلو او کوم وخت له بیړې او چالاکۍ څخه؟

## تأني څه ته وايي؟

### د تأني تعریف:

تأني د تأنی یتأنی د باب مصدر په لغت کې غور، حوصلې، او دې ته ورته معناګانو لکه حلم او داسې نورو ته ویل کېږي

او په اصطلاح کې: د یو شي په لاس ته راوړلو کې غور او فکر کولو او پکې له بیړې څخه کار نه اخیستلو ته تأني وايي.

### د تأني د مشروعیت دلایل:

الله تعالی فرمایلي دي:﴿فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا﴾ [مریم: ٨٤]

ژباړه: ای پیغمبره! تلوار (بیړه) مه کوه(د عذاب په راتګ کې) ورباندې، په تحقیق موږ ددوی (عملونه) محاسبه کوو (شمیرویې او د کړنو سزا به یې ورکړو).

فرمايي: ﴿وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ [طه: ١١٤]

ژباړه: ای پیغمبره! د قرآن د نازلېدو پر مهال پخوا له دې چې وحې پای ته نه وي رسېدلې، بیړه مه کوه(ژر ژر د قرآن آیتونه د جبریل عليه السلام پسې مه تکراروه، الله تعالی به قرآن ستا په مغزو کې کښېنوي) او ووایه ای پروردګاره! زما پوهه زیاته کړه.

له حضرت انس ﷺ نه روایت دی چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (التَّأَنِّي مِنَ اللهِ وَالعَجَلَةُ مِنَ الشَّيطَانِ)[1].

ژباړه: حلم او حوصله د الله ﷻ له لوري ده (الله پرې خوشحالیږي) او عجله (بیړه) له شیطان څخه ده.

او فرمایلي یې دي: (يُسْتَجَابُ لأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ فَيَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ رَبِّى فَلَمْ يَسْتَجِبْ لِى)[2].

ژباړه: ستاسو د هر یو دعا قبلیږي چې عجله و نه کړي او ونه وایي: چې الله ته (دعا کوم)، خو نه یې قبلوي.

هر کله چې تأني او غور کول د تثبت او بیړې نه کولو په معنا ده، نو له امله یې مسلمان په خپل هر کار کې له تأني، غور او حوصله مندی څخه کار اخیستلو ته لیوال وي، په کارونو کې سستي نه بلکې په غور او اخلاص سره یې په هکله فکر کوي.

حضرت علی ﷺ فرمایي: د کار د پر مخ بېولو اندیښنه مه کوئ، بلکې د کار د ښه والی او بهتروالي په فکر کې اوسیږئ، ځکه چې خلك دې ته نه ګوري چې کار دې په څومره موده کې سرته رسولی، بلکې د کار ښرنګوالي او کیفیت ته اعتبار ورکوي.

د حکیمانو له ډلې څخه یو تن ویلي دي: هر څوك چې د ځواب په ورکړه کې ګړندی وي، له خطا به خوندي نه وي.

بل وایي: چې څوك کار په غور، فکر او دقت کوي، هرو مرو پایلې ته رسیږي.

## د تأني ارزښت:

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ روایت کوي چې پیغمبر ﷺ اشج ﷺ ته وفرمایل: په تا کې دوه خویونه دي چې د الله تعالی ډېر خوښ دي، حلم (زغم) او تأني(په غور، دقت، تأمل باندې کار کول).

## تلوار:

تلوار د غور او تأمل کولو ضد دی، عربی متل دی چې څوك خپله سورلی په دې مقصد ووهي چې وځغلي په دغسې چالاکی کولو سره خپل هدف ته نه شي رسېدلې او سورلی یې هم هلاکیږي.

## په ښو کارونو کې بیړه اوتلوار:

هر کله چې مسلمان وغواړي یو ښه کار ترسره کړي، نو کوښښ دې وکړي چې ځنډ ونه شي، د بېلګې په ډول که وغواړي صدقه او خیرات ورکړي او یا بل کوم عبادت کول غواړي، نو له بیړې دې کار واخلئ.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيءٍ خَيْرٌ إِلَّا فِي عَمَلِ الآخِرَةِ)[3].

ژباړه: په هر کار کې تلوار نه کول غوره دي، خو د آخرت په کار کې(بیا تلوار کول غوره دي).

---

۱- الترغيب والترهيب (۳/ ۴۱۸)

۲-بخاري ومسلم (متفق عليه)

۳- ابوداود

لکه چي پیغمبر ﷺ موږ ته د روژې په ماتولو کې د بیړې کولو امر کړی دی، (لَايَزَالُ النَّاسُ بِخَيرٍ مَا عَجِلُوا الفِطرَ)[1].

ژباړه: تل به خلک نیک مرغه وي چې تر څو په روژه ماتي کې بیړه کوي.

الله تعالی فرمایي:﴿وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾[آل عمران: ۱۳۳]

ژباړه: (د ښو او مناسبو اعمالو په کولو) د الله تعالی د بښنې او جنت لور ته ګړندي شئ چې سور(عرض) یې د آسمانونو او ځمکې د سور په اندازه دی (دغه ډول قیمتي شی) پرهېزګارانو ته تیار شوی دی.

له دغو ایاتونو او احادیثو څخه څرګندېږي چې د خیر په کارونو کې تأني شتون نه لري.

## فعالیت

لاندې جملې ولولئ او بیا له هرې یوې څخه ښه او بده تأني په ګوته کړئ:

۱- محمود د خپل بڼ میوې چې لا پخې نه وې، وشکولې.

۲- د جمعې له وخت څخه ۱۵ دقیقې وړاندې مسجد ته راغلم.

۳- نه مې خوښېږي چې ددوو تنو ترمنځ پرېکړه وکړم، ترڅو دواړو لوریو دلایل په غور سره وانه ورم.

٤- وروسته له دې چې شیطان له ما څخه زما دوست خوا بدی کړ، نو بیا مې وړاندې په سلام اچولو کې ړومبی والی وکړ.

## د بېړې او تأني نه کولو خطرناکې پایلې:

۱ـ په روایاتو کې راغلي چې پیغمبر ﷺ ولید بن عقبه د بنی مصطلق قبیلې ته واستاوه تر څو یې د مال زکات ټول او مدینې منورې ته یوسي. کله چې عقبه نوموړې قبیلې ته ورنږدې شو، د قبیلې خلک یې د هرکلي لپاره مخې ته ورغلل، خو هغه ګمان وکړ چې نوموړي خلک له دین څخه اوښتي او ده د وژلو لپاره راوتلي دي. مدینې منورې ته په ستنېدلو یې پیغمبر ﷺ له حاله خبر کړ. پیغمبر ﷺ خالد بن ولید د مسلمانانو له لښکر سره د نوموړې قبیلې په لور ولېږلو او د موضوع په هکله یې د غور او دقت کولو ورته وفرمایل، حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه کسان ورولېږل ترڅو یې له حالت څخه ځان خبر کړي. کله چې خلک واپس راغلل، نو ویې ویل: چې بنی مصطلق لا تر اوسه په اسلامي لارښوونو پابند دي. د لمونځ لپاره یې اذان او اقامت موږ واورېدلو هماغه و

۱- متفق علیه

چې خالد بې له جګړې څخه بېرته ستون شو او پیغمبر ﷺ یې د هغوې په ایمان لرلو ډاډه کړ.

۲- په یو بل روایت کې راځي چې نبي کریم ﷺ یوې سیمې ته یوه سریه ولېږله، کله چې سریه هغه ځای ته ورسېده، نو د مسلمانانو او کفارو تر منځ جګړه ونښتله، د جګړې په جریان کې یو کافر د جګړې له میدان څخه وتښتېد. اسامه بن زید او یو بل انصاری هغه تعقیب کړ. بالاخره یې ونیو. کافر پدې مهال د توحید کلمه وویله، خو اسامه په دې ګومان چې کلمه یې د ځان د ژغورلو لپاره ویلې ده، په نېزه باندې یې وواژه. کله چې سریه مدینې منورې ته را وګرځېدله او دا کیسه یې نبی کریم ﷺ ته وکړه، نو نبی کریم ﷺ اسامه بن زید پدې کار سخت تهدید کړ، ځکه ده پدې کار کې له بیړې کار اخیستی و، اسامه هم په خپلو کړو سخت پښېمانه و[۱].

## د تأني ګټې په لاندې ډول دي:

۱. تأني(بیړه نه کول) ددعا د قبول ستر لامل دی.

۲. تأني(غور او تأمل کول) هغه خوی دی چې الله تعالی او د هغه رسول یې خوښوي.

۳. ددې صفت لرونکی انسان په خطاکې نه لوېږي.

٤. تأني یو ډول غوره وقار دی.

٥.کوم کار چې خیریت یې څرګند نه وي، باید تاني پکې مراعات شي.

٦. په هغه کارکې چې خیریت یې ثابت وي، باید تلوار وشي او تأني کول پکې بې ځایه دی.

## ارزونه:

۱. تأني په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲. د تأني مشروعیت د قرآن او سنتو له مخې ثابت کړئ.

۳. د مسلمانانو په ژوند کې د تأني اهمیت څه دی؟ په ګوته یې کړئ.

٤. د مسلمانانو په ژوند کې د تأني ګټې کومې دي؟

٥. آیا د تأني په اړه مو د تېرو شوو خلکو په ژوند کې نورې کیسې اورېدلې دي.

### کورنی دنده

ګرانو زده‌کوونکو! لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ فرمایلي، چې تلوار کول د شیطان کار دی، د تلوار د زیان په هکله پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

---

۱- مسلم

# مرسته کول

آیا د یوې ټولنې پایښت د هغې د افرادو ترمنځ له مرستې او یووالي پرته شونی دی؟ آیا هر انسان یوازې ژوند کولای شي؟ یقیني ده چې د افرادو له مرستې او یووالي پرته ټولنه منځ ته نه شې راتلای. انسان په یوازې ځان خپلې ټولې اړتیاوې نه شي برابرولای، نه هم خپلې ګټې ساتلای شي. البته د ژوند پایښت یې یو له بل سره په اړیکو لرلو ولاړ دی.

له اړمنو سره مرسته یوه اسلامي وجیبه او له اسلامي خصلتونو څخه یو مهم خصلت دی لکه څنګه چې پیغمبر ﷺ فرمایي: (مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِى الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ فِى عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِى عَوْنِ أَخِيهِ...)[1].

ژباړه: چا چې په دنیا کې د یو مؤمن ستونزه حل کړه، الله تعالی به یې د قیامت په ورځ ستونزه حل کړي، چا چې د یو مسلمان پرده وکړه، الله تعالی به د ده پرده په دنیا او آخرت کې وکړي، او الله تعالی د بنده په مرسته کې دی، تر څو بنده د خپل ورور په مرسته کې وي.

د دې لوست موخه دا ده چې د مرستې معنا روښانه او مسلمان ته یې د کولو لارې او چارې معلومې شي.

## د تعاون (مرستې) تعریف:

تعاون په لغت کې په یو کار کې د مرستې په معنا کارول شوی.

او په اصطلاح کې: دادی چې یو څوک له خپل مسلمان ورور سره د غوره کارونو په کولو او د ناوړه کارونو په نه کولو کې مرسته وکړي.

---

۱- صحیح مسلم - (۸ / ۷۱)

## د مرستې د مشروعیت دلیلونه:

### ۱- له قرآن کریم څخه:

الله تعالی د مرستې کولو امر کړی دی، فرمایي: ﴿ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ﴾ [المائدة: ۲]

ژباړه: په نیکیو او پرهېزګاریو کې د یو بل مرسته او ملاتړ وکړئ او په ګناه او یرغل کې یو د بل ملاتړ مه کوئ.

### ۲- له احادیثو څخه:

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «اُنْصُرْ أَخَاكَ ظَالِماً أَوْ مَظْلُوماً» فقَالَ رَجُلٌ: يَا رسول الله أَنْصرهُ إِذَا كَانَ مَظلُوماً أَرَأيت إِنْ كَانَ ظَالِماً كَيفَ أَنْصُرُه؟ قال: (تَحْجُزُهُ أَوْ تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذلِك نَصْرُهُ)[1].

ژباړه: د خپل ورور مرسته وکړه، برابره خبره ده چې ظالم وي او که مظلوم، یو صحابي وویل: یا رسول الله مدد به یې وکړم، که مظلوم وي، خو راوښیه، که ظالم وي، څنګه یې مدد وکړم؟ پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چې له ظلم څخه یې منعه کړه، همدا له ده سره مرسته ده.

## د مرستې اهمیت او له یووالی سره د هغې اړیکې:

د ټولنې د وګړو ترمنځ یو له بل سره مرسته کول داسې یوه ټولنیزه اړتیا ده چې قرآن کریم پرې امر کوي، خو په دې شرط چې په نیکیو، خیر او ټولګټو کارونو کې وي، نه په ناروا کې چې پر نورو تېری وشي او عزت یې تر پښو لاندې شي.

په اسلام کې د مرستې او یووالی ترمنځ نږدې اړیکې شته، هغه په دې ډول دي چې مرسته له دوو لورو د هڅې او هاند په پایله کې منځ ته راځي، یووالی چې له مرستې څخه یوه پوړۍ بر دی، د زورور له لوري له کمزوري سره د مرستې کول دي چې د مهربانی او مینې له احساس سره ملګری وي، پیغمبر ﷺ هغه د یو دنګ تعمیر له خښتو سره تشبیه کړی چې څینې یې څینې نورې کلکوي، فرمایي: (الْمُؤمِنُ لِلمُؤمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعضُهُ بَعضاً وشَبَّكَ بَين أَصَابِعِهِ)[2].

ژباړه: مؤمنان په خپلو منځو کې د تعمیر د خښتو په څېر دي چې څینې یې څینې نورې کلکوي

---

۱- بخاری

۲- بخاری

او بیایې ګوتې یو او بل کې سره ورکړې.

نو یوه خښته که څومره هم محکمه وي، بیا هم کمزورې ګڼل کېږي او له زرګونو پرتو خښتو څخه چې د دېوال په بڼه یوه په بلې پسې تنظیم نه شي، هېڅ ډول تعمیر نه جوړېږي. ولې کلک او محکم تعمیر یوازې له هغو خښتو څخه جوړېدای شي چې یوه په بله پسې جوختې په سیده لیکو کې په منظم ډول دېوال کړای شي.

همدا شان یې د ټولنې د افرادو ترمنځ د مینې، مهربانۍ او لورینې په اړه کې فرمایلي دي: (مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِی تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَکَی مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَی لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّی)[1].

ژباړه: مسلمانان په خپل منځ کې یو له بل سره په مینې کولو، مهربانۍ او لورینې کې د یو بدن په څېر دي، کله یې چې کوم غړی په درد شي، نو د بدن نور غړي ورسره په تبې او په رنځې شپې تیرولو کې ملتیا کوي.

### د تعاون (مرستې) فضیلت:

اسلام مرستې ته هڅونه کړې، ځکه چې یو له بل سره تعاون(مرسته کول) د ښو کارونو د خپرېدلو د اړتیاوو د پوره کولو، په ستونزو د بریاو او د ټولنې په وګړو کې د مینې او یووالي رامنځ ته کېدلو لامل دی، پیغمبر ﷺ یې په هکله فرمایي: (یَدُ اللهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ، مَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ).

ژباړه: د الله تعالی د رحمت لاس (تعاون) له جماعت سره دی، څوک چې یوازې شي او د مسلمانانو ټولنه پرېږدي، نو له همدې امله به دوزخ ته لاړ شي.

تعاون(مرسته کول) د ژوند له اړتیاوو څخه دی، پیغمبر ﷺ فرمایي: (مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لا ظَهْرَ لَهُ، وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لا زَادَ لَهُ)

ژباړه: څوک چې زیاته سورلۍ لري، باید چې هغه چاته یې ورکړي چې سورلۍ نه لري او څوک چې زیاته توښه لري، نو باید چې هغه چاته یې ورکړي چې توښه نه لري.

او په بل ځای کې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (وعَوْنُكَ الضَّعيفَ بِفَضْلِ قُوتِكَ صَدَقَةٌ)

ژباړه: له کمزوري سره مرسته کول صدقه شمېرل کیږي.

---

۱- المسلم

## فعالیت

ګرانو زده‌کوونکو لاندې کیسې ولولئ او پر تعاون(مرسته کولو) باندې یې دلالت په لنډ ډول بیان کړئ.

۱ـ یوه ورځ یو پوه سپین ږیري خپل زامن راټول کړل او د لښتو یوه ګېډۍ یې ورته ورکړه او له هر یو څخه یې وغوښتل چې ماته یې کړي، ولې ټول یې په ماتولو کې پاتې راغلل، بیا سپین ږیري ګېډۍ واخیسته او یوه یوه لښته یې زامنو ته ورکړه چې ماتې یې کړي دا ځل یې ټول په ماتولو بریالي شول.

۲ـ الله تعالی ابراهیم عليه السلام ته حکم وکړ چې کعبه شریفه جوړه کړي هغه علیه السلام له خپل زوی اسماعیل عليه السلام څخه وغوښتل چې په دې کار کې ور سره مرسته وکړي، هماغه و چې دواړو دغه ودانۍ په غوره ډول سره سرته ورسوله.

۳ـ الله تعالی موسی عليه السلام ته امر وکړ چې فرعون توحید ته راوبولي او هغه له الله تعالی څخه وغوښتل چې ورور یې حضرت هارون علیه السلام د معاون او وزیر په حیث ورسره ولیږي چې دواړه یو د بل په مرسته وکولای شول پر فرعون او لښکرو یې برلاسي شي.

## ارزونه:

۱- تعاون په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ

۲- د تعاون د مشروعیت په اړه له قرآن کریم څخه یو دلیل راوړئ.

۳- تعاون په نبوي احادیثو څنګه ثابتیږي؟

٤- د مسلمانانو تر منځ تعاون څه اهمیت لري؟

٥- آیا د مرستې او پیوستون تر منځ معنوي اړیکه شته؟

٦- د مرستې له برکته مسلمان کومې ګټې تر لاسه کولای شي او کوم فضیلتونه پکې نغښتي دي؟

## کورنۍ دنده

د مرستې په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو کمه نه وي.

# حکمت

حکمت په اسلام کې خورا لوړ مقام لري. هر کله چې کومه وینا یا کار په حکمت(پوهې) ترسره شي، ځانګړی قدر پیدا کوي او هر څومره چې له حکمت (پوهې) څخه لرې شي په هماغه کچه خپل ارزښت له لاسه ورکوي، له دې امله واړه او لویان، نارینه او ښځې، حاکم او محکوم، بلکې مسلمان او کافر کوښښ کوي. چې ځان د پوهې خاوند څرګند کړي او پردې ویاړي چې کله یې څوک د حکیم په نامه یاد کړي.

## د حکمت(پوهې) تعریف:

حکمت د تعقل او دین پوهنې او یا پر ښه طریقه د علم او عمل کولو پر معنا دی. دلته د حکمت معنا دومره پراخه ده چې ټولې چارې رانغاړي، چې په مناسب ځای کې د هر څیز له ایښودلو څخه عبارت دی، لکه غصه د غوصې، خوښی د خوښۍ او په بیلا بیلو ځایونو کې د مختلفو تګ لارو د کارونې نوم دی.

## حکمت په قرآن کریم کې:

حکمت تر نبوت پورې ځانګړی نه دی بلکې پراخ مفهوم لري، چې نبوت او رسالت یې تر ټولو وروستی مرتبې دي، البته د پیغمبرانو علیهم السلام لارویان په پراخه کچه له حکمت څخه برخمن کېدل د هغوی علیهم الصلاة و السلام د لارویتوب له برکته دی. لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿یُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاء وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ﴾ [البقرة ۲٦۹]

ژباړه: ورکوي حکمت چاته یې چې خوښه شي(پیغمبر وي او که نه وي) او هر چا ته چې حکمت ورکړای شو، په تحقیق سره ډېر خیر ورکړای شوی دی. یوازې د پوهې خاوندان دغه حقیقت پیدا کولای شي او پند اخلي.

او لقمان ته د حکمت د ورکړې په باره کې چې پیغمبر هم نه دی، فرمايي: ﴿وَلَقَدْ آتَينا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلهِ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾ [لقمان ١٢].

ژباړه: لقمان ته مې حکمت(پوهه) ورکړه (او ورته مې امر وکړ) چې د الله شکر اداکړه(په دې خاطر) چې څوک شکر پرځای کوي، ګټه يې د ځان ده او څوک چې نا شکري وکړي. ځان ته زيان رسوي(نه الله تعالی ته) ځکه چې الله تعالی بې نيازه او ستايل شوی دی.

او داود عليه السلام چې پيغمبر دی، الله تعالی يې په ستاينه کې فرمايي: ﴿وَآتَاهُ اللهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ﴾ [البقره ٢٥١]

ژباړه: او الله تعالی ورکړ داود عليه السلام ته حکومت او حکمت دواړه.

## حکمت په نبوی احاديثو کې:

له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې وايي: پيغمبر صلی الله عليه وسلم په غېږ کې ونيولم او دعا يې وکړه چې ای لويه خدايه! ده ته حکمت(پوهه) ور زده کړې.[١].

او په بل حديث شريف کې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: غبطه (رخه کول) يوازې په دوو ځايونو کې روا دي: يو د هغه سړي په هکله چې الله تعالی مال ورکړی وي او ورسره يې د حق په لاروکې ورته د لګولو توان وربښلی وي او بل د هغه سړي په هکله چې الله تعالی علم ورکړی او هغه يې له مخې پرېکړې کوي او خلکو ته يې ورزده کوي[٢].

له حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ځينې شعرونه له حکمت څخه ډک دي(بخاري) يعني هغه اشعار چې رښتيني او له حق سره سمون لري.

## د حکمت موانع:

١. نفسي غوښتنې د حکمت له سترو موانعو څخه دي لکه چې الله تعالی فرمايي﴿وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ﴾ [سورت ص: ٢٦]

ژباړه: د نفس مه منه چې د الله تعالی له لارې څخه دې اړوي.

او په بل آيت کې راغلي دي: ﴿وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ﴾ [المؤمنون٧١]

---

١- بخاري
٢-بخاري

ژباړه: که حق د دوی د غوښتنو لاروېتوب کولای (او د موجوداتو نړۍ د دوي د میل موافق حرکت کولی) آسمانونه او ځمکه به له خپلو ټولو اوسېدونکو سره له مینځه تللي وو او کاینات به ګډوډ شوي وای.

۲. د شرعي دلایلو ناسم تفسیر او یا وړاندې بې ځایه استدلال او یا یې نه راټولول.

۳. د تجربې او تخصص کمښت.

٤. ځان ستاینه او د موخو نه ټاکل او په کارونو کې بې پروایي او تلوار.

۵. د مفاهیمو ګډوډي او پر دیني کلیاتو باندې د جزئیاتو مخکې والی، د غلیم له چل ول څخه بی خبري، په دقیقه توګه د مفاسدو او مصالحو د اصل نه پېژندل.

## د حکمت د لاس ته راوړلو لارې:

مخکې له دې چې په اخلاقي فضایلو ځان سنبال کړو، باید چې رذایل له ځان څخه لرې کړو. هر څوک چې د حکمت غوښتونکی وي، نو باید پردې وپوهیږي چې حکمت د الله تعالی لورینه ده او یوازې الله تعالی ته په غاړه اېښودلو باندې ترلاسه کېدای شي.

## د حکمت غوره لاملونه:

اخلاص، پرهېزګاري، له اصلی مصادرو څخه د شرعي علم زده کړه، مشوره، استخاره، روژه، لوړې او ارزښتناکې موخې، د شرعي تګلارو پېژندل، عدالت، تثبت، زیارګالل، دعا، صبر، نرمي او داسې نور دي. کله ناکله دغه خویونه په یو تن کې او کله بیا هم د انسانانو په یوې ټولنې کې موندل کېږي، له همدې کبله د حکمت لږوالی او ډېروالی یو نسبي امر دی.

تر ټولو پوره انسانان پیغمبران دي، په هغوی کې پوره اولو العزمه پیغمبران دي او په هغوی کې تر ټولو پوره، حضرت محمد ﷺ دی. ځکه خو الله تعالی پرده او د ده پرامت د حکمت لورینه کړې ده، لکه چې فرمایي: ﴿وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ [النساء: ۱۱۳]

ژباړه: او نازل کړی دی الله تعالی پر تا کتاب او حکمت(پوهه).

## د حکمت ارزښت:

په جدي ډول د حکمت مراعتول په ټولو کارونو کې یو ضروري امر دی خو په ځینې مواردو کې ډېر زیات مهم وي لکه د مور او پلار سره احسان، د اولادونو پالنه، له ماندینې سره ښه ژوند تېرول ځکه چې ځینې خلک پر ښځې باندې د سرپرستی له حق څخه بی خبره دي او له هغې سره

د وینزې او خادمې په څیر معامله کوي او منلی شوی حق یې تر پښو لاندې کوي، ځینې نور بیا دومره د ښځو منونکي دي چې ګواکې ښځې ورباندې حکومت کوي، نو نه ښایېږي چې دومره افراط او تفریط شتون ولري.

همدا راز په نیکیو امر او له بدیو څخه منعه کول باید پر حکمت بنا وي، علماء کرامو په دې هکله ځینې قواعد په ګوته کړي دي، د مثال په ډول: د منکر مخنیوی کول په منکر باندې روا نه دي.

همدارنګه په ټولو خبرونو کې باید له حکمت څخه کار واخیستل شي په ځانګړې ډول هغو خبرونو کې چې د تهمت بڼه لري، په حدیث شریف کې راغلي دي: (كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ)[1]

ژباړه: د انسان د دروغجنۍ لپاره همدا بس دي چې څه واوري ویې وایي.

**ارزونه**:

۱. حکمت تعریف کړئ.

۲. د حکمت ډولونه بیان کړئ.

۳. د حکمت پراوونه روښانه کړئ.

٤. په قرآن کریم کې د حکمت یادونه څنګه شوې ده؟

۵. پیغمبر ﷺ د حکمت په اړه څه فرمایلي دي؟

٦. کوم شی د حکمت مانع ګرځي؟ وواياست.

۷. د حکمت د لاسته راوړلو لپاره څه کول په کار دي؟

۸. حکمت د انسان په ژوندانه کې څه اهمیت او اغیز لري؟

**کورنۍ دنده**

د حکمت په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو کمه نه وي.

---

۱- صحیح مسلم - (۱ / ۸)

## اووه ویشتم لوست

# شکر

### شکر څه ته وايي؟

شکر چې دَ شکَرَ، یَشکُرُ د باب مصدر دی لغتاً د یو سړي د احسان په خاطر ستایلو ته ویل کېږي.
په اصطلاح کې: د احسان بدله ورکول او د هغه چا ستاینه کول دی چې خیر او ښېګڼه کوي.

### د شکر د مشروعیت دلایل:

الله تعالی فرمایلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾ [البقره/۱۷۲]

ژباړه: ای مؤمنانو وخورئ پاک شیان چې الله تعالی روزي ګرځولي دي تاسو ته او د الله تعالی شکر پرځای کړئ که یواځې د هغه عبادت کوونکي یاستئ.

او الله تعالی فرمایلي دي: ﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾ [سورت ابراهیم/۷]

ژباړه: که شکر وباسئ نو په، تاسي به لا زیاته ډېر زونه وکړم او که ناشکري وکړئ، په رښتیا چې زما عذاب ډېر سخت دی.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (إِنَّ اللَّهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا)[۱].

ژباړه: په رښتیا چې الله تعالی له بنده څخه خوشحالیږي چې خواړه وخوري او د الله تعالی شکر اداکړي او د څښلو شی وڅښي او د الله تعالی شکر اداکړي.

همدا راز یې فرمایلي دي: (عَجَبًا لأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ)[۲].

ژباړه: عجیبه ده چې مؤمن ته هر کار په ګټه دی او دا یوازې د مؤمن شان دی، که خوشحالي ورپېښه شي، شکر اداکوي. نو ورته ګټه ده او که زیان ورپېښ شي صبر کوي، نو دا ورته ګټه ده.

---

۱ - مسلم
۲ - مسلم

## د انبیاوو عَلَیهِمُ السَّلام شکر:

شکر د انبیاوو علیهم السلام صفت او خوی دی.

الله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام په حق کې فرمایي: ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (١٢٠) شَاكِرًا لِأَنْعُمِهِ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾ [د النحل سورت آیت: ١٢٠-١٢١]

ژباړه: بېشکه چې ابراهیم عَلَیهِ السَّلام په خپل ذات کې يو بشپړ امت و د الله تعالی حکم ته غاړه اېښودونکی و او د حق پلوی و او هغه د مشرکانو له ډلې څخه نه و، هغه د الله تعالی د نعمتونو شکر کوونکی و، هغه الله تعالی (د دغو نیکو خویونو له امله د رسالت د ترسره کولو لپاره) غوره کړ او سمه لار يې ور وښودله.

همدارنګه الله تعالی نوح عَلَیهِ السَّلام په شکر ادا کولو ستایلی دی فرمایي: ﴿إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا﴾ [سوره اسراء/ ٣]

ژباړه: په رښتيا سره هغه (نوح عَلَیهِ السَّلام) شکر کوونکی بنده و.

او الله تعالی د سلیمان عَلَیهِ السَّلام په هکله فرمايلي دي: ﴿قَالَ هَذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ﴾ [سورت نمل/٤٠].

ژباړه: وویل سلیمان عَلَیهِ السَّلام دا (خارق العاده) کار زما د رب احسان دی، ترڅو مې وازمايي چې آيا شکر يې ادا کوم او یایې ناشکري او چا چې شکر ادا کړ، د ځان د ګټې لپاره يې دی او چې څوک ناشکري وکړي، په رښتيا چې زما پروردګار بې نيازه او کريم ذات دی.

پیغمبر صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّم خپل رب ته ډیر شکر کوونکی او موږ ته يې دا ښودلی دي چې له هر لمانځه وروسته ووايو: (اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ)[1].

ژباړه: ای لويه خدايه! ماته دې د خپل ذکر، شکر او په ښه طريقه ستا د عبادت کولو توفيق را په برخه کړې.

## د شکر ډولونه:

کولای شو شکر په لاندې ډولونو ووېشو:

### ١- د الله تعالی شکر:

مسلمان د خپل رب چې ډېر نعمتونه يې پرې لورولي دي شکر ادا کوي.

الله تعالی په شکر ادا کولو امر کوي او فرمايي: ﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ﴾ [سورت البقره/ ١٥٢].

---

١- ابوداود ونسائي

ژباړه: نو ما یاد کړئ (په حکمونو منلو سره) چې تاسې یاد کړم (د نعمتونو په زیاتوالی سره) زما شکر ادا کړئ او ناشکري مې مه کوئ.

د الله تعالی نعمتونه نه شمېرل کېږي لکه چې الله تعالی فرمايي:﴿وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَتَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا﴾[سورت ابراهيم/٣٤].

ژباړه: که د الله تعالی نعمتونه شمارل غواړي، حساب به يې نه شئ کړای.

الله تعالی په بل ځای کې فرمايلي دي:

﴿وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ [الانفال: ٢٦]

ژباړه: په خپله مرسته يې تاسې قوي کړئ او ښه روزي يې در ورسوله، ښايي چې تاسې شکر ويستونکي اوسئ.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (التَّحدُّثُ بِنِعْمَةِ اللهِ شُكْرٌ، وَتَرْكُهَا كُفْرٌ، مَنْ لاَ يَشْكُرُ النَّاسَ، لاَ يَشْكُرُ اللَّهَ، وَمَنْ لاَ يَشْكُرُ الْقلِيلَ، لاَ يَشْكُرُ الْكَثِيرَ)[1].

ژباړه: د الله تعالی د نعمتونو يادول شکر دی او ځان وربانديې غلی کول کفر (ناشکري) ده، څوک چې د خلکو شکر و نه کړي، د الله تعالی شکر نه شي اداکولای او چې څوک د لږ څه شکر اداء نه کړي د ډېر شکر نه شي اداکولای.

او فرمايلي يې دي: ﴿إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ﴾[2].

ژباړه: په رښتيا چې الله تعالی دوست ګڼي چې د خپل نعمت نښې پر خپل بنده باندې وګوري.

حضرت عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه ويلي دي: د نعمتونو يادونه کوئ، ځکه چې يادول يې شکر دی.

ابو عبدالرحمن سلمی رحمه الله ويلي دي: لمونځ شکر دی، روزه شکر دی، او هر نيک کار چې د الله تعالی لپاره يې سرته رسوئ، شکر دی او تر ټولو غوره شکر د الله تعالی ثنا او ستايل دي.

## ۲- د مور او پلار شکر:

الله تعالی د مور او پلار د شکر پرځای کولو او ورسره پر احسان کولو امر کړی دی، فرمايي﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ﴾ [لقمان: ١٤]

---

۱- بيهقي

۲- ابوداود و ترمذي

ژباړه: مور انسان ته د مور او پلار په هکله وصیت کړی دی. دا (انسان) خپلې مور د کمزورتیا او تکلیف په حال کې په ګېډه ګرځولی دی او له مور څخه جدایې یې په دوو کالو کې ده (دا وصیت مې ورته کړی) چې زما او هم دې د مور او پلار شکر اداء کړه او پوه شه چې په پای کې دې زما لور ته راستنېدل دي (چې نیکانو ته بدله او بدانو ته سزا ورکوم).

نو مسلمان د خپل مور او پلار شکر د هغوی امر ته په غاړه اېښودلو او له هغوی سره په احسان کولو او د هغوی د قهر په سړولو او رضایت لاس ته راوړلو باندې کوي.

## ۳- د خلکو شکر:

مسلمانان نیکي ستایي او د خلکو حقوق پېژني. نو د ښو کارونو په بدله کې چې ورسره ترسره کېږي شکر کوي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (إِنَّ أَشْكَرَ النَّاسِ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَشْكَرُهُمْ لِلنَّاسِ)[۱].

ژباړه: په رښتیا چې الله تعالی ته ښه شکر کوونکی هغه څوک دی چې د خلکو ښه شکر کوونکی وي.

## د شکر اداء کولو الفاظ او کلمات:

پیغمبر ﷺ پر مور ټینګار کړی چې څوک مور ته یو ښه کار ترسره کړي، نو باید چې شکر یې ادا کړو او ورته ووایو جزاك الله خیراً، الله تعالی دې نیکه بدله درکړي.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ: جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ)[۲].

ژباړه: څوک چې نیکي ورسره وشوه او نیکي کوونکي ته جزاك الله خیراً ووایي، د هغه شکر یې پوره ادا کړی دی.

## ارزونه:

۱ـ شکر په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۲ـ له قرآن او سنتو څخه د شکر د مشروعیت دلیل بیان کړئ.

۳ـ د شکر ډولونه کوم دي؟

٤ـ شکر څنګه اداکولای شو؟ د مسلمانانو پر وړاندې د شکر اهمیت تر کومې اندازې پورې دی؟

٥ـ د پیغمبرانو علیهم السلام د شکر او منني بېلګې بیان کړئ.

### کورنۍ دنده

پر ټولني او د انسان پر روحیاتو د شکر د اغېزو په اړه یوه مقاله ولیکئ.

---

۱- احمد

۲- ترمذي او نسائي

# قناعت

یو روغ سړی له خپلې کورنۍ سره یو ځای د خپل دوست په کور کې د خیر غوښتونکو دوستانو په مرسته خپل ژوند ته په داسې حالت کې دوام ورکوي چې له خپل ژوند څخه خوښ او خوشحاله دی، خو دی نه شي کولای چې د خپل اولاد تعلیمي بنسټیزو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړي.

آیا دا سړی یو قانع انسان دی؟

که قانع نه وي، نو قناعت څه شی دی او د انسان په فردي او ټولنیز ژوند کې یې رول څه دی؟

## د قناعت مفهوم:

پر هغه څه چې یو سړی یې په لاس کې لري، خوښي او خوشحالي او د دنیوی امکاناتو لاس ته راوړلو پسې له پریشانۍ څخه ځان ساتلو ته قناعت ویل کیږي.

ډېر خلک د مادي اړتیاوو د پوره کولو او دنیوي غوښتنو ته د رسېدلو په لار کې له پریشانۍ سره مخ او خپله آرامي یې له لاسه ورکړې وي. دوی خپل راتلونکي ته د اندېښنې یا د حالت نه د نا خوښۍ له امله په هر ډول هڅو لاس پورې کوي چې کله کله له اخلاقي چوکاټ او شرعي اصولو نه سر غړونه او تجاوز کوي.

اسلام خپلو لارویانو ته سپارښتنه کوي چې پانګه له روا او قانوني لارو څخه لاس ته راوړي، خو که کله په دې لار کې له ستونزو سره مخ شي او ونه شي کولای چې ټول هغه څه چې غواړي یې، لاس ته راوړي، نو بیا باید په ناروا لارو لاس پورې نه کړي او په نا مشروعو کارونو اخته نه شي، بلکې غوره به دا وي چې پر موجود حالت قناعت وکړي.

الله ﷻ هغه کسان چې بل ته لاس نه اوږدوي، عفت او قناعت یې خپل کړی وي، داسې ستایي:

﴿يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا﴾ [سورت البقرة آیت: ۲۷۳]

ژباړه: بې خبره خلک ګومان کوي چې دوی شتمن دي، ته د هغوی د څېرو په لیدلو د هغوی پر

حال خبریدای شي، دوی داسې خلک نه دي چې چاته کلک و درېږي او څه وغواړي.

رسول اکرم ﷺ د قانعو خلکو په اړه فرمايي:

(قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللَّهُ بِمَا آتَاهُ)[۱]. ژباړه: په حقیقت کې بریالی هغه سړی دی چې په اسلام مشرف شوي او ده ته کافي (د اړتیا به اندزه) روزي ورکړل شوې وي او الله ﷻ ورته پر هغه څه چې يې ورکړي، قناعت وربښلی وي.

## قناعت یو رواني حالت دی:

قناعت یو نفسي او رواني حالت دی، کوم چې انسان ته د استغنا احساس ورکوي او ځان د نورو اړ نه ګڼي. یاد شوی احساس له مال او امکاناتو سره کومه اړیکه نه لري، ځکه ډېر خلک به زیات مال لري، خو نوموړې آرامي به يې نه وي په برخه شوې او ددې پر عکس یو سړی به د لږ مال په درلودلو سره مستغنی وي. له همدې امله رسول اکرم ﷺ فرمايي: (لَيسَ الغِنَى عَن كَثْرَةِ العَرَضِ، ولكِنَّ الغِنَى غِنَى النَّفسِ)[۲].

ژباړه: شتمني د مادیاتو په زیاتوالي سره نه ده، بلکې حقیقي شتمني باطني استغنا ده.

## د قناعت د حصول معیار:

د قناعت حاصلولو یوه لار داده چې له ځانه د ټیټ مادي حالت خلک په پام کې ونیول شي، ځکه کېدای شي چې یو سړي داسې خلک ومومي چې له ده څخه يې مادي حالت ټیټ وي، رسول اکرم ﷺ فرمايي: (انْظُرُوا إِلَى مَنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلاَ تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لاَ تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ)[۳].

ژباړه: هغه چا ته وګورئ چې له تاسې ټیټ دي، نه هغو کسانو ته چې (له مادي پلوه) له تاسې لوړ دي، ځکه چې دا ستاسې په حق کې تر ټولو مناسب (او ددې سبب) دی چې د الله ﷻ نعمت ته په سپکه سترګه و نه ګورئ.

یاده شوې لار د قناعت د غښتلتیا لپاره یوه غوره لار ده چې رسول اکرم ﷺ خلکو ته ښودلې. پر دې سربېره د قناعت د غښتلتیا لپاره یوه بله لار د اسراف او بې ځایه مصرف نه په ځان ساتلو او د

---

۱- رواه مسلم

۲- رواه البخاری

۳- متفق علیه

ژوندانه په کارونو کې د اعتدال د لارې په خپلولو سره تر لاسه کېږي.

همدارنګه په دې لړ کې یوه بله لار چې قناعت ته غښتلتیا وربښي، د پرېشانۍ او د راتلونکي لپاره له سرګردانۍ څخه لرېوالی دی. هغه په تقدیر باندې ایمان دی، څکه چې کله انسان په دې ټکي پوه شي چې کومه روزي ماته ټاکل شوې ده، هغه را رسېږي، نو په دې صورت کې د سرګردانۍ ځای نه پیدا کېږي. همدارنګه انسان باید دا مطلب په یاد ولري چې قناعت د سرلوړۍ سبب ګرځي او د نورو پر وړاندې یې عزت زیاتوي، ورسره په دې ښایسته صفت باندې د سمبالتیا په لړ کې مرسته کوي.

## د قناعت پایلې او اغیزې:

هغه ارزښتناک اغېز چې د قناعت په پایله کې تر لاسه کېږي، دا دی چې انسان د الله ﷻ او خلکو پر وړاندې محبوب ګرځوي، او د آرامۍ او باطني تسکین احساس ورکوي.

## فعالیت

ښاغلی ښوونکی دې له ځینو زده‌کوونکو وغواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او دا څرګنده کړي چې په خپل مادي او معنوي ژوند کې چاته وګوري او کوم خلک د ځان لپاره بېلګه وګرځوي.

## لنډیز:

- په هغه څه خوښي چې الله ﷻ انسان ته ورکړي او له حرص څخه ځان ژغورلو ته قناعت ویل کېږي.
- اسلام خپلو لارویانو ته سپارښتنه کوي چې د حلا ل ما ل د لاس ته راوړلو لپاره روا لارې چارې ولټوي؛ پر هغه څه چې لاسته یې راوړي، قانع او راضي و اوسي.
- قناعت یو رواني حالت دی چې انسان ته د نورو پر وړاندې د استغناء احساس ورکوي.
- قناعت ته د رسېدلو یوه لار دا ده چې انسان باید هغو خلکو ته پام وکړي کوم چې له ده څخه په مادیاتو کې کمزوري دي.

• هغه ارزښتناکې پایلې چې پر قناعت مرتبېږي دادي چې انسان د الله ﷻ او د هغه د بندګانو پر وړاندې محبوب ګرځوي.

**ارزونه:**

۱. قناعت څه ته وايي؟

۲. ولې خلک کله کله شرعي اصول د پانګې د لاسته راوړلو په لار کې نا ليدلي ګڼي؟

۳. آیا قناعت د پیسو او پانګې په پایلې کې لاس ته راځي؟

٤. څرنګه کولای شو چې قناعت ترلاسه کړو؟

۵. د قناعت ارزښتناکې اغېزې کومې دي؟

**کورنۍ دنده**

له اسراف او بې ځایه لګولو څخه د ځان ساتنې د بېلګو او مظاهرو په هکله یو لنډ مضمون ولیکئ.

# عفت (پاک لمني)

عفت لوړ او با ارزښته خوی دی. قرآن کریم د دغه خوی لرونکي ستایلي او نبي کریم ﷺ هم مسلمانان د دغه خوی لرلو ته را بللي دي.

نو عفت څه ته وايي؟ اسلام څرنګه عفت ته بلنه کړې ده؟ د عفت مثبتې اغېزې څه دي؟ له عفت څخه د مخالفت په صورت کې کوم ناوړه اغېز منځ ته راځي؟

## د عفت معنا:

عفت په لغت کې: له ناوړه کارونو څخه د ځان ساتلو پر معنا دی.

په اصطلاح کې: له ټولو هغو شیانو او کارونو څخه چې حلال نه دي، ځان ساتلو او پرهېز ته عفت وايي.

عفت په خپله خاصه معنا سره له هغو شیانو څخه چې د پیغور لامل کېږي او ناروا وي، ځان ساتنه او مخ اړول دي او هغه په لاندې ډولونو سره دی:

### لومړی: له ناوړو کړنو څخه ځان ساتل:

الله تعالی موږ ته له بدیو او فحشاو څخه د ځان ساتلو، او محرماتو ته د نه کتلو امر کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (۳۰) وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ [النور: ۳۰، ۳۱]

ژباړه: اې پیغمبره! نارینه مؤمنانو ته ووایه چې خپل نظر تر کنټرول لاندې و ساتي او د خپلو شرمځایونو ساتنه وکړي، دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده، هغوی چې څه کوي الله پرې خبر دی، او ای پیغمبره! مؤمنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې تر کنټرول لاندې وساتي، او د خپلو شرمځایونو ساتنه وکړي او خپله ځان جوړونه او سینګار دې نه ښکاره کوي، پرته له هغه چې په خپله څرګند وي.

له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې له رسول الله ﷺ څخه مې واورېدل: (سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ.....وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ)[1].

ژباړه: اووه تنه دي چې الله تعالی دوی ته تر خپل سيوري لاندې ځای ورکوي، په هغه ورځ چې ده د رحمت له سيوري څخه پرته بل سيوری نشته... او هغه سړی دی چې د منصب او ښائست لرونکې ښځه يې زنا کولو ته وبولي خو دی ورته ووايي، زه له الله تعالی څخه وېرېږم.

## دويم: له دروېزې څخه ځان ساتل:

قرآن کريم د مسلمانانو هغه فقيران چې خپل فقر پټ ساتي او د خپل عفت په خاطر له خلکو څخه څه نه غواړي، ستايلي او فرمايلي يې دي: ﴿لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۲۷۳]

ژباړه: نو تر بل هر چا زيات مرسته او صدقه د هغو بې وزلو لپاره ده چې د الله په لار کې بند وي چې په ځمکه کې د تلو راتلو او کار کولو توان نلري، د هغوی د سوال نه کولو له امله بې خبره خلک گومان کوي چې دوی شتمن دي. ته دوی د څېرو د نښانو څخه پېژندلی شې هغوی داسې خلک نه دي چې چا ته کلک ودرېږي او څه وغواړي او چې تاسې څه مال لگوئ، بېشکه الله تعالی پرې عالم دی.

پورتنی مبارک آيت دا موضوع بيانوي، چې پر مسلمانانو له هغو خلکو سره مرسته کول واجب دی چې وږي وي او عزت يې دا اجازه نه ورکوي چې له خلکو څه وغواړي، تر څو هغوی له لوږې څخه خلاص شي او دا ډول فقيران په هره ټولنه او هر وخت کې موجود وي، نو پر موږ لازمه ده چې له دوی سره مرسته وکړو او په ظاهري بڼه يې و نه غولېږو. ځکه د ډېرو خلکو حال له نورو څخه پټ وي! له يوې خوا د دوی باعزته نفسونه دا اجازه نه ورکوي چې دروېزه وکړي او له بلې خوا حديث شريف موږ له سوال کولو څخه ځان ساتلو ته هڅولي يو، حضرت ابو هريرة رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ((غنا د مال په زياتوالي کې نه، بلکې غنا د نفس په بډاينه کې ده))[2].

---

۱- بخاري ومسلم

۲- بخاري

## د عفت آثار:

کله چې مسلمان سوال نه کوي، په خپل نفس کې د خوښۍ احساس کوي او د شتمنتوب لپاره ځان ذلت ته نه ورکوي، ځکه چې عفت ورته دا ښودلي چې ځان څرنګه د خلکو له شتمنیو څخه بې نیازه او له شهوتونو څخه ګوښه ساتلای شي؟ او څنګه یې نفس په کنترول کې وي؟ د غولوونکو شیانو پر وړاندې څنګه له زغم څخه کار واخلي؟

د رسول الله ﷺ د دعاګانو له جملې څخه دی چې فرمایل به یې: (اللَّهُمَّ إِنِّى أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى)[1].

ژباړه: یا الله زه له تا څخه هدایت، تقوی، عفت او غنا غواړم.

همدا رنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: (يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ منكم الْبَاءَةَ فَلْيتزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاء)[2].

ژباړه: ای ځوانانو! هر څوک چې له تاسو څخه د واده توان لري، نو واده دې وکړي، ځکه چې واده د سترګو په واک کې د ساتلو او پاکلمنۍ ښه وسیله ده او څوک چې د واده توان نه لري، نو روژه دې ونیسي، ځکه روژه د ده د شهوت پرې کوونکې ده.

## د عفت ډولونه:

عفت په دوه ډوله دی:

۱. له محرماتو څخه عفت.

۲. له ګناهونو څخه عفت.

له محرماتو څخه عفت په دوه ډوله دی:

۱. له حرامو څخه د شرم ځایونو پاک ساتل.

۲. د نورو له آبرو تویولو څخه د ژبې ساتل.

له ګناهونو څخه دځان ساتل هم په دوه ډوله دي:

۱. له ظلم کولو څخه ځان ساتل.

۲. له پټ خیانت څخه د ځان ساتل.

---

۱- مسلم

۲- متفق علیه

**ارزونه**:

۱. د عفت معنا بیان کړئ.

۲. دوه آیتونه او دوه حدیثونه ولیکئ چې عفت ته هڅونه کوي.

۳. په افرادو او ټولنو باندې د عفت اغېزې بیان کړئ.

٤. عفت په څو ډوله دی؟

۵. له درو‌ېزې څخه د عفت لپاره یو دلیل بیان کړئ.

۵. نامحرمو ته له کتلو څخه د عفت لپاره یو آیت ذکر کړئ.

کورنۍ دنده

د عفت او پاکلمنۍ په اړه یوه مقاله ولیکئ او هم د عفت ښې او د بدلمنۍ بدې پایلې روښانه کړئ.

# په ښو کارونو امر او له ناوړو کارونو څخه منعه کول

اسلام د یوې داسې ټولنې د رامنځ ته کولو لپاره چې وګړي یې د ښو کارونو په کولو کې یو له بل سره مرستندوی او له شر سره مقابله کوونکي اوسېږي، په نیکیو امر او له بدیو څخه منعه کول یې خپله کړنلاره ګرځولې او په لوړ یې هڅونه کوي.

د امر بالمعروف مراد څه دی؟ له منکر څخه د منعه کولو موخه څه ده؟ په دغه ځای کې د اسلام منهج اوتګلاره څه ده؟

## د امر بالمعروف معنا:

معروف په لغت کې: هغه څیز ته وایي چې بشري نفس پېژندلی او ورباندې ډاډه کېږي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ [سورت لقمان: ۱۵]

ژباړه: له دوی دواړو سره په دنیا کې په ښه ډول چلن کوه.

زجاج وایي: له معروف څخه دلته مراد ښه کارونه دي.

په اصطلاح کې: معروف د ټولو نیکو اقوالو او افعالو لپاره، همدارنګه د ټولو هغو څیزونو لپاره چې د طاعت او د الله تعالی دربار ته د نږدېوالي او په خلکو باندې احسان ګڼل کېږي او د هر هغه څه لپاره چې شریعت ورته بلنه کوي جامع او شامل نوم دی.

## له منکراتو څخه د منعه کولو معنا:

منکر په لغت کې د معروف ضد دی، یعنې ناپېژندل شوی، او په اصطلاح کې هر هغه شي ته ویل کېږي چې شریعت بدګڼلي وي او منعه یې ورڅخه کړې وي، لکه: خیانت، دروغ ویل، نورو خلکو ته زیان رسول، د خلکو پر حقونو او مالونو باندې تیری او داسې نور.

## په ښو کارونو د امر او له ناوړو کارونو څخه د منعه کولو حکم:

اسلام په ښو کارونو امر او له ناوړو کارونو څخه منعه پر خلکو واجب ګرځولې ده، لکه څرنګه

چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [آل عمران: ١٠٤]

ژباړه: تاسې مسلمانان باید هرو مرو داسې خلك شئ چې د نیکۍ لوري ته بلنه، په ښو امر او له بدو منعه وکړي، کوم خلك چې دا کار وکړي، هغوی به بریالي وي.

د الله تعالی لوري ته بلنه داسې یو عمل دی چې هر مسلمان یې د خپل دریځ او مقام په پرتله تر سره کوي، لکه: علماء خلکو ته شرعي احکام بیانوي او نصیحت ورته کوي.

پلرونه او میندې خپلو زامنو ته لارښوونه کوي او په همدې ډول د ټولنې هره طبقه په خپل وار سره دغه دنده پر مخ بیایي، په ټولو واجب دي چې په دې لار کې یو له بل سره مرسته وکړي، د دې دندې پرېښودل د الله تعالی د لعنت او له رحمت څخه یې د لرېوالي لامل کېږي. رسول الله ﷺ له منکر څخه منعه کول د هر سړي د توان په اندازه په هغوی واجب ګرځولي دي او فرمایلي یې دي: (مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ)[1].

ژباړه: چا چې له تاسو څخه ناوړه کار ولید، نو باید هغه د لاس په زور منعه کړي، که په لاس سره یې د منعې توان نه درلود، نو په ژبې سره دې هغه منعه کړي، که په ژبې سره یې هم د منعې توان نه درلود، نو په زړه کې باید هغه بد وګڼي، چې دا د ایمان تر ټولو کمزورې مرحله ده.

نو د مسلمان له شان سره مناسبه نه ده چې د منکراتو په وړاندې د بې تفاوتۍ دریځ خپل کړي، بلکې زیار دې وګالي او د خپل توان په اندازه دې اصلاح راولي او د منکراتو مخنیوی دې په عملي ډګر کې په لاس پیل کړي که یې وس و او د بل ستر منکر د پیښیدلو لامل نه کیده له دې څخه وروسته په ژبې سره د منکراتو منع کول دي چې دا کار په نصیحت او نیکې لارښوونې سره سرته رسېږي، بیا په زړه کې د منکر بد ګڼل دي، چې اثر یې د انسان په رنګ او حرکاتو کې ښکاره کېږي، تر ټولو ښکاره اغیز یې د منکراتو په غونډو کې نه ګډون او ورڅخه په څنګ کېدل دي.

## په ټولنه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اغیزې:

په نیکیو امر او د منکر مخنیوی، خلك په سمه او مستقیمه لار خوځوي. صلاح، فلاح او بریالیتوب ته یې رابولي، او آخرت ور په یادوي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ

---

١- مسلم

﴿الذِّكْرَى تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [الذاريات: ۵۵]

ژباړه: او نصیحت کوه، ځکه چې نصیحت مؤمنانو ته ګټه رسوي.

همدارنګه له منکراتو څخه منعه کول ټولنه د فساد په کنده کې له لوېدلو څخه ژغوري او هره ټولنه چې له دغه عمل څخه خپله اوږه خالي کړي، ګناه پکې عامېږي، ظلم او فساد پکې زیاتېږي، اختلاف او جنجالونه پکې دود کېږي چې په پای کې د ټولنې د سقوط او له منځه تللو لامل ګرځي.

د قرآن کریم په زیات شمیر آیاتونو او د نبي کریم ﷺ په ډېرو احادیثو کې د امر بالمعروف او له منکر څخه د نهي ارزښت بیان شوی دی.

هره ټولنه چې دغې سپېڅلې دندې ته وفاداره وي، هغه به تر ټولو غوره ټولنه وي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ [آل عمران: ۱۱۰]

ژباړه: تاسې هغه غوره ډله یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح له پاره منځ ته راوړل شوي یاست، تاسې په نیکۍ امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ.

هره ټولنه چې د دغسې مهمې دندې په ترسره کولو کې له غفلت څخه کار واخلي، د الله تعالی د لعنت وړ ګرځي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (۷۸) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾ [المائدة: ۷۸، ۷۹]

ژباړه: له بني اسرائیلو څخه چې کومو خلکو د کفر لاره غوره کړه. پر هغوی د داؤد او عیسی ابن مریم علیهم السلام په ژبه لعنت وویل شو، ځکه چې هغوی پرلپسې سرغړونه او له حده تېری کاوه او د ناوړو چارو له سرته رسولو څخه یو د بل منعه کول یې پرېښي وو، دا ډېر ناوړه کړه وو چې هغوی تر سره کول.

## د امر بالمعروف او له منکر څخه د نهي آداب:

هر څوک چې وغواړي په نیکیو امر او له بدیو منعه وکړي، باید لاندې خویونه په پام کې ولري:

نرمه او ښه کړنه: ځکه چې سختي د خلکو د کرکې او له نیکو کارونو څخه یې د لیرې کېدلو لامل ګرځي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ

﴿فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾ [آل عمران: ۱۵۹].

ژباړه: اې پیغمبره! د الله ﷻ په رحمت او مهربانۍ ته د دغو خلکو له پاره نرم خویه جوړ شوی او که ته تند خویه او سخت زړی وای، نو دوی به ستا له شاو خوا خواره شوي وو او دعوتگر ته نه ښايي چې خپل ځان له نورو خلکو څخه غوره وګڼي، یا د دوی احساسات جرحه او غوسه يې را وپاروي.

## حکمت:

دعوت کوونکی باید خلک په حکمت سره راوبولي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ [النحل: ۱۲۵].

ژباړه: ای پیغمبره ﷺ! د خپل رب لارې ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي.

داعي باید قدوه او بېلګه وي، هر هغه څه چې خلک ورته رابولي، پر خپل ځان يې عملي کړي، ځکه خلک په هغه سړي چې د عمل او وینا ترمنځ يې توپير وي باور نه کوي، الله تعالی دغسې سړی د خپلې غوسې مورد ګرځولی دی: ﴿كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾[الصف: ۳]

ژباړه: د الله پر وړاندې دا ډېر د غضب وړ حرکت دی چې تاسې هغه څه ووایئ چې پخپله يې نه کوئ.

## فعالیت

په لاندې نصوصو کې له ناوړو کارونو منعه، په ښو کارونو له امر څخه جلا کړئ:

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَا تَجْعَلُوا مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ إِنِّي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ مُبِينٌ﴾ [الذاريات: ۵۱]

ژباړه: او له الله سره کوم بل معبود مه نیسئ، زه ستاسې لپاره د هغه له پلوه ښکاره (څرګند) وېره درکوونکی یم.

پیغمبر ﷺ فرمايلي دي: یو له بل سره دښمني، حسد مه کوئ، اړیکې مه پرې کوئ، یو او بل ته شا مه اړوئ.

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ [آل عمران: ۱۰۲]

ژباړه: ای مؤمنانو! له الله نه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې له هغه نه د وېرېدو حق دی. تاسې مه

مره کېږئ، مگر په داسې حال کې چې مسلمانان یاستئ.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (له هغه چا سره صله رحمي کوه چې له تا سره صله رحمي پرې کوي او هغه چا ته ښښنه کوه چې پر تا ظلم کوي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُو﴾ [آل عمران: ۱۰۳]

ژباړه: ټول د الله رسی کلکه ونیسئ او تیت پرک مه کېږئ.

په يو بل آيت کې الله تعالي فرمايي: ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِين﴾ [البقرة: ۲۳۸]

ژباړه: د خپلو لمونځونو ساتنه وکړئ، په تېره بيا د منځنی (مازديگر) لمانځه او د الله تعالی پر وړاندې تابعدار او په عاجزۍ ودرېږئ.

## ارزونه:

۱. په ښو کارونو د امر درې بېلگې ذکر کړئ.
۲. له ناوړو او بدو کارونو څخه د منعې درې بېلگې ذکر کړئ.
۳. معروف په لغت او اصطلاح کې تعريف کړئ.
٤. منکر تعريف کړئ.
۵. پر ښو کارونو د امر او له ناوړه کارونو د منعې يو دليل له قرآن کريم څخه راوړئ.
٦. پر نيکو کارونو د امر او له ناوړو کارونو د منعې حکم څه دی؟ بيان يې کړئ.
۷. دغه آيت شريف توضيح کړئ ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴾ [آل عمران: ۱۱۰]
۸. پر ښو کارونو د امر او له ناوړو د نهي لپاره کوم آداب دي؟ روښانه يې کړئ.

### کورنۍ دنده

گرانو زده‌کوونکو! د امر بالمعروف او له منکر څخه د نهي ارزښت د يوې مقالې په ترڅ کې توضيح کړئ.

# هيله مندي

## هيله او اميد څه ته وايي؟

له مصيبت څخه د خلاصون انتظار ته هيله ويل کېږي. هيله انسان ته د ستونزو او تکليفونو پر مهال د زړه ډاډ، وسعت او پراخوالی وربښي، بري ته د رسېدو پر وړاندې يې هڅوي او د ستوماني له احساس څخه يې ژغوري.

## د انبياوو عليهم السلام اميدونه:

هيله او اميد د انبياوو عليهم السلام له خويونو څخه دی. همدغه هيلې او امېدونه وو، چې له ناهيلۍ پرته يې د الله تعالی په لور د خپلو قومونو دعوت ته له هغو ګردو کړکو، مخ اړونو او ناخوالو سره چې د قوم له لوري ورسره مخامخ وو، په راتلونکي کې د هدايت په هيله دوام ورکړ او په ډېرو بدو شرايطو او د مصيبت او ستونزو پر مهال هيله من پاتې شول او هيڅکله ناهيليو د دوی په زړونو کې ځای پيدا نه کړ.

د يوسف عليه السلام د فراق(جدايي) له امله يې پلار سخت غمجن او د سترګو ليد يې له لاسه ورکړی و، خو بيا هم يعقوب عليه السلام د الله تعالی فيصلو ته امېد درلود او د خپلو زامنو له پيداکېدلو څخه ناهيلی نه و، بلکې د الله تعالی دربار ته يې هيله نوره هم زياتېده، له خپلو نورو زامنو يې وغوښتل تر څو يې لټون ته له ناهيلۍ پرته دوام ورکړي، ورته يې وويل: ﴿يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾ [يوسف: ٨٧]

ژباړه: زما زامنو! لاړ شئ يوسف عليه السلام او د هغه ورور ولټوئ، د الله له رحمته ناهيلي مه اوسئ، د هغه له رحمت څخه نه نا هيلي کېږي، مګر کافران.

د الله تعالی د مرستې اميد او پرې باور لرل د الله تعالی د نبي (موسی) عليه السلام په دريځ چې د خپل قوم پر وړاندې يې نيولی و، په ښکاره ډول څرګندېږي. کله چې فرعون او لښکريانو يې موسی عليه السلام او د ده قوم تعقيب کړل، قوم يې دا ګومان وکړ چې ډېر ژر به فرعون دوی ونيسي، کله چې فرعون دوی ته نږدې را ورسېد، نو دوی ناهيلي احساس کړه او موسی عليه السلام ته يې وويل:

﴿ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴾ [الشعراء:٦١]

ژباړه: موږ خو ونیول شوو.

نو الله تعالی ده ته امر وکړ چې پر خپله لکړه بحر ووهه. په پای کې دریاب په دوو برخو وویشل شو، او موسی علیه السلام او قوم یې له دریاب څخه په امن او امان سره تېر شول، له دغې پېښې وروسته بیرته دریاب خپل پخواني حالت ته راغی، فرعون له خپل ټول لښکر سره په کې غرق شو او موسی علیه السلام له ملګرو سره نجات وموند.

## د رسول الله ﷺ امید:

نبي کریم ﷺ د خپل قوم په لارښوونه کې ډېر حریص و، آن تر دې چې خپلې موخې ته د رسېدلو په لار کې یوه ورځ هم ناهیلی نه شو. تل به یې خپل رب ته دعا کوله تر څو د ده قوم ته لارښوونه وکړي او سینې یې د اسلام د مبارک دین منلو ته پرانیزي.

طائف ته د نبي کریم ﷺ له ستونزمن سفر وروسته جبرئیل علیه السلام د غرونو له ملائکې سره یو ځای راغی، ورته یې وویل: یقیناً چې موږ الله تعالی تا ته رالیږلي یو، که غواړې امر وکړه چې دغه دواړه غرونه (اخشبین) یو له بل سره په دوی(اهل طائف) را یو ځای کړو، ولې نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: (امید دی چې الله تعالی یې له شاګانو څخه داسې خلک را وزېږوي چې یوازې د الله تعالی عبادت وکړي او څوک ورسره شریک نه کړي)[1].

رسول الله ﷺ د الله تعالی له مرستې پوره ډاډمن و، نو ځکه په سختو او ستونزمنو شرایطو کې ناهیلی نشو، آن تردې کله چې د ثور غار ته یې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره پناه ورووړه او مشرکین د دوی د تعقیب لپاره د غار تر خولې پورې ورسېدل، په دې وخت کې یې هم خپل ډاډ له لاسه ور نه کړ او ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته یې په پوره ډاډینه وویل: ﴿ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا ﴾ [التوبة: ٤٠]

ژباړه: مه خفه کېږه، الله تعالی له موږ سره دی.

## هیله او عمل:

الله تعالی او د هغه ښښني ته هیله تل د سړي له عمل سره یو ځای وي، نه له ټمبلی او بې ځایه غوښتنو سره. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [الکهف: ١١٠]

---

١- متفق علیه

ژباړه: نو څوک چې له خپل پروردګار سره د ليدلو هيله لري، هغه دې ښه عمل وکړي او په بنده ګۍ کې دې له خپل رب سره بل څوک شريک نه کړي.

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ [البقرة: ۲۱۸]

ژباړه: په پوره باور يقيناً کومو خلکو چې ايمان راوړئ او چا چې د خدای په لار کې خپل کور او وطن پرېښی او جهاد يې کړيدی، هغوی حق لري چې دخدای د رحمت هيله من وي او الله د هغوی ښنونکی او پر هغو د خپل رحمت پيرزو کوونکی دی.

## د اميد فضيلت:

اميد تل انسان د ستړيا له احساسولو پرته کار کولو ته هڅوي، که امېد نه وي، انسان د ژوند په پر مخ بېلولو له مصيبتونو او ستونزو سره يې په مقابلې کې پاتې راځي. که امېد نه وي، نا هيلي يې زړه نيسي او مرګ ته لېواله کېږي، نو له همدې امله ويل شوي چې: ناهيلي د ناکامی او مرېنې پر لور غځېدلې لاره ده، اميد او هيله د ژوند روښانه مشال دی.

ويل شوي دي: ناهيلي له ژوند او ژوند له ناهيلی سره نه شي يو ځای کېدای.

مسلمان د الله تعالی له رحمت څخه نه ناهيلی کېږي. ځکه همدا د الله تعالی ښښنې ته هيله ده چې بنده توبې او په نېغې لارې تللو ته اړباسي. الله تعالی د ده له رحمت څخه له ناهيلی، نا امېدی څخه منعه کړې او فرمايلي يې دي: ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ [الزمر: ۵۳]

ژباړه: (اې پيغمبره!) هغو بندګانو ته مې ووايه چې پر خپلو ځانونو يې تېری کړی، چې د الله له رحمت څخه مه ناهيلي کېږئ. په رښتيا الله تعالی ټولې ګناوې ښښي او هغه ښښونکی او مهربان دی.

هرکله چې يو مسلمان د کومې ګناه مرتکب شي، نو په بيړه توبه کوي. ټولې هيلي يې د الله تعالی تر ښښنې او توبه منلو پورې تړلې وي. امېد هغه قوت دی چې الله تعالی د بشر په زړونو کې اېښی دی، تر څو هغوی د ځمکې آبادۍ ته وهڅوي، او نبي کريمﷺ فرمايلي دي: (إِنْ قَامَتِ السَّاعَةُ وَفِي يَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَقُومَ حَتَّى يَغْرِسَهَا فَلْيَغْرِسْهَا)(۱).

ژباړه: که قيامت راورسېد او له تاسو څخه د کوم يوه په لاس کې د خرما نيالګی و، دا توان يې

---

۱- مسند احمد

درلود چې هغه نیالگی کښېنوي، نو هغه دې کښېنوي.

که چیرې هیلي او امېدونه نه وای، نو بشر به هغه پرمختگونه چې نن یې لاس ته راوړي دي، لاس ته نه وو راوړي، ځکه هر اختراع کوونکی ډېر ځله په لومړي ځل په خپلو پلانونو کې نه بریالی کېږي، بلکې د خپل پلان د بریالیتوب په لار کې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي. له همدې امله ویل شوي چې، هیلي د انسان غوښتنو ته وده ورکوي او ناهیلي یې له منځه وړي.

نو مسلمان باید د ژوند په هر اړخ کې په هیلو باندې ډېر حریص وي او هېڅکله ناهیلۍ ته غاړه کې نږدي.

**ارزونه:**

١. امید په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

٢. په خپل ژوند کې د امېد یو مثال بیان کړئ.

٣. د انبیاوو علیهم السلام په نزد امید څرنگه و؟

٤. د امید ارزښت بیان کړئ.

٥. هیله کول د انسان په ژوند کې څه ارزښت لري؟

٦. هیله له عمل سره څه اړیکې لري؟ بیان یې کړئ.

٧. د پیغمبر ﷺ د امېد یوه بیلگه بیان کړئ.

**کورنۍ دنده**

گرانو زده‌کوونکو!

د امید او ناهیلۍ تر عنوان لاندې یوه مقاله ولیکئ چې تر لسو کرښو لږه نه وي او لاندې مطالبو ته پکې اشاره شوې وي.

١. د نا امېدۍ گواښ.

٢. د نا امېدۍ اسباب.

٣. د هیله مندۍ لارې او چارې.